

زموږ د دښمنانو
تور تاریخ
او
شومې موخې
لیکوال او ژباړن: عبدالمالک "همت"
میوند خپرندویه ټولنه

بسم الله الرحمن الرحيم

الله أكبر

د کتاب نوم: زموږ د دښمنانو تور تاریخ او شومي موخې
د کتاب اصلي نوم:
اسم الکتاب بالعربیة:
لیکوال: عبدالمالک «همت»
ژباړن:
موضوع:
د چاپ شمیر: لومړی (دیجیتال)
د چاپ تاریخ: وری ۱۳۹۵ هـ ش - رجب ۱۴۳۷ هـ ق
سرچینه:

دا کتاب د عقیدې د کتابخانې سایت نه داونلود شوی دی.

**www.aqeedeh.com/pa**

برښنا لیک: **book@aqeedeh.com**

**د موحدینو ګروپ ویب پاڼو**

www.mowahedin.com
www.aqeedeh.com
www.videofarsi.com
www.islamtxt.com
www.zekr.tv
www.shabnam.cc
www.mowahed.com
www.sadaislam.com

په عقیدې سایت کې ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسایت د همغږۍ په معنا نه ده.

contact@mowahedin.com

زموږ

د دښمنانو

# تور تاریخ او شومې موخې

ليکوال او ژباړن : عبد المالک " همت "

خپرندوی : ميوند خپروندويه ټولنه

۱۳۸۷ل.

د دې کتاب ټول حقوق د خپروونکي سره خوندي دي.


د کتاب نوم :

**زموږ د دښمنانو**
**تور تاریخ او شومي موخي**

- لیکوال او ژباړن : ............................ عبدالمالک «همت»
- کمپوز او ډیزاین : ...................................... د لیکوال لخوا
- کمپیوټر سمبالوونکی : ............................ ننګیالی «همت»
- خپرندوی : ............... میوند خپرندویه ټولنه
- د چاپ کال : ..................... ۱۳۸۷ل. کال ( لومړی چاپ )
- د چاپ ځای : ......... ( د میوند د خپرندویې ټولني مطبعه، کابل )
- پته : د فارمسي ریاست تر څنګ، معارف مطبعې ته مخامخ ټیلفون: ۲۱۰۳۵۶۹
- ګرځنده ټلیفونونه: ............... ۰۷۰۰۲۸۴۹۵۴او۰۷۰۰۲۹۵۲۱۴
- بله پته : ........ کابل: صدارت څلور لارې ، سبا کتابخانه ، ټیلفون : ۲۲۰۰۴۵۵
- ګرځنده ټیلفون : ............۰۷۹۹ ۳۲۰۳۶۶ ، پسټ بکس : ۱۲۷۸
- پېښور : دهکي نعلبندي، قصه خواني بازا ، سبا کتابخانه ، ټیلفون: ۰۹۱۲۵۶۵۵۲۰
- ګرځنده ټیلفونونه : ............ ۳۰۰۵۹۴۶۳۲۹ـ۰۳۳۳۹۳۸۱۳۰۶۰
- پسټ بکس : ............................ U..P.O. BOX۷۹۵
- بریښنا لیک : ................... E – Mail : maiwand@asia.com
- د چاپ شمېر : ................................................ زر ټوکه
- د کتاب بیه : ...................................( ) افغانۍ

## قرآني مرغلري :

﴿ ٱلَّذِينَ يُبَلِّغُونَ رِسَـٰلَـٰتِ ٱللَّهِ وَيَخْشَوْنَهُۥ وَلَا يَخْشَوْنَ أَحَدًا إِلَّا ٱللَّهَ ۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبًا ﴿٣٩﴾ ﴾ [ الاحزاب : ٣٩]

**ژباړه** : ( دا د هغو کسانو لپاره د الله کړنلار ده ) چې د الله پیغامونه رسوي او له هغه څخه بېرېږي او له یوه خدایه پرته بل له هیچا څخه نه بېرېږي او د هري بېري او خطر په مقابل کي همدا الله کافي دی .

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَقُولُوا۟ قَوْلًا سَدِيدًا ﴿٧٠﴾ يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَـٰلَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿٧١﴾ ﴾ [ الاحزاب : ٧٠-٧١]

**ژباړه** : ای مومنانو ! له الله څخه وبېرېږئ او رشتیا خبري کوئ څو الله ستاسي چاري سمي کړي او ستاسي ګنهونه وبخښي . هر څوک چي د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي ، هغه لوی بری تر لاسه کړ .

**ډالۍ :**

هغـو تـه چـې ژمـوږ د دښـمنانو؛ یعني د امریکـایي او اروپـایي نـړۍ خـورو مادي پالو طاغوتي او صلیبي ځواکونو په شـومو او نـاولو موخـو او توطئـو یـې سـر خلاص دی او له اسلامي اُرشوګانو ځخه د دوی په وړاندي اتلواله ننګه کوي.

« همت »

# سرليکونه


| گڼه | سرليک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | الفاظ | ۱۳ |
| ۲ | سـريزه | ۱۵ |
| ۳ | لومړنۍ څرګندوني | ۱۹ |
| ۴ | اسلام او کفر او د اسلام سره د کفر د دښمنۍ لاملونه | ۲۷ |
| ۵ | صليبي جګړې ، د لوېديز ښکېلاک پيلامه | ۳۲ |
| ۶ | د صليبي جګړو په لار اچولو سره د اروپايانو جنايتونه | ۳۶ |
| ۷ | د حرمينو شريفينو او حاجيانو پر ضد د کفارو توطئې او مظالم | ۵۰ |
| ۸ | په اُندلُس کي د لوېديزيانو زړه بوږنوونکي ظلمونه | ۵۴ |
| ۹ | د امريکا څرګندېده او د اروپايانو لخوا د هغې د اصلي اوسېدونکو پوپنا کېده | ٦۵ |
| ۱۰ | امريکا ته تر ټولو دمخه مسلمانان ور غلي وه | ٦۵ |
| ۱۱ | کريستهف کولمب | ٦۸ |
| ۱۲ | امريکا څنګه وموندل سوه؟ | ۷۰ |
| ۱۳ | د افريقا ښکېلول | ۸۴ |
| ۱۴ | د انګرېزانو او نورو د ترهګريو پېر | ۹۱ |
| ۱۵ | پر اسلامي هيوادونو باندي د امريکا د يرغلونو پيل | ۹۳ |
| ۱٦ | لوېديزيان نورو ته د انسانانو په سترګه نه ګوري | ۱۰۲ |
| ۱۷ | د آزادۍ مجسمه که د ښکېلاک او نړيوالي ترهګرۍ سمبول؟ | ۱۰۵ |
| ۱۸ | د نړيوال سلطنت نوی لېونتوب | ۱۰٦ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۹ | د امریکا اصلي مقصد څه دی؟ | ۱۱۷ |
| ۲۰ | د بش ښکېلاکي ډکټورین | ۱۲۱ |
| ۲۱ | هم به ظلم وي او هم به امنیت وي ؟ | ۱۲۷ |
| ۲۲ | امریکا ټوله نړۍ د ستر خطر سره مخامخ کړې ده | ۱۳۲ |
| ۳۲ | امریکا نوره دغسي مغروره نه سي پاته کېدلای | ۱۴۶ |
| ۲۴ | د امریکا د زوال نخښې | ۱۴۹ |
| ۲۵ | اروپایي هیوادونه غواړي چي امریکا کمزورې ووینې | ۱۵۷ |
| ۲۶ | د ډالر او یورو جګړه | ۱۶۰ |
| ۲۷ | لوی څښتن پټېیلې ده چي امریکا هم په افغانانو له پار کاله واچوي | ۱۶۳ |
| ۲۸ | د ښکېلاکي داړه مارانو لخوا نیول سوي ځایونه | ۱۶۶ |
| ۲۹ | په سمندرونو کي د برتانیې مستعمرې | ۱۶۸ |
| ۳۰ | په سمندرونو کي د امریکا مستعمرې | ۱۷۳ |
| ۳۱ | د امریکا لخوا رانیول سوي ایالتونه | ۱۷۶ |
| ۳۲ | فرانسوي مستعمرې | ۱۷۷ |
| ۳۳ | نوري مستعمرې | ۱۸۱ |
| ۳۴ | (۴۴) کاله وروسته په الجزایر کي د فرانسې د اټومي ازموینو خطرناکي اغېزي | ۱۸۴ |
| ۳۵ | د ګوانټانامو بې لنډه تاریخ | ۱۹۰ |
| ۳۶ | په نړۍ کي د امریکا پوځي اډې | ۱۹۳ |
| ۳۷ | پینټاګون | ۱۹۵ |
| ۳۸ | سي آی ای او اف بي آی | ۱۹۹ |
| ۳۹ | د تریاکو اصلي دودوونکي او سوداګر څوک دي؟ | ۲۰۴ |
| ۴۰ | جي سیون او جي ایټ | ۲۱۴ |
| ۴۱ | د ملګرو ملتونو ماهیت | ۲۱۷ |
| ۴۲ | ناټو ( د شمالي اټلانټیک د تړون سازمان ) | ۲۲۳ |
| ۴۳ | سیکولریزم، موخي او اهداف | ۲۲۶ |

| | | |
|---|---|---|
| ۴۴ | نړيوال تجارتي سازمانونه | ۲۳۴ |
| ۴۵ | د پيسو نړيوال صندخ (نړيوال وجهي صندوق) | ۲۳۴ |
| ۴۶ | نړيوال بانک | ۲۳٦ |
| ۴۷ | د تعرفې او تجارت عمومي ژمنليک | ۲۳۸ |
| ۴۸ | د اقتصادي همکاريو او پرمختيا سازمان | ۲۳۹ |
| ۴۹ | د نړۍ اقتصادي جرګه :(World Economic Forum) | ۲۴۱ |
| ۵۰ | آسيايي پرمختيايي بانک | ۲۴۲ |
| ۵۱ | د نړۍ د تجارت سازمان World Trade Orgnisation - WTO | ۲۴۳ |
| ۵۲ | د انجوګانو بشکلي نومونه، کرغېړني موخي | ۲۴۷ |
| ۵۳ | آ يا پوهېږئ چي طالبانو کوريايي اتباع پر څه شي نيولي وه؟ | ۲٦۰ |
| ۵۴ | پاکستان څنګه د امريکې مريي سو ؟ | ۲٦۴ |
| ۵۵ | د پاکستان سياسي ګوندونه او امريکا | ۲٦٦ |
| ۵٦ | د پاکستان د اسلامي هيواد دغه بد حالت بدلون ته اړتيا لري | ۲۷۰ |
| ۵۷ | امريکا په افغانستان کي د څه لپاره جنګيږي ؟ | ۲۷٦ |
| ۵۸ | فرهنګي تصادم، تېل او د کفري نړۍ سره ډغري وهونکی ځواک | ۲۸٦ |
| ۵۹ | موږ او ښکېلاکګران | ۲۹۳ |
| ٦۰ | د افغانستان د خلکو دښمنان | ۲۹۵ |
| ٦۱ | د امريکا دوستي په باور نه ده | ۲۹۷ |
| ٦۲ | د کفارو سره همکاري اودوستي نه ده روا | ۳۰۳ |
| ٦۳ | اخيستليک | ۳۲۲ |

# الفاظ

د هغه لیکوال الفاظ او خبري تر ټولو ښکلي دي چې زړه او اروا یې د وطن په درد دردمن وي . تر ټولو ښکلې لیکنه هغه ده چې حق او رشتیا خبري پکښې سوي وي ، هغه لیکنه چې د ظلم ، بې عدالتۍ او مریيتوب پر ضد وي .

پټه خوله اوسېدل ښه کار دی ، خو د یوه لیکوال پټه خوله اوسېدل هیڅکله ښه کار نه ګڼل کیږي. د ده خبري زیات ارزښت لري . لیکوال ته ښایي چې خاموشي ماته کړي ، که نه هیله او حق به ووژل سي . ډېر لیکوال چې پټه خوله پاته سوي دي رشتیا یې وژلې ، ماته یې منلې او دغه عمل یې د ظالم د پلوۍ مترادف دی.

د لیکوالو دنده ده چې د مجاهدینو او پاڅون کوونکو مل او ملګری سي ، په قلم جهاد وکړي ، نهیلیو ته ماته ورکړي او د حق لار روښانه کړي .

د رشتیا لیکونکو اتلانو خبري له یوې خوا د بې ضمیرو ضمیرونه ویښوي او له بله پلوه پر ظالم او دښمن مرګونی ګوزار کوي . د ده خبري چارواکي اړباسي چې خپلي ناوړي کړني سمي کړي او حق ته غاړه کښېږدي.

په تېرو مهالونو کي سترو سترو فرهنګونو او فلسفو ته یوازي الفاظو ماته ورکړې ده . له الفاظو څخه زرګونه ستوري زیږي . رشتیا خبري دروغجن واکمن له تخت او تاجه بې برخي کوي .

د حق څرګندونه نه یوازي په ټولنه کي مثبت بدلون راولي ، بلکي د مظلومانو پر ټپونو د پټیو ایښوولو دنده هم تر سره کوي. دحق څرګندول د ظلم په تورو شپو کي د نور څلي باله سي ، د جبر په زندانونو کي د پرتو وګړو زنځیرونه ماتوي ، په مځکه کي د میني او یووالي تخم کري او لارښوونکو ته د وګړو د زړونو په لاس راوړلو لاري چاري ښیي .

له دې امله د لیکوال پټه خوله کېدل هیڅ نه ښایي .

# سریزه

حامداً و مصلیاً و مسلماً و بعد :

یو خو د غلیمانو او د هغو د مزدورانو او ګوډاګیانو غولوونکي تبلیغات او ډنډورې دي چي ځیني ناپوهان یا د ځینو ظالمو عناصرو له نادودو او ناوړو کړنو څخه تنګ سوي او زوربدلي وګړي په تېروزي او بل حقیقت دی. حقیقت دادی چي له تېرو پنځو پېړیو څخه لوېديځو ښکېلاکګرو او امریکایي نړۍ خورو ځواکونو دګردي نړۍ امن او امان او د انساني آزادۍ بنسټیز ارزښتونه ګډوډ کړي دي. د اروپا سپین پوستکي له خپلي محدودي اُرشو څخه راووتل، د نړۍ په ختیځ او لوېديځ کي یې د لوټ او تاړاک داسي یوه ناوړه لړۍ پیل کړه چي د انسان اروا ته یې نه جبیره کېدونکي تاوانونه واړول او د هغه جسم یې داسي ټپي ټپي کړ چي درملنه یې ډېره ستونزمنه ښکاري.

دې لړۍ انساني تاریخ د ډېرو بدو ظلمونو او د ولسونو د تو کمونو د له منځه وړلو له ډېرو ناوړو پېښو څخه ډک کړ.

د دغو سرابنو او ځناور صفتو ساکښانو پر ضد په هر ځای کي د آزادۍ غورځنګونه څپڅپاند سول او بالاخره په نړۍ کي ډېر ولسونه او هیوادونه د قربانیو تر اوږدو دورو تېرولو وروسته یو په بل پسې د آزادۍ له نعمت څخه برخمن سول. شلمه پېړۍ د آزادۍ پېړۍ وبلل سوه او په دې پېر کي هره خوا د انساني حقونو او خپلواکۍ بېغونه پورته سول.

پانګوال او ښکېلاکګر ځواکونه په نړیوالو چارو کي دوني شریر، مداخله ګر او بې رحمه څرګند سول چي که یې څه هم په ظاهره ولسونو ته آزادي ورکړه، خو د پردې تر شا یې په یو ډول نه یو ډول خپلي شیطاني او په وینو

لړلي منګولي د انسانيت په ټټر ښخي کړې. چي په پايله کـي د آزادۍ چيغـو او د ملګرو ملتونو د انساني حقوقو منـشور تـه تـر ټوکـو مـسخرو څـه زيـات حيثيت پاته نه سو.

دا يو څرګند حقيقت دی چي له لويه سـره د درېيمـي نـړۍ نـژدې ټـول خپلواک هيوادونه په رښتينې توګه آزاد نه دي. خو دا عمـومي انـد چـي پـه ټوليزه توګه د پرمخ تللي نړۍ آزاد هيوادونه او ولسونه اوس په رشـتينې توګـه آزاد او خپلواک دي هم د حقيقت سره سر نه خوري. له بده مرغـه پـه نـړۍ کي د پوهي له نعمت څخه ډېر برخمن وګړي هم لـه دې حقـايقو څخـه بـې خبره دي چي نړۍ يوې کوچنۍ مافيايي ډلي په خپله ولکه کي راوسـتې ده. ظالم شرمښ په داسي حال کي د امن ربۍ پورته کړی چي خوله او منګولي يې د ناحقو وينو تويولوشاهدي ورکوي.

اوس لکه چي موږ ټول پوهيږو د پانګوالۍ تنستې هر لور ته، لـه کوچنيـو ملکونو څخه نيولې د نړۍ تر سطحي پوري غوړېدلي دي. امريکـا داسـي يـو مغروره او نوی ښکېلاکي هيواد دی چي په ظلم او تېريو کي تر ټولو پخوانيـو نيواکي ځواکونو وړاندي سوی دی او د واکمنو پر مغـزو يـې پـر ټولـه نـړۍ باندي د واک چلولو پېرانان کښېنستلي دي.

د دې لپاره چي د امريکا او نورو ښـکېلاکي هيوادونـو لـه تـورو سـوابقو او شـومو موخـو څخـه پـرده څـه پورتـه سـوې وي؛ زمـوږ درانـه هيـواد وال د دغو ځواکونو د تېر تاريخ او شومو موخو په هکله څه ناڅه معلومـات تـر لاسـه کړي، د دغو يرغلګرو او د هغو د لاسپوڅو د غولونو تر اغيزي لاندي رانه سـي او د څو ډالرو او نورو حقيرو امتيازونو په بدل کي د خدای ﷻ، ولس او خپلـي خوږې اسلامي خاوري په وړاندي پر دې او هغه دنيا له مسؤوليته وژغورل سي او په دې هکله زموږ غاړي خلاصي وي، په دغه کتاب کي مو د ځينو موثقو حقايقو او معلوماتو په راغونډولو او ليکلوګوتي پوري کړې. البته په دې ټولګه کـي څـه مقالې موږ پخپله ليکلي دي او څه مو هم له ځينو نورو کتـابونو او مجلـو څخـه ژباړلي دي. د معلوماتو په هکله په ډاډ سره وايو چـي ټـول رشـتيني او انکـار نـه

منونکي دي او ټول د معتبرو منابعو او ماخذونو څخه اخيستل سوي دي.

زموږ په اند د مسلمانانو سره هغه پيغام او روح موجود دی چي د هغو په مټ د امريکې او نورو کفارو د يرغلونو په وړاندي ودريږي. موږ نهيلي او مايوسه نه يو. موږ باور لرو چي اسلامي امت او په ځانګړې توګه افغان ولس به چي اوس د دغو داړه مارانو سره سخت لاس او ګريوان دی، له دې ازمويني څخه هرومرو سرلوړی او بريالی راوزي. لوی څښتن جَلَّ جَلَالُهُ په خپله ژمنه کړې ده چي زموږ قرآن، اسلام، اسلامي امت، اسلامي اُرشوګاني او ټول اسلامي شؤون تر قيامته پوري په خپل کامله قدرت ساتي. د انساني ښکېنو دا سپېڅلې مجموعه نه د کفارو او د مهال د طاغوتيانو او فرعونانو په توطئو او چلونو له منځه ځي او نه به د دوی په مخنيوي سره د اسلام د بريالي يون او پرمختګ مخه ونيول سي. صرف د کفارو او د دوی د نوکرانو د دې غولوونکو تبليغاتو، مکرونو، تيرېو او ظلمونو په وړاندي د مقاومت په موخه او د اسلام د لا زيات خپرېدو لپاره زموږ د اتلو مبارزينو او پوهانو هلي ځلي او د غازي د فرض ادايني د دغي ساتني او د کفارو د نعمت د کفران، لويي غوښتنو او غرور په سبب د هغو د دغه ښه حالت د بدلون او بالاخره د هغو د يو مخ پوپناکېدو ظاهري اسباب دی.

این زمین دیده بسی شدادها | اهرمن ها، دیوها، شیادها
عاقبت گردیده حق پیروزمند | رایت عدل خدا گشته بلند
پرچم ظالم فتاده سرنگون | کرده کاخش رانگون طوفان خون

په هره شپه پسي سبا هرومرو راځي. موږ هيله من يو چي ګران لوستونکي به له دې کتاب څخه بشپړه استفاده وکړي او د علم او پوهي څښتنان به پر موږ باندي خپل ارزښتناک نظريات ولوروي. وَمَا تَوْفِيْقِيْ اِلاَّ بِاللهِ.

عبدالمالک "همت"، همت ټاټوبی،
پير محمد کاکړ واټ، دريمه ناحيه، کندهار.

د ۱۳۸٦ل. کال د مرغومي د مياشتي دېرشمه.
د۱۴۲۹س. کال د حسن حسين يوولسمه.

# لومړنۍ څرګندوني

**د ظلم په هکله :**

ظلم د انساني او اخلاقي فضايلو ضد يوه ډېره بده رذيله ده، ظلم چې هرڅوک کوي؛ د ځان په ګټه يې کوي که د پردو په ګټه، په هر دين او هر مسلك ناروا او غندلی عمل دی. ظالم پای د ډېر بد برخليك سره مخامخ کيږي. د ظالم په هکله د لوی څښتن وعيد دی:

﴿وَسَيَعۡلَمُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ أَيَّ مُنقَلَبٖ يَنقَلِبُونَ ٢٢٧﴾[الشعراء :٢٢٧]

**ژباړه : څوک چې ظلم کوي ژر به پوه سي چې د څنګه ناوړه برخليک سره مخامخ کيږي .**

بل ځای فرمايي :

﴿ مَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ حَمِيمٖ وَلَا شَفِيعٖ يُطَاعُ ١٨ ﴾ [المؤمنون :١٨]

**ژباړه : ظالمان به نه کوم خواخوږی دوست لري او نه به کوم سپارښتګر لري چې خبره يې ومنل سي . لوی څښتن ان د ستر ګو په خيانت او په هغو رازونو چې په سينو کي پټ دي (ښه )پوهيږي .**

حضرت رسول اکرم ﷺ فرمايي :«اتقوا الظلم، فان الظلم ظلمات يوم القيامة ». صحيح مسلم ۶۴۷۱/ ۲۵۷۸ حديث.

**ژباړه : له ظلمه ډډه وکړئ ! ځکه ظلم د قيامت په ورځ د تيارو ( سختيو او عذابونو) لامل دی .**

**پر ځان باندي ظلم منل :**

پر ځان باندي ظلم منل ( انظلام ) هم د اخلاقي فضايلو ضد رذيله او د بې همتۍ لويه نخښه ده. موږ ټول بايد پوه سو چې د نړۍ کفري طاغوتي مادي

پال ځواکونه او د اسلام دښمنان څه کوي؛ د نړۍ پر مسلمانانو څه تېرېږي؛ زموږ په ګران هیواد کې څه پېښه ده. په دغسې حالت کې زموږ دنده څـه ده او څه باید وکړو.

ستاسي پام په دې هکله د لوی څښتن دې څرګندو لارښوونو ته را اړوم:

﴿ وَقَـٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يُقَـٰتِلُونَكُمۡ وَلَا تَعۡتَدُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ﴿١٩٠﴾ وَٱقۡتُلُوهُمۡ حَيۡثُ ثَقِفۡتُمُوهُمۡ وَأَخۡرِجُوهُم مِّنۡ حَيۡثُ أَخۡرَجُوكُمۡۚ وَٱلۡفِتۡنَةُ أَشَدُّ مِنَ ٱلۡقَتۡلِ ﴾ [البقره: ۱۹۰ - ۱۹۱]

**ژباړه: ځوک چې تاسي وژني او درسره جنګېږي تاسي هغوی د خدای په لار کې ووژنې او ورسره وجنګېږئ. خو تېری مه کوئ، ځکه چې الله تېری کوونکي نه خوښوي. د دغسې کسانو سره چې هر ځای مخامخ سولاست ورسره وجنګېږئ. له کومه ځایه چې هغو ایستلي یاست تاسي یې بیر ته له هغه ځایه وباسئ. که وژل هرڅونه بد کار دی، خو فتنه (کفر، شرک او د اسلامي خاوري نیول او فرهنګي ښکېلاک) ترهغه ډېره بده ده.**

وروسته فرمایي:

﴿ وَقَـٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ لِلَّهِۖ فَإِنِ ٱنتَهَوۡاْ فَلَا عُدۡوَٰنَ إِلَّا عَلَى ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿١٩٣﴾ ﴾ [البقره: ۱۹۳]

**ژباړه: تاسي د هغو سره تر هغه مهاله وجنګېږئ چې فتنه له منځه ځي او دین د الله لپاره سي. بیا که دوی له جګړې لاس واخیست (تاسي هم له جنګه لاس واخلئ). او پوه سئ چې له ظالمانو پرته بل چا ته لاس غځول روا نه دي.**

وروسته فرمایي:

﴿ فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ عَلَيۡكُمۡ فَٱعۡتَدُواْ عَلَيۡهِ بِمِثۡلِ مَا ٱعۡتَدَىٰ عَلَيۡكُمۡۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿١٩٤﴾ وَأَنفِقُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا تُلۡقُواْ بِأَيۡدِيكُمۡ

إِلَى ٱلتَّهۡلُكَةِ ۛ وَأَحۡسِنُوٓاْ ۛ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٩٥﴾ ﴾ [البقره:۱۹۴ ـ ۱۹۵]

**ژباړه : که څوک پر تاسي تېری وکړي تاسي هم په هماغه ډول تېری پر وکړئ . البته له الله څخه په بېره کي اوسئ او پوه سئ چي الله د پرهېزګارانو ملګری دی . د الله په لار کي ( شته ) ولګوئ او په خپلو لاسونو خپل ځانونه هلاکت ته مه ور کوئ . او احسان وکړئ چي الله احسان کوونکي خوښوي .**

**څرګندونه :**

د لوی ښتن په لار کي له انفاق او ښندني څخه موخه د اسلام د سپېڅلي دين د پياوړتيا لپاره مالي قرباني ده. د آيت مطلب دادی چي که تاسي د لوی څښتن د دين د لوړولو لپاره خپل شته ونه لګوئ او خپلي ګېټي غوره وګڼۍ نو دا به ستاسي لپاره په دنيا کي هم د هلاکت موجب وي او په آخرت کي هم. په دنيا کي به د کفارو تر لاس لاندي خوار وزار اوسئ او په آخرت کي به د سختي محاسبې سره مخامخ سئ. لکه چي لوی ښتن په دې هکله د قرآن کريم د التوبه په سوره کي په داسي څرګندو الفاظو فرمايي:

﴿وَٱلَّذِينَ يَكۡنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلۡفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ﴿٣٤﴾ ﴾ [ التوبه : ۳۴]

**ژباړه : او هغو کسانو ته چي سره او سپين زر زېرمه کوي او د خدای په لار کي يې نه لګوي ، د دردناک عذاب خبر ورکړه.**

همداراز رسول ﷺ فرمايي :« لاتكونوا إِمَّعَةً تقولون إنْ أحسن الناس احسنا و إنْ ظلموا ظلمنا، ولكن وطنوا أنفسكم : إنْ أحسن الناس أن تُحسنوا و إنْ أساءُو فلا تظلموا ». سنن الترمذي ۲۰۰۷/ ۲ حديث.

**ژباړه : په ناسمو چارو کي د خلکو د رايو مه تابع کيږئ (چي هر چا ته واياست چي موږ ستا سره يو او خپله ثابته رايه ونه لرئ او خپل دين د نورو د دينونو، اخلاقو او فاسدو غوښتنو تابع وګرځوئ) او ووياست که خلک زموږ سره ښه کوي موږ به هم ښه ور سره کوو او که خلک**

**ظلم راباندي کوي موږ به هم ظلم ورسره کوو . خو تاسي ته ښايي چي ټينګ عزم او هوډ ولرئ چي که خلک نيکي در سره کوي تاسي هم نيکي ورسره وکړئ او که بد درسره وکړي ظلم مه پر کوئ ، يعني تاسي يې په وړاندي تر حد تېرى مه کوئ او لکه څنګه چي مشروع وي هماغسي د اعتدال په کچه کړنه ورسره وکړئ .**

د کفارو او منافقينو او د دين او وطن د دښمنانو سره د جهاد او سخت اسلامي برخورد پر ځاى د هغو د دوستۍ، مرستي او ارتباطاتو د نامشروعيت په هکله د دې کتاب ورستۍ برخي ته مراجعه وکړئ.

**د لوى څښتن په معصيت کي د مخلوق طاعت نشته :**

په پردو يرغلګرو کفارو بې ګناه افغانان پرله پسې په ډله ييزه توګه وژل، بندي کول او بې عزته کول. د اسلامي هيواد خپلواکي او ملي حاکميت د اغيارو په واک کي ورکول. په ملک کي ډول ډول فسادونه خپرول او داسي نوري ډېري نادودي په هغو معصيتونو کي راځي چي حضرت رسول ﷺ يې په هکله فرمايي :« لا طاعة في معصية إنَّما الطاعة في المعروف».
متفق عليه. مشکوٰة ۳۶۶۵حديث.

**ژباړه : د معصيت په چارو کي اطاعت او فرمان وړل جواز نه لري . اطاعت په هغو کي دى چي اسلامي شريعت بد نه وي ګڼلي .**

**پر ناوړو چارو مرسته کول:**

پر ناوړو چارو مرسته کول په هر اسم او رسم چي وي د لوى څښتن له دې امره څرګند مخالفت دى:

﴿وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡبِرِّ وَٱلتَّقۡوَىٰۖ وَلَا تَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ۝٢﴾ [المائده :۲]

**ژباړه : پر نېکي او پرهېزګاري يو له بله مرسته کوئ او په ګناه او ظلم او تېري کي مرسته او ملاتړ مه کوئ . له الله څخه وبېرېږئ . بېشکه چي الله د سختي سزا ورکوونکى دى .**

**ناوړو چارو ته بايد بدلون ورکول سي:**

د امر بالمعروف او نهي عن المنکر او ناوړو چاروته د بـدلون ورکولـو پـه هکله لوی څښتن فرمايي :

﴿كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ﴾ [ آل عمران : ۱۱۰]

**ژبـاړه : اوس پـه نـړۍ کـې هغـه غـوره ډلـه تاسـې ياسـت چـې د خلکـو د لارښـووني او د هغـو د چـارو د سـمون لپـاره منځتـه راوړل سـوې ده. تاسې پر نېکو امر کوئ او له بدو خبرو او چارو څخه منع کوئ او پر الله باندې ايمان لرئ.**

په دې هکله رسول ﷺ فرمايي: «مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَراً فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَـــدِهِ، فَـــإِن لم يَستطيع فبلسانه، فَـــإِن لم يَستطيع فبقلبه، وذٰلك اضعف الايمان ». مسلم ۲۱ حديث.

**ژباړه : څوک چې له تاسې څخه کومه ناوړه چاره ووينې د مُتَه په زور دې له منځه وړي. کـه يې دانـه سولای کولای پـه ژبـه، تبليغ، نصيحت او غندلو دې له منځه وړي. او که يې دا هم نه سولای کولای په زړه کې دې بـد ځنـې وړي او دا د ايمـان لـه ډېـرو ضـعيفو ثمـرو او د هغـه د افعـالو لـه مقتضياتو څخه ده.**

**ناوړو چاروته د بدلون نه ورکولو له امله د عذاب وعيد :**

لوی څښتن فرمايي :

﴿لُعِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُۥدَ وَعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ ۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا۟ وَّكَانُوا۟ يَعْتَدُونَ ﴿٧٨﴾ كَانُوا۟ لَا يَتَنَاهَوْنَ عَن مُّنكَرٍ فَعَلُوهُ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟ يَفْعَلُونَ ﴿٧٩﴾ تَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۚ لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنفُسُهُمْ أَن سَخِطَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ وَفِى ٱلْعَذَابِ هُمْ خَٰلِدُونَ ﴿٨٠﴾﴾ [ المائده : ۷۸ ـ ۸۰]

**ژباړه : له بني اسرايلو څخه چي کومو خلکو د کفر لار غوره کړه، پر هغو باندي د داود او عيسیٰ ابن مريم په ژبه لعنت وويل سو. ځکه چي هغوی نافرمانۍ کولې او تر حد يې تېری کړی وو. هغو د بدو چارو له سر ته رسولو څخه يو د بل منع کول پرې ايښي وه. ناوړه کړنلار يې غوره کړې وه. نن ته له هغو څخه زياتره داسي خلک وينې چي د مومنانو په مقابله کي د کفارو ملاتړ او ملګرتيا کوي. څه چي هغو د ځانو لپاره وړاندي لېږلي دي، هغه ډېر بد دي. الله له هغو څخه ناراضه دی او تل به په عذاب اخته وي.**

دغه راز له حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه څخه روايت دی چي هغه وفرمايل: ای خلکو تاسي لولئ چي: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ عَلَيۡكُمۡ أَنفُسَكُمۡۖ لَا يَضُرُّكُم مَّن ضَلَّ إِذَا ٱهۡتَدَيۡتُمۡۚ إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ١٠٥﴾ [ المائده :۱۰۵ ]

**ژباړه :ای مومنانو! د ځان فکر وکړئ، که تاسي پخپله پر سمه لار ياست نو که بل څوک بې لاری وي له هغه څخه تاسي ته څه زيان نه رسيږي. تاسي ټول الله ته ور ګرځئ. بيا به هغه در وښيي چي تاسي څه کول.** (يعني تاسي دغه آيت لولئ او هغه پر عموم او اطلاق حمل کوئ او داسي ګڼئ چي له هغه څخه په معروف د امر او له منکرو د منعي وجوب نه څرګنديږي). خو ما له رسولَ الله ﷺ څخه اورېدلي دي چي ويل يې: « إنَّ الناس إذا رأوُا الظالم فلم ياخذوا علىٰ يديه أوشك أن يُعَمَّهُمُ الله بِعقاب منه ».

**ژباړه : کله چي خلک څوک ووينې چي ظلم کوي او لاس يې ونه نيسي ، نژدې ده چي لوی څښتن دوی ټول په خپل عذاب اخته کړي .**

**سياسي فساد ناوړه چاره ده او سمون يې شرعاً واجب دی :**

پر اسلامي هيواد باندي د پردو کفارو واک، د هغو لخوا د بې ګناه مسلمانانو وژل، تپي کول، نيول، بندي کول او زورول. د کفارو په خوښه د مسلمانانو دولتي چارو ته د نا اهلو کسانو ټاکل، د عامه شتمنيو اختلاس، کفارو او د کفارو

ګوډاګیانو ته غوړمالي دا ټول سیاسي او ټولنیز منکرات دي او د تغیر او بدلون په موخه یې قیام او را پاڅېدنه په کار ده. د دې وو په هکله پټه خوله اوسېدل یا د دوې وو پر ضد مبارزه نه کول او د بېرې یا د ځان ساتلو په موخه ګوښه ځنې اوسېدل د اسلام د روح سره سمون نه خوري. که ځینې کسان د دغسې ناوړو چارو پر ضد هڅې کوي باید چې نور یې ملاتړ وکړي. د دغسې سترو ناوړو چارو او د کفارو او د هغو د لاسپوڅو پر ضد مبارزه په څو کسو نه کیږي. مسلمانان باید دغسې څو کسه یوازې پرې نه ږدي، بلکې د هغو په ننګه باید ډلې جوړې کړي او په ډله ییزه توګه د دغسې نادودو پر ضد را پاڅېږي.

## د اسلام د ننګې په کار کې بېره نه ده په کار :

لوی څښتن فرمايي :

﴿ ٱلَّذِينَ يُبَلِّغُونَ رِسَٰلَٰتِ ٱللَّهِ وَيَخۡشَوۡنَهُۥ وَلَا يَخۡشَوۡنَ أَحَدًا إِلَّا ٱللَّهَۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبٗا ﴿٣٩﴾ ﴾ [ الاحزاب : ۳۹]

**ژباړه : ( دا د هغو کسانو لپاره د الله کړنلار ده) چې د الله پیغامونه رسوي او له هغه څخه بېرېږي او له یوه خدایه پرته بل له هیچا څخه نه بېرېږي او د هرې بېرې او خطر په مقابل کې همدا الله کافي دی .**

## ډېر غوره جهاد :.

رسول ﷺ فرمایلي دي : « أفْضَلُ الجهادِ من قال كلمة حقٍّ عندَ سلطانٍ جائرٍ ». مشكوٰة ۳۷۰۵حدیث، ترمذي ۲۱۷۴ حدیث، ابوداود ۴۳۴۴حدیث، نسائي ۴۲۱۴ حدیث، ابن ماجه ۴۰۱۱ حدیث.

**ژباړه : ډېر غوره او افضل او ستر جهاد هغه دی چې سړی د ظالم واکمن په مخ کې سپینه وینا وکړي ( حق او رشتیا خبره ووايي).**

حضرت ملا علي قاري رحمه الله د مرقاة المفاتیح په ۷/ ۲۸۱ مخ کې د دغه حدیث په شرح کې د خطابي رحمه الله خبر داسې نقلوي :" د حق کلمه او سپینه خبر ځکه غوره ( افضل ) جهاد بلل سوی دی چې څوک د دښمن سره جهاد کوي هغه د خوف او رجاء ( بېرې او هیلې ) تر منځ متردد وي او

نه پوهيږي چي دی به پر دښمن غالب سي او که به دښمن پر ده غالب سي ؟ خو څوک چي د ظالم واکمن په وړاندي د حق خبره کوي، دغسي سړی د هغه په واک کي وي. نو دی چي حق ووايي او واکمن ته امـر بـالمعروف وکړي نو خپل ځان يې اتلاف او له منځه وړلوته برابر کـړ ، لـه دې املـه دا د جهاد له ډولونو څخه ډېر تلفوونکی ډول سو".

المظهر رحمه الله فرمايي :" دغه ډول جهاد ځکه ډېر غوره دی چي د ظالم واکمن ظلم پر ډېرو خلکو وي. نو چي څوک هغه له ظلمه منع کړي ګټه يې ډېرو خلکو ته رسيږي، اما د کافر وژل خو به د يوه تن وژل وي".

دا هم کېدای سي چي ووېل سي چي دغه ډول جهاد، د جهاد اکبر له ډولو نو څخه دی، کوم چي په دې سره د نفس مخالفت او د ځان خطر رامنځته کيـږي او په دې سره ظالم واکمن ته نصيحت او د مومنانو ژغورنه وي. البته دا خو څرګنـده ده چي د مسلمان ژغورنه د کافر تر وژلو ډېره ښه ده. لکه چي لوی څښتن فرمـايي :

﴿وَمَنۡ أَحۡيَاهَا فَكَأَنَّمَآ أَحۡيَا ٱلنَّاسَ جَمِيعٗا﴾ [ المائـده :۳۲] (چـا چـي څوک له مرګه وژغوری ، داسي ګڼل کيږي لکه چي ټول انسانان يې لـه مرګه ژغورلي وي ) .

بله خبره داده چي د يوه مومن د ژوند ساتل د زرو کافرانو تر وژلو افـضل او غوره کار دی. ځکه له جهاد څخه مقصود بالذات د ايمان د شتون خونـدي کول او د مومنانو ژوندي ساتل دي.

د يادوني وړ ده چي امام غزالي رحمه الله د احياء علوم الدين په ۲/ ۳۰۵مـخ کي فرمايي : " ظالم ته په ای ظالمه او ای خدای ناترسه او په دغسي نورو الفـاظو ويل که نورو ته شر نه پاڅوي او ويونکی خپل ځان په خطره کي اچوي غـوره کـار دی. د سلفو عادت وو چي ځانونه به يې د حق په لار کي خطـر تـه ورکـول او لـه مرګ او ډول ډول عذابونو به نه بېرېدل، ځکـه دوی پوهېـدل چـي دا جهـاد او شهادت دی ". رسول صلی الله علیه وسلم فرمايي : « خير الشهداء حمزةُ بْنُ عبدِالمطلب ثم رجــل قام إلىٰ إمام فامره ونهاه في ذات الله تعالىٰ فقتله علىٰ ذٰلك».

**ژباړه : د شهيدانو غوره حضرت حمزه ﷺ دی . بيا هغه څوک دی چي د واکمن په وړاندي ودرېږي او امر او نهي ورته بيان کړي ، خو هغه يې ووژني.** د احياء العلوم په لمن ليک کي وايي چي دغه حديث حاکم روايت کړی او اسناد يې صحيح دي.

ښه ! دادی موږ خو په پورتنيو کرښو کي ډېر څه واضح کړل. د اسلام، هيواد او زموږ د مظلومو خلکو د ننگي په هکله مو د هر چا دنده وښوول او د دې کتاب په راتلونکو پاڼو کي مو هم ټول حقايق څرگند کړل، نور نو ستاسي کار دی چي څه کوئ. که تاسي بيا هم نه پوهېږئ او نه را پاڅېږئ لوی څښتن او د هغه سپېڅلي دين ته هيڅ تاوان نه رسيږي او حق او د حق دين هرومرو بريالی کيږي، خو لوی څښتن فرمايي :

﴿ إِلَّا تَنفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْئًا ۗ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٣٩﴾ ﴾ [التوبه : ۳۹]

**ژباړه : که تاسي نه پاڅېږئ ، نو لوی څښتن به تاسي ته دردناکه سزا درکړي او ستاسي پر ځای به نور خلک را پاڅوي او تاسي به لوی څښتن ته هيڅ تاوان ونه رسولای سئ . هغه پر هر څه قادردی .**

كَلِمَةَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلسُّفْلَىٰ ۗ

وَكَلِمَةُ ٱللَّهِ هِيَ ٱلْعُلْيَا ۗ

## اسلام او کفر او د اسلام سره د کفر د دښمنۍ لاملونه

لکه چي څرگنده ده د حضرت آدم عليه السلام له وختو د نړۍ د ټولو وگړو لپاره لوی څښتن يو دين غوره کړی دی چي همدغه « اسلام » دی. پر همدې بنسټ د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام دين هم له حضرت آدم څخه تر حضرت محمد ﷺ پوري اسلام دی او دنده او موخه يې د مکاني او

زماني شرايطو د اختلاف سره سره يوه ده ، لکه چې لوی څښتن فرمايي :

﴿ إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلْإِسْلَـٰمُ ۗ وَمَا ٱخْتَلَفَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلْعِلْمُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ۗ ﴾ [ آل عمران : ۱۹]

**ژباړه : د لوی څښتن په وړاندې دين همدا اسلام دی. له دې دين څخه پرته چې اهل کتابو کومې بېلې بېلې لارې غوره کړې دي، د هغو د دې چار چلند له دې پرته بل هيڅ دليل نه وو چې هغو د علم له ورکول کېدو وروسته په خپلو منځو کې يو پر بل باندې د تېرې کولو لپاره داسې وکړل.**

لوی څښتن ﷻ پر مځکه باندې د انسانانو د استوګنې له هماغه پيله د هغو د ژوند سمه لار ور وښوول. خو هغو وروسته يو په بل پسې د ژوند دغه سمه لار ( د اسلام دين ) پرېښود او ډول ډول ناسم چلندونه يې غوره کړل. هغو دغه سمه لار د غفلت، ماديـاتو خوښـوني، سرابښي او د نورو د حقونو د لاندې کولو او ظلم او تېريو له امله ورکه کړه او شر خوښـوني ، سرکښي او بغاوت ته د تمايل پر بنسټ يې تحريفونه هم پکښې وکړل. د اخلاقو او تمدن ( شريعت ) هغه عادلانه اساسات چې د لوی څښتن لخوا ټاکل سوي وه يا يې پرېښوول يا يې ګډوډ کړل او د خپلو نفسونو د غوښتنو او د خپلو تعصبونو سره سم يې د ژوند داسې قوانين له ځانه جوړ کړل چې له هغو څخه د خدای مځکه د ظلم او تېريو تورو لړو او لوخړو پر سر واخيسته. چې په دې لړ کې يوناني فلسفه او فکر او ادب هم را منځته سول او د ځينو ولسونو اند او ادب يې اغېزمن کړ. نو هغه وو چې لوی څښتن ﷻ بېلو بېلو سيمو ته په بېلو بېلو وختونو کې د دغو بې لارو وګړو سمې لارې ( اسلام ) ته د بېرته را اړولو لپاره په زرګونو پيغمبران ولېږل.

﴿ كَانَ ٱلنَّاسُ أُمَّةً وَٰحِدَةً فَبَعَثَ ٱللَّهُ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ ٱلْكِتَـٰبَ بِٱلْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ ٱلنَّاسِ فِيمَا ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ ۚ وَمَا

ٱخۡتَلَفَ فِيهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ أُوتُوهُ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۖ فَهَدَى ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِمَا ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ مِنَ ٱلۡحَقِّ بِإِذۡنِهِۦۗ وَٱللَّهُ يَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٍ ﴿٢١٣﴾ [ البقره : ۲۱۳]

**ژباړه: په لومړيو وختونو کي ټول خلک يو امت وو او پر يوه لار (اسلام) روان وه. (بيا چي دې وضعي دوام ونه کړ او اختلافونه را منځته سول) نو لوی څښتن پيغمبران وليږل چي په سم تګ زېرى ور کوونکي او د انحراف له پايلو څخه بېروونکي وه، او د هغو سره يو ځاى يې حق کتاب وليږى څو هغه اختلافونه چي د حق په باب د خلکو تر منځ راغلي وه فيصله کړي. (او د دې اختلافونو د پېښېدو دليل دا نه وو چي په لومړيو کي خلکو ته د حق ښوونه نه وه سوې. نه !) اختلاف هغو کسانو را پيدا کړ چي د حق په برخه کي معلومات ورکړه سوي وو. هغو د روښانو لارښوونو له موندلو وروسته صرف په دې موخه حق پرېښووى؛ بېلي بېلي لاري يې را منځته کړې چي غوښتل يې په خپلو منځو کي يو پر بل تېرى وکړي. نو لوی څښتن هغو کسانو ته چي پر پيغمبرانو يې ايمان راوړ په خپل اذن د حق هغه لار وښوول چي خلکو پکښي اختلاف کړى وو. د لوی څښتن چي چا ته خوښه سي سمه لار ورښيي.**

په دې ډول هر پيغمبر چي د لوی څښتن له لوري اسلام ته د وګړو د بېرته ورګرځېدو لپاره ور لېږل سوی دی؛ موسیٰ عليه السلام دی که عيسیٰ عليه السلام دی که نور، د هغه دين هم همدغه اسلام وو، او هر کتاب چي د لوی څښتن لخوا د نړۍ په هره ژبه هر قوم ته نازل سوی دی هغه د همدې اسلام ښوونه کړې ده. طبيعي ده چي چا د لوی څښتن د پيغمبر خبره منل هغه به مسلمان او د حق د لاري لاروی به سو او چا چي نه منل هغه به کافر او د باطلو پلوی به سو. په دې ډول د کفر او اسلام يا د حق او باطل تر منځ شخړي رامنځته سوې. چي دا لړۍ د حضرت محمد ﷺ تر مهاله او په راوروسته کي د اسلام او کفر تر منځ تر همدې اوسه روانه ده.

کله چي په قرآن کریم کي د انبیاوو عَلَیهِمُ السَّلَامُ احوال په دقت سره ولولو راته څرګندېږي چي دوی ټولو خپل ولسونه د لوی څښتن توحید، د عبادت سوچه والي، د آخرت پر ورځ ایمان لرلو، د ظلم او تېري نه کولو، د ښو اخلاقو د خپلولو او د ناوړو عادتونو او عملونو پرېښوولو ته ور بلل او پر دې یې اتفاق وو. د دې لړۍ په وروستۍ کي لوی څښتن ﷻ زموږ خاتم الانبیا حضرت محمد مصطفیٰ ﷺ ټولي نړۍ ته د یوه جامع او بشپړ دین او شریعت سره چي د پخوانیو ټولو حقه ادیانو په غېږ کي نیوونکی هم دی را لېږلی دی.

د ولسونو په تېره د انبیاوو تاریخ ښوولې ده چي د انبیاوو بلنو به لومړی د مظلومو، بې وزلو او مستضعفو وګړو په زړونو کي ځای نیوی او زیاتره به دغو وګړو پر انبیاوو ایمان راوړی او د هغو ملاتړ به یې کاوه. دا ځکه چي دوی به د هغو په بلنه کي عدالت، برابري، مینه او وروري او له ډول ډول مظالمو څخه د ځانونو ژغورل لیدل. خو بر عکس به شتمن، ظالمان، سرکښان او واکمنان او په اصطلاح اشراف او لویان د انبیاوو د دعوت په وړاندي درېدل. دا ځکه چي دوی د ټولو ټولنیزو فسادونو، شرونو او ناروغیو زېږي وه، کوم چي د انبیاوو د بلني په منلو کي یې خپلي ګټي په خطر کي لیدلې. په پایله کي به د دوی د ګمراهۍ، حسادت، ځان غوښتنو او حق ته د غاړي نه ایښوولو له امله اړ کېدل چي د انبیاوو او د هغو د بې وزلو ملګرو پر ضد ودرېږي، د غرور او تکبر لار واخلي، په باطلو تمسک وکړي او د حق پلویان وزوروي، په ټیټو سترګو ورته وګوري او په ډول ډول سپکو نو مونو یې وبولي او په وینو یې خپل لاسونه ورنګوي.

ومو ویل چي په اسلام کي د تحریفونو په لړ کي یوناني فلسفه او فکر او ادب هم را منځته سول. دغي فلسفې، اند او ادب له هغي بت پالني چي پر دې فلسفه واکمنه وه سرچینه اخیستې ده. یا دې فلسفې او ادب د روم له لاري د اروپایانو د ژوندانه پر بېلو بېلو چارو اغېزه وښندل. یا سر بېره پر دې چي په اروپا کي یوناني بت پالنه د هغې د فلسفې او ادب په مټ خپره سوه، تحریف

سوی نصرانیت اروپا ته ورغی او د یوناني بت پالني سره په جګړه اخته سو. خو نصرانیت هلته ونه سوه کولای چي پر خپلو اصولو او بنسټونو پاته سي او پای د بت پالني تر اغېزي لاندي راغی. سره د دې چي د امپراتور قسطنطین په مرسته یې دنیوي واک تر لاسه کړ، ځیني د خیر ښېګني ځانګړني چي یې درلودې، هغه یې له لاسه ورکړې. ډول ډول توهمات په ګډ سول او کلیسا د استبداد او د خلکو د غولولو او تېر ایستلو واک په لاس راوړ.

دا چي د اروپا د سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او نورو واقعیتونو او یوناني او رومي فلسفې په وړاندي نصرانیت د ټینګار واک له لاسه ورکړی وو، د دې یو سبب له هغي لومړنۍ اصلي لاري او رسالت څخه د نصرانیت اوښتنه او انحراف وو، کوم چي عیسیٰ ﷺ په را لېږل سوی وو.

بل دا چي د عیسیٰ ﷺ رسالت د ورک لارو اسرایلو د غلطو عقیدو د سمولو لپاره وو، نه د ټولي نړۍ د وګړو لپاره. د حضرت محمد ﷺ تر رسالت دمخه د ټولو انبیاوو رسالت دغسي وو. یوازي حضرت محمد ﷺ خاتم الانبیاء والمرسلین دی او دا داسي یوازنی رسالت دی چي لوی څښتن ټولو وګړو ته را استولی څو د مخکنیو ټولو پیغمبرانو د رسالتونو حقیقي تمدیدوونکی، تصدیقوونکی او منونکی سي.

بیا کله چي هغو مستضعفو او مظلومو وګړو کوم چي د اسلام په برکت د پېړیو پېړیو ظلمونو څخه ژغورل سوي وه او اوس یې د اسلام رڼې او ډیوې را اخیستي وې او پټیلي یې وه چي د نړۍ ګوټ ګوټ ته د دغو رڼاوو د خپرولو په لړ کي اروپا هم رڼا او روښانه کړي او د اسلام مبارک دین ور ورسوي. په دغسي حساسو شېبو کي چي د اسلام مبارک دین د عېسوي نړۍ په یوه درېیمه کي خپور سوی وو، د بېزنتین ستري واکمنۍ ته یې ستري ماتي ورکړي وې او د بیزنتین امپراتور رومانوس دیوجانس د الپ ارسلان لخوا ونیول سو او بیا د دغي واکمنۍ ډېرو سترو مسیحي ښارونو، لکه انطاکیې او نیقیې ته ورسېدل او ترک واکمن قلج ارسلان بن سلیمان په نیقیه کي د روم د سلطان په نامه پر تخت کښېنوست. څنګه چي

د دې سترو پېښو خبر هره خوا خپور سو، د دغه مبارک دين کورنيو او بهرنيو دښمنانو (د مصر د فاطمي دولت تر چتر لاندي يهودو، منافقينو او خود غرضو واکمنو، ختيزو او لوېديزو منحرفو عېسوي واکمنو، حاکمو ډلو اوسياستوالو او د کليساګانو روحانيونو) دې ته ملا وتړل چي اروپاته د اسلام د رڼا د رسېدلو او خپرېدلو مخه ډب کړي. په دې لړ کي اروپايي واکمنو د پوځونو په مټ، د خپلو خلکو د غولولو او تېر ايستلو له لاري او د پاپ په لارښوونه او تاييد د اسلام په وړاندي اوږدې صليبي جګړې په لار واچولې. چي بالاخره يې اروپا له دې ستري ښېګڼي او هغي رڼا څخه چي زښته زياته اړتيا يې ورته درلوده بې برخي پرېښوول. که موږ تاريخونه مطالعه کړو د جنګ جګړو او دښمنيو په حال کي لا اروپايانو د اسلام له رڼا څخه ډېر څه تر لاسه کړل. خو که دوی د اسلام په وړاندي د دښمنۍ دريځ نه وای خپل کړی، دې مبارک دين به ډېر ژر د اروپايانو د ژوندانه په ټولو برخو کي ډېري ښې او ستري اغېزي ښندلي وای او هلته به يې د ظلمونو او بې عدالتيو د تورو تيارو توري لوخړي د حق او حقيقت په رڼا بدلي کړي وای. خو له بده مرغه چي داسي ونه سوه اروپايانو هم په تاريخ کي د سترو جنايتونو بېله تور داغه او بېله ماتي بل هيڅ لاسته رانه وړه.

## صليبي جګړې؛ د لوېديز ښکېلاک پيلامه

**يادونه :**

د دې کتاب په بېلو بېلو برخو کي "ښکېلاک" د عربي " استعمار " او د انګرېزي "Colonialism" معادل دی چي معنا يې ده : د بې ځواکو هيوادونو د ودانولو او عمران په پلمه، د هغو د شتمنيو څخه د ګټي اخيستني په موخه دغو هيوادونو ته لاس غځول، د هغو تر نفوذ او اغېز لاندي راوستل او د هغو په چارو کي لاس وهل، پر هغو تېری کول او لاندي کول. که څه هم ښکېلاک په نړۍ کي په بېلو بېلو بڼو اوږد تاريخ لري ، خو د لوېديز ښکېلاک پيل د صليبي جګړو له پيل څخه ګڼل سوی دی.

## د صليبي جګړو لاملونه څه وه ؟

زياتره ويل کيږي چي صليبي جګړې د عيسويت د ننګي لپاره او د بيت المقدس پر مسيحي زيارت کوونکو باندي د سلجوقي واکمنو د زور زياتي پر ضدپه لار اچول سوي وې. خو دا خبري بېخي ناسمي دي. د عېسويت د ننګي شعار د عېسوي واکمنو، شتمنو او روحانيونو لخوا چي ګټې يې يو د بل سره مشترکي وې، صرف د عامو عېسويانو د غولولو او جګړې ته د پارولو او چمتو کولو لپاره وو. که نه په ټولو اديانو په تېره په عېسوي دين کي وژل او لوټماري منع ده. په عېسوي دين کي دا حکم دی چي که څوک تا د مخ پر يوه خوا په چپلاخه ووهي ته د مخ بله خوا ور واړوه. په عېسويت کي بل حکم دادی چي اړ ته که بل څه نه لرې له خپلو جامو څخه څه ورکړه.مګر دلته خبره سر چپه وه. اصلي خبره دا ده چي دغه د عېسويت د لاربښوونو خلاف جنګونه اروپاته د اسلام د نفوذ د مخنيوي، د واکمنو او حاکمو ډلو د واک او ګټو د ساتلو او د مسلمانانو د بېخرتو شتو د لاسته راوړلو په موخه په لار اچول کېدل. ( دغه مهال مسلمانان دونه شتمن وه چي په نړۍ کي يې نوم ايستلی وو او د اروپايانو نيتونه پر بد وه ).
اروپايي واکمن او شتمن په دې پوهېدل چي اسلام د ټولي نړۍ د وګړو دلاربښووني او نېکمرغۍ لپاره دی او دې شريعت خپل پيروان ګومارلي دي چي د دې دين رڼا د نړۍ په ګوټ ګوټ کي خپره کړي. خو دغه واکمن د اسلام د ځواکمنۍ په مهالونو کي پېړۍ پېړۍ غلي او چپ ناست وه. اما کله چي هغو له يوې خوا د واک او ملکونو د نيولو او نورو چارو پر سر د مسلمانانو بې اتفاقي او بې واکي درک کړه او له بلي خوا يې د سلجوقي نسبتاً ځواکمنو واکمنو لخوا مسيحي اُرشو په خطر کي وليده او پر يوناني امپراتورۍ باندي د سلجوقيانو په پرله پسي بريدونو سره قسطنطنيه ( اوسنی استنبول)او اروپا ترګواښ لاندي راغله، نو دغه مهال چي کليسا هم څه اخلاقي ځواک مونـدلی وو، دغو ځواکونو د بيت المقدس او د حضرت عيسیٰ (عليه السلام) د زيارت د آزادولو شعار ورکړ او

د صليبي جګړو لړۍ يې پيل کړه.

د مسلمانانو لخوا د قسطنطنيې او اروپا په تهديدولو سره لومړۍ د بېزنتين(Byzantine) امپراتور «الکسيوس، Alexis Comnène يا Alexius Comnenus» د رومن کاتوليک کليسا پاپ « دوهم اوربانوس، Urban II » ته استازي ولېږل او ورته ويې ويل چې ترکان ( سلجوقيان ) يا عرب تر هغه ډېر ځواکمن دي چې بېزنتيوم وکولای سي چې په يوازي سر د هغو سره وجنګېږي او له مسيحي نړۍ څخه يې وغوښتل چې له مسيحي مځکو څخه د مسلمانانو د ايستلو په چاره کي د هغه سره مرسته وکړي. ( جنگهای صليبی: ۷مخ ).

دغه راز دغه مهال په ختيځ کي په عامه توګه او په مسلمانو ټولنو کي په ځانګړې توګه د شتمنۍ او سوکالۍ دور وو. خو د دې په خلاف په اروپا کي عام وګړي د واکمنو او شتمنو د زور او ظلم له امله ډېر بې وزلي سوي وه او لکه نن مهال چي ډېر وګړي امريکا او اروپايي هيوادونو ته د څه هوسا ژوند او شتو تر لاسه کولو په تمه ځي، يا ځيني کسان د بې کارۍ او مجبورۍ له امله د امريکايانو او د هغو د ګوډاګيو حکومتونو عسکرۍ او نور چوپړ ته شامليږي هغوی هم د بيت المقدس او د هغه شاوخوا سيمو تلو ته له خوارۍ او بې وزلۍ څخه د تېښتي او د دغه اسکېرلي ژوند له سختيو څخه د ژغورني د حاصلولو او د شتو د ترلاسه کولو په موخه چمتو سوي وه. مګر واکمنو، مځکوالو او شتمنو په دې هيله دغو جګړو ته وردانګل چي په نيول سوو ځايونو کي مځکي تر لاسه کړي او واک او امارت ته ورسيږي او د سوداګرو تجارت د منځني ختيځ تر بندرونو پوري وغځيږي. د روم کليسا بيا په دې هيله د دې جګړو شعار ورکړ چي له يوې خوا پر قسطنطنيه او ختيزه، يعني لاتيني کليسا باندي خپل نفوذ او مشرتوب له نوي سره تثبيت کړي، کوم چي په ځينو لاملونو يې پر هغو باندي له لاسه ورکړی وو او له بله پلوه له نيول سوو اسلامي ملکونو څخه د ججو او عشريو په تر لاسه کولو سره خپل قدرت او ثروت زيات کړي. پخپله کليسا هم هغه مهال د مځکوالو سره ټينګي

اړیکي لرلې او ډېر اسقفان د ډېرو مځکو خاوندان وه. البته په دغو جګړه مارو کي داسي وګړي ډېر وه چي د دغو جګړو په سیاسي او اقتصادي دلایلو نه پوهېدل او یوازي د مذهبي جنون پر بنسټ صلیبي سفر او جنګ ته چمتو کېدل. خو د دې تر څنګ د دغسي ډېرى کسانو موخه د مسلمانانو د شتو لوټول او چورول وو.

دا چي پاپ دوهم اوربانوس یا پطرس نومي راهب پر مسلمانانو تور لګاوه چي هغوی په بیت المقدس کي د عېسویانو متبرکو اماکنو ته پر تلونکو زیارت کوونکو بریدونه کوي او د دغو ځایو نو سپکاوی کوي دا ټول درواغ وه. مورخینو په تېره ډېرو اروپایي او عېسوي تاریخپوهانومنلې او څرګنده کړې ده : کله چي مسلمانانو فلسطین فتح کړ د بیت المقدس اوسېدونکو وغوښتل چي حضرت عمر ﷺدي پخپله راسي او د دې متبرک ځای کلی دي تسلیم کړي. بیا چي هغه ورغی او رومي اسقف اعظم سوفروینس ښار ور وسپاری حضرت عمر ﷺد دغه ځای خلکو ته د سند په توګه یو فرمان ورکړ چي پکښي لیکلي وه :« پر مسلمانانو لازمه ده چي د دغه ښار د اوسېدونکو د ژوند، عزت،شتو او جایدادونو ساتنه وکړي. دغه راز به د دغه ځای اوسېدونکي آزاد وي، که وغواړي اسلام دي راوړي که نه پر خپل دین دي واوسي، د هغو د کلیساوو، بازارونو او مذهبي آزادیو خوندیتوب په بشپړه توګه تضمین دی». ( فضیلت بیت المقدس ۶۹ مخ او قبلۀ اول کفار کی حصار میں ۵۳ مخ ). پر دې بنسټ او څنګه چي مسلمانان موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام ته د لوی څښتن د رشتیانیو پیغمبرانو په توګه درناوی کوي، هغو عېسویانو او یهودیانو ته اجازه ورکړې وه چي په بیت المقدس کي خپل عبادت ځایونه ولري. هغو د خپلو عباداتو په تر سره کولو کي بشپړه آزادي درلوده، هیڅا د هغو په کار کي هیڅ مداخله نه کول. بلکي په دغه سپېڅلې مځکه کي پر لږکیو باندي دې وېشلي ټولني د اسلام د اخلاقي زرینو اصولو په سیوري کي د امن او سولي په فضا کي ژوند کاوه. هر کال به په زرګونو تنه وګړي له مسیحي اروپا څخه بیت المقدس ته د زیارت لپاره

تلل او په دې لار کي هيڅ خنډ او ځنډ نه وو.

په دې توګه د دې اوږدو جګړو اصلي لاملونه او محرکات د اروپايي سرابنو طاغوتيانو، بد طينت او جګړه مار خصلت، د مادي ګټو خوندي کول او د لا زياتو ګټو ترلاسه کول، د اسلام د سپېڅلي دين او مسلمانانو سره تعصب او دښمني پالل، اروپاته د اسلام د رسېدلو څخه مخنيوى او د عامو عېسويانو ناپوهي او مذهبي جنون ګڼل کيږي.

## د صليبي جګړو په لار اچولو سره د اروپايانو جنايتونه

د صليبي جګړو په هکله پر پورتنيو ويلو سوو ټکو سربېره د تاريخ د کتابونو له مطالعې څخه دغه لاندي واقيتونه په ګوته کيږي:

۱. په منځنيو پېړيو کي اروپا يو وروسته پاته، سپېره ملك وو؛ عېسويت يو وړوکى دين وو، چي په لوېديزه او سهيلي اروپا کي د خپلو دښمنانو دګوابن سره مخامخ وو؛ عام اروپايان په ډېره ناوړه بې وزلي اخته وه او له دې امله لوټماري او يو پر بل تېرى د هغو طبيعت ګرځېدلى وو. بالمقابل مسلمانان د اقتصادي او فرهنګي پلوه تر اروپايانو ډېر وړاندي وه. دا هسي بې بنسټه خبره نه ده، بلکي په دې هکله د دغه مهال ټول تاريخونه شاهدي ورکوي.

لوېديځيانو په ډېرو برخو کي ځانونه د اسلام د علومو او فنونو تر پور لاندي ليدل او خپل فقر او د مسلمانانو ډېرو شتو يې د سرابنۍ حس را پارولى وو. ځکه نو هر اروپايي د دغو علمي او مادي شتمنيو د غصبولو او ترلاسه کولو او د اسلام له برلاسۍ څخه د ځان ژغورلو لپاره د اسلام او کفر د دښمنۍ يا د ختيځ او لوېديځ د اوږدو تاريخي جګړو په ادامه ختيځ ته د جګړې تللو لپاره مازي پلمه لټول.

۲. د اروپا د مځکوالو د خپلو مځکو په حاصلاتو او خپلو بزګرو په زبېښاك ګزاره نه کېده او د هغه مهال شرايطو او د دوى د خصلت دې ته اړايستلي وه چي نوري ډېري مځکي لاسته راوړي او نور بزګران يې هم په خدمت کي وي. دوى له اروپايي سوداګرو څخه د ختيځ د زښتو زياتو شتو

په هکله ډېر څه اوربدلي وه، نو په دې هيله وه چې په ختيځ کې هم مځکې او بزګر ولري.

۳. بله خبره داده چې عېسويان له لويه سره د اسلام سره دښمني لري. دوی تل د اسلام له پرمختګ څخه په ببره کې وي او کله چې موقع په لاس ورغلې ده د مسلمانانو د سياسي قوت د ماتولو څخه يې ډډه نه ده کړې. دوی ترصليبي جګړو دمخه هم پر مسلمانانو په وارو وارو بريدونه کړي چې د مسلمانانو لخوا په بري سره پر شا تمبول سوي دي.

دغو ټولولاملونو لاسونه سره ورکړل څو اروپايان په ټېره د هغو واکمني ډلي د اسلام پر ضد صليبي جګړو ته وهڅوي او سر له ۱۰۹۶ع. کاله له اروپا څخه بهر د صليبي جګړو تر عنوان لاندي لومړۍ ښکېلاکي تجربه تر سره کړي.

پاپ دوهم اوربانوس په ۱۰۹۵ع. کال د فرانسې د يوه سهيلي ښار د کليرمون (Clermont) په نامه کليسا کې يوې ستري غونډې (Council of Clermont) ته د يوې تاريخي وينا په ترځ کې وويل: "په دې جګړه کې به ډېري ولجې لاس ته راوړئ. پرېږدئ هغوی چې دمخه لوټمار وه اوس جګړه مار سي. هغه چې دلته لالهانده او لاس تنګي دي، هلته سوکاله او شتمن سي. دغه جهاد چې نن پسي روانېږئ يوازي د بيت المقدس د فتح کولو لپاره نه دی، بلکي بايد د آسيا له شتمنيو ډکه سيمه او د هغې ټولي پرېمانه او بې حسابه خزانې تر لاسه کړئ... که په دې جګړه کې بری ترلاسه کړئ د ختيځ ټول هيوادونه به ستاسي سي".

د اوربانوس د وينا دغه ټکي د پورتنيو خبرو روڼ ثبوت دی.

۴. دغو دوه سوه کلنو ټپل سووصليبي جګړو او په بېلو بېلو بڼو د هغو دوام او پر اسلامي هيوادونو باندي د مغولو تاړاکونو، مسلمانان په اقتصادي ـ اجتماعي او نورو ډېرو برخو کې پېړۍ پېړۍ وروسته وغورځول.

اوس راځئ د دغو لوټمارو او ښکېلاکګرو اروپايانو تاريخي جنايتونه او توري څېرې د عېسويت د ننګي په پلمه د دغو جګړو د لومړي پړاو ( لومړۍ صليبي جګړې) په بهير کې د بېلګې په توګه وګورو:

د کلیرمون په غونډه کي دپاپ دوهم اوربانوس د وینا سره سم په حاضرینو کي د مذهبي لېونتوب یو ډول ځانګړی حالت رامنځته سو، د مسلمانانو سره د جګړې په تکل کي سول او ناري یې کړې چي "دا د لوی څښتن خوښه ده". بیا هر یوه چي به په جګړه کي برخه اخیسته د سره ټوکره صلیب به یې پر ټټر یا پر ښي اوږه ګنډه. ورپسې د جګړنو د راغونډولو لپاره د پاپ دوه ګومارلي کسان پطرس (Pierre , Peter L'Ermite) او آډمار ډومونتي (Adhemar de Monteil ) په ټوله اروپا وګرځېدل او تکړه جنګي وګړي یې را ټول کړل... چي د ناروي او سویډن د سمندري غلو لمسیان هم پکښېکي وه. ( جنګهای صلیبي ۹مخ ).

د پطرس ډېر ملګري بزګران وه. یو شمېر هم بېړۍ نیوونکي، غله او لاروهونکي وه چي په آسانه د ولجو د ترلاسه کولو په موخه په هغه پسې سوي وه. ( جنګهای صلیبي ۱۱مخ ).

دوی چي به هر ځای ته رسېدل لوټ به یې کاوه او ډول ډول ظلمونه یې کول. ( د البرماله تاریخ قرون وسطی ۲۲۱ مخ ).

کله چي د صلیبیانو له ډلي څخه د والټر (Walter Sans Savoir) افراد د هنګري د سملین ښار ته ورسېدل، ځینو د کښتونو چورولو ته ملا وتړل. ځینو غلاوي وکړې. نورو کوښښ وکړ چي د بازار مغازې لوټ کړي. پر مغازو باندي برید د بازار د جګړې بنه خپله کړه او څو تنه پکښي ووژل سول. هنګریان بېرېدل چي که د پطرس ډېره غټه ډله وروروسېږي تر دې به لا بدي پېښي وسي. کله چي د پطرس پیروان سملین ته ورسېدل وضع کړکېچنه سوه. د ښار د امنیې قوماندان صلیبیان ښار ته له ننوتلو څخه منع کړل او د دوی او ښاریانو تر منځ د ناوړو پېښو د مخنیوي لپاره یې ځانګړي مقررات وضع کړل. تر دوو ورځو وروسته د یوه صلیبي او یوه ښاري تر منځ د یوې جوړې څپلۍ د بیې پر سر شخړه رامنځته سوه. څو شېبې وروسته ستره بلوا وسوه. بیا تر سختي جګړې وروسته صلیبیانو د قوماندان ماڼۍ ونیوله. څلور زره هنګریان یې ووژل او ډېر شته او خواړه یې چور کړه.

بیا صلیبیان بلګراد ته چې هغه مهال د بیـزنتین د امپراتـورۍ مربـوط وو ورسېدل. د بلګراد خلک له ښاره وتـښتېدل او پـه غرونـو کـې پـټ سـول. صلیبیانو له سیند څخه د پورې وتو پر مهال پر بېزنتیني سرتېرو حمله وکـړه، د هغو بېړۍ یـې ډوبـې کـړې، خپلـه دوی یـې اسـیر کـړل او ویـې وژل، د بلګراد خالي ښار یې په بـشپړه توګـه لـوټ کـړ او بیـا یـې اور ورواچـاوه. ( جنګهای صلیبي ۱۳مخ، صلیبی جنګین ۲۵مخ او تـاریخ جنګهـای صـلیبي ۱/ ۱۶۶او ۱۷۷مخونه).

صلیبیانو ګڼل چې که د نورو مذهبونو پیروان ووژنو خدای ته به نژدې سو، خو پېښه داوه چـې دوی پـر خپلـو ځـانونو شـیطان مـسلط کـړی وو. دوی د دې صلیبي سفر په بېلو بېلو پړاوونو کې په ډېرو ځایونو کې زښت زیات یهـود د دوی د شتو د لوټولو لپاره ووژل. د دوی یوې ډلې په هنګري کې هم دغسې وکړه. د هنګري د Bavaria په سیمه کې یې زښت زیات یهود ووژل. چې بیـا د هنګري پوځ دغه ویني چیښونکي بې وسلې کړه او بیایې ټول له منځه یووړل. بالاخره څنګه چې د هنګري پاچا له صلیبیانو څخه په عذاب سو، د خپل هیواد پولي یې د هغو پر مخ وتړلې. ( صلیبی جنګین ۲۲- ۲۴مخونـه ).

کله چې د پطـرس پیـروان «نـیش»تـه ورسـېدل، هلتـه یـوه بېزنتینـي چاروا کي د هغو د لوټ څخه د مخنیوي لپاره کلک امنیتي تـدابیر ونیـول، د دې سره سره څو تنو آلمانیانو د ښار د باندې څو کورونو ته اور واچاوه او جګړه ونښته. بېزنتینیانو چې سخت خښمېدلي وه ډېر صلیبیان قتل عام کړه. ډېر نارینه، ښځې او کوچنیان ونیول سـول چـې پاتـه عمـر یـې د نـېش پـه شاوخوا کې په اسارت کې تېر کـړ. پـه دې اخ وډب کـې د پطـرس د پیـسو صندخ ورک سو. د پطرس د اوباشانو ډله تیـت او پـرک سـوه او وتـښتېده. پطرس او ۵۰۰ تنو پیروانو یې په یوه ځنګله کې خورا ستومانه شپه تېره کړه. څو ورځې وروسته د پطرس اووه زره ورک کسان بیـا سـره راټـول سـول. د پطرس لپاره د نیش جګړه یو ناورین وو. د ده د سـړیو یـوه څلورمـه ووژل سول یا ورک سول. ټول هغه وسایل او پیسې چې په فرانـسه او المـان کـې

يې په لاس راوړي وې له لاسه ورکړې. صليبيان په خـواري او سـپکاوي لـه نيش څخه ووتل. بېزنتيني سپرو هغوی په مخه کړي او د رمې غونـدي يـې شړل. تر درو ورځو پوري د تم کېدو او هوسايي لپاره هيڅ اجازه ورنـه کـړه سوه. ( جنگهای صليبي ۱۶-۱۷مخونه او تاريخ جنگهای صليبي ۱۶۹مخ ).

کلـه چـې قـسطنطنيې تـه ورسـېدل د بيـزانس امپراتـور الکـسيوس کومنينيوس (Alexius Comnenus) سره د دې چې د هغـو لـه لـوټ او وژنو څخه خبر وو د هغو مؤدبانه او په هوښياري سـره هرکلـی وکـړ، خـو د پطرس د لوغوړنو او نيم وسله والـو اوباشـانو څخـه يـې بـد راغلـه. هغـه وپوهېدی چې مسلمانان به هرومرو هغوی په ډېره آساني سره ځيري کـړي. ځکه نو هغه پطرس ته وويل چې څه مهال د نورو سرتېرو تر رارسېدو پـوري په قسطنطنيه کې پاته سي او آرام وکړي. خو څه موده وروسـته يـې خپلـي خبري بدلي کـړې. د پطـرس ملگـرو خپـل هماغـه پخـواني کارونـه پـسي راواخيستل. د دوی لوټماريو پای نه درلـود. هـره ورځ بـه دوی وه او شـر، شخړي او لوټ. د ښځو د تېښتولو هڅي به يې کولې. د ښار د شاوخوا مـاڼۍ به يې پرله پسې لوټولې. ان د کليساگانو د بامونو د سرپو له غلاکولو څخه يې هم مخ نه اړاوه. پای امپراتور ځني په عذاب سو او يوه اووني وروسـته يـې آسيا ته ولېږل. ( جنگهای صليبی ۱۷- ۱۸مخ، صليبی جنگين ۲۵- ۲۶مخونـه اوتاريخ جنگهای صليبی ۱۷۰مخ ).

کله چې د پطرس صليبيان آسيا ( اناطوليې ) ته ورسېدل، په هر ځای کي به يې هر څه له کورونو څخه نيولې تر کليساوو لوټول. دغه سيمه له ساحلي تراډې پرته د ترکانو تر ولکه لاندي وه او خلك يې زياتره مـسيحيان وه. دوی په بشپړه آزادي کي ډېر آرام ژوند درلود او د خپل دود سره سم يې عبـادت کاوه او هيڅکله يې هم له اروپايانو څخه څه کومك نه وو غوښتی. کله چي هغو وليدل چي د دوی خپل مسيحيان داسي بده وضع ورسره کوي اريـان پاته سول. صليبيان گردسره د داړه مارانو په ډلو اوښـتي وه او د پطـرس لـه واکه ووتل. ( جنگهای صليبي ۱۸مخ او صليبی جنگين ۲۶مخ).

کله چې تر «مرمره» سیند واوښتل په خپلو کې ډېر سخت سره ونښتل او المانیانو او ایټالویانو نور د پطرس له فرمان څخه سر وغړاوه، د ریناله(Rainald) په نامه یو ایټالوی یې خپل مشر کړ او په سیوټوټ (Civtot) نومي ځای کې یې بېل کمپ جوړ کړ، چې له دغه ځایه یې پر شاوخوا سیمو یرغلونه او ظلمونه پیل کړل. د مسلمانانو او یونانی عېسویانو کلي او باندې یې لوټ کړې. ( جنگهای صلیبی ۱۸مخ، صلیبی جنگیں ۲۷مخ اوتاریخ جنگهای صلیبی ۱۷۱مخ ).

کله چې « نیقیه، Niceae » نومي ځای ته کوم چې د سلطان قلج ارسلان بن سلیمان سلجوقي پلازمېنه وه، ورسېدل یو د بل په سیالي یې په ډېره نامردي په لوټ او تالان او ورانیو لاس پورې کړ. خلك یې په اور کې وسوځول او نور هرډول ظلمونه یې وکړل. سټیفن رانسیمان چې یو متعصب عېسوی دی او صلیبي جنگونه ستایي او مسلمانان کافران بولي لا اړ سوی دی چې له واقعیتونو سترگې پټې نه کړي او په خپل تاریخ کې وواېي چې: ”صلیبیانو په نیقیه کې عېسویان په ډېره بده بې رحمۍ ووژل او ډېر یې شکنجه کړل. ان چې پر تې رودونکو ماشومانو یې رحم ونه کړ. هغوی به یې په سیخونو پېیل او پراور به یې کبابول“. ( تاریخ جنگهای صلیبی ۱/ ۱۷۲مخ).

بیا لوټمارانو چې کشیشان او اسقفان هم پکې لیدل کېدل د« خریگوردن، ځیني یې زریگوردن لیکلي،Xerigordon » کلا ونیول. دا د سلجوقیانو د سلطان د زښتو زیاتو وسلو او نورو وسایلو د ساتلو ځای وو. خو کله چې سلجوقیانو کلابند کړل او اوبه یې پر بندي کړې اتمه ورځ اړ سول چې تسلیم سي. ترکانو هغه مسیحیان چې مسلمانېدل ژوندي پرېښوول او نور یې وژل. ریناله او د هغه ډېر وگړي مسلمان سول. ترکانو دوی د حلب او انطاکیې او ان د خراسان بازارونو ته بوتله او د مریانو په بازارونو کې یې خرخ کړل. ( جنگهای صلیبي ۲۰مخ ، صلیبی جنگیں ۲۸مخ تاریخ جنگهای صلیبي۱۷۳مخ).

وروسته قلج ارسلان د خپلو خلکو پر لاس آوازې واچولې چې صلیبیانو

نيقيه نيولې ده او ډېري ولجې په لاس ورغلي دي. کله چي نورو فرانسوي صليبيانو دغه آوازې واورېدې، د لوټ په تمه د نيقيې پر لور و خوځېدل. تقريباً يوويشتو زرو تنو په لوی لاس د قلج ارسلان د چلول جال ته ځانونه واچول، د« دراکون » په سيمه کي د هغه د پوځيانو سره مخامخ سول او يو هم ژوندی پاته نه سو. د ژئوفري بورل په نامه يو لوی قوماندان يې په نامردي سره وتښتېد. په ده پسي ټول صليبيان په تېښته سول. مسلمانان پسي ځغاستل او د مني د پاڼو غوندي يې رژول او ښځي او کوچنيان يې مينځي او مريان کړل. ( جنگهای صليبي ۲۱مخ او صليبی جنگيں ۲۸مخ).

بيا بله ډله صليبيان دگود فری په مشري قسطنطنيې ته ورسېده. د هغه افرادو هم د ښار شاوخوا لوټ کړه. بيا يې د مسيحيانو د اختر په ورځو کي پر دغه ښار بريد وکړ، خو د بېزنتين ځواکونه ورسره وجنگېدل، بيا الکسيوس تر خپل ځان تېر کړه او د هغو له شره يې ځان وژغوری.

دا لړۍ همدغسي روانه وه. قسطنطنيې ته د صليبيانو هري نوي رسېدلي ډلي به نوي ستونزي رامنځته کولې.

د فرانسې د سهيل صليبيانو د ريمونډ په مشري د « روسا » بېزنتينيي ښار لوټ کړ او بيا يې اور وروا چاوه. الکسيوس سم نه پوهېدی چي صليبيان د ده دوستان دي که دښمنان ؟

کله چي دغو صليبيانو د نيقيې ښار کلابند کړ او ډېر مسلمانان يې شهيدان کړل، نو هغوی تسليمېدو ته چمتو سول. خو دغه مهال صليبيانو د شهيدو سوو مسلمانانو سرونه پرې کړل او د کلا دننه يې ور وغورځول. څنگه چي مسلمانان پوه سول چي دوی ډېرو حشيان خلك دي نو د دې پر ځای چي دوی ته تسليم سي د بېزنتينيانو سره يې اړيکي ټينگي کړې او هغو ته تسليم سول. يوه ورځ وروسته سهار چي صليبيان له خوبه راپاڅېدل په اريانتيا سره يې وليدل چي د نيقيې د کلا له پاسه د بېزنتينيانو بيرغونه رپيږي. د امپراتور سرتيري د شپې په ښار ننوتلي وه. څنگه چي صليبيانو وليدل چي دغه ستره ولجه يې له لاسه وتلې ده سخت په قهر سول او د امپراتور پر خيانت تر پخوا لا زيات

بدګومانه سول. امپراتور کوښښ وکړ چې دوی د مسلمانانو له لوټ ســوو شــتو څخه په زياته برخه ورکولو سره خوشاله کړي، خو چې ډېر ګران بيه توکي يې ورکړل دوی لا په غوسه سول. ځکه دوی د مسلمانانو څخه ټول ولجــه ســوي شته د ځان ګڼل. ( جنګهای صليبي ۲۵-۲۸مخ او صليبی جنګين ۳۴مخ ).

د بيت المقــدس پــه لار کــي د يــوې ډلــي صــليبيانو پــر مــشر بالــډوين (Baldwin) نومي باندي د « ايډيسا، Edessa يا الرهــا» د کــوچنی، خــو مهمي پاچهی مسيحي ارمنيان پېښ سول او د کومــک غوښــتنه يــې ځنــي وکړه. د دوی هيواد څه موده دمخه د روم د واکمن تر ولکه لانــدي راغلــي وو. بالاخره ارمنيانو د پاچهی تاج د بالډوين پر سر کښېښود. پــه دې توګــه دا لومړی صليبي وو چې تاج يې تر لاسه کړ. ( جنګهای صليبي ۳۰مخ او صليبی جنګين ۴۰-۴۱مخونه).

کله چې صليبيان انطاکيې ته ورســېدل د دې ښــار ښــکلا تــه اريــان پاتــه سول. د دې ښار دېوالونه څو ميله اوږده وه او څلور سوه برجه يې درلوده. د شتمنيو، کانونو او اوږده تاريخ درلودونکي دې ښار ته پاريس او د صليبيانو نور ښارونه د کلو غوندي ايسېدل. په دې ښار کي مسلمانان او مــسيحيان يــو د بل تر څنګ اوسېدل او بېله دې چې يو د بل په چارو کي مداخله وکــړي هر چا د خپل دود سره سم عبادت کاوه. خو د صليبيانو په نظر داســي ورتلــه چې د انطاکيې عېسويان د شيطان سره جوړ راغلي وي.

صليبيانو د دې ښار په محاصره کولو سره هم پر خپلو ځانو او هــم د دې ځای پر مسلمانانو او عېسويانو ستر کړاوونه وتېل. ډېر صــليبيان تېــښتي تــه اړ سول. پطرس هم د تېښتي په حال کي ونيول سو. بيا يې د دې ښار په نيولــو سره ستر ناورين رامنځته کړ. يو ترکی يې ژوندی پرې نه ښود ان چې ځينــي عېسويان يې لا ووژل. ډېر مهال د مسلمانانو سره په شخړو او جګــړو بوخــت سول او ډېر مسلمانان يې شهيدان کړل. بيا د دې ښار د واک پر سر په خپلو کي په شخړو اخته سول. ورپسې په مسيحيانو ډېره ناوړه وباګډه ســوه او پــه زرګونو صليبيان مړه سول. کلــه چــي نــور صــليبيان لــه دې ښــاره د بيــت

المقدس په لور ووتـل بوهيمونـډ د ښـار ورونـه وتـړل او خپـل ځـان يـې د انطاکيې امير وباله. په دې توګه د صليبيانو لخوا دوهمـه مـسيحي پـاچهي ټينګه سوه. ( جنګهای صليبي ۳۱ -۳۵مخ او صليبی جنګين ۴۳ -۴۵مخونه).

بيا دغو صليبيانو پر معرة النعمان باندي بريد وکړ . ابن اثير چي د صـليبي جګړو د مهال نامتو مورخ دی په الکامل کي ليکـي چـي: صـليبيانو د دغـه ښار تر نيولو وروسته تر درو ورځو پوري، تر يو لک زيات مـسلمانان شـهيدان کړل او زيات شمېر نارينه او ښځي يـې پـه اسـارت ونيـولې. بيـا د دې ښـار د خپلولو پر سر د جګړه مارو د دوو مـشرانو د رقابـت لـه املـه ډېـر وګـړي ووژل سول. په ښار کي د خوړو د ورکېدو له امله لوږمارو ځوانـان وژل پـه اوبو کي به يې پخول او ماشومان به يې پر اور کبابول او خوړل به يې. کرار کرار څرګندېده چي له دې سپېڅلي جګړې څخه موخـه د بيـت المقـدس آزادول نه، بلکي مقصد صرف د مسلمانانو عامه وژنه وه. ( صـليبی جنګين ۴۷ مخ او مسلم حکومتوں کے عبرت انگيز حالات ۶۹ مخ).

بيت المقدس ته د وړاندي تګ په لار کي د ترېپولي امير د صليبيانو مـشر ريمونډ ته څه تحفې ولېږلې او هغوی يې ور وبلل څو يو له بله د مرستو ژمنه سره وکړي. پخپله يې هم پتېيلې وه چي عېسوي دين ومني. خـو کلـه چـي صليبيانو هلته په ننوتلو سره د هغه ځای ډول ډول شته وليدل د دوستۍ پر ژمنليک باندي د لاسليک پر ځای يې پر هغو شيانو باندي حملې تـه تـرجيح ورکړه. صليبيان پر دغو مالونو د پطرس په ټونګ يو له بله لاس او ګرېوان سول . له دې امله ځينو صليبيانو اعلان وکړ چي پطرس لومړۍ درجـه درواغجـن او بې ايمانه سړی دی. پطرس په غوسه سو او اعلان يې وکـړ چـي دی د خپلـي رشتينولۍ د جوتولو لپاره د اور تر لمبه ځان تېروي. ناراضو صليبيانوسمدسـتي اور ورته بل کړ . پطرس اور ته ور ودانګل او ها خواته ځني وغورځېد. د دغي صحنې ليدونکي وايي چي څو تنو نامعلومو کسانو هغه بيرته اور ته ور ټېل واهه. په دې توګه دغه شيطان صفته موجـود تـر دوولـس ورځنـۍ سـختي نـاروغۍ وروسته ومړ. ( صليبی جنګين ۴۸ او ۴۹ مخونه).

پای دغه ځناور صفته صلیبیان تر درې کاله پرله پسې مرګ ژوبلو، لوټماریو، تلفاتو، اسارتونو او لالهاندیو وروسته، چي له هرو پنځو تنو څخه یې په لار کي څلور تنه ووژل سول، بیت المقدس ته ورسېدل. تقریباً پنځه اوونۍ یې ښار کلابند کړ او د ۱۰۹۹ ع. کال د جولای پر ۱۵مه چي د جمعې له لمانځه څخه څه مهال تېرسوی وو د هغه پر نیولو بریالي سول او په دې ډول یې د نړۍ په تاریخ کي د زړه بوږنوونکو جنایتونو په ترسره کولو سره د انسانانو ترمنځ د اوږدو او تل تر تله خونړیو دښمنیو بنسټ کښېښود.

په ۱۰۹۷ ع. کال د مصر فاطمي پوځونو د سلجوقیانو په خلاف د جګړې اعلان وکړ او بیت المقدس یې ځني ونیو. فاطمیانو هلته افتخار الدوله والي وټاکی. څه مهال وروسته صلیبیانو پر بیت المقدس برید وکړ، افتخارالدوله ډېر شته ورکړه او د خپلو محافظانو سره وتښتېد. صلیبیان په ښار کي د لېونو لېوانو غوندي ځغاستل؛ نارینه یې لیدی که ښځه وژل یې؛ هر څه چي یې په مخه ورتله غلاکول یې. عزتونه یې لوټ کړه، امن او آرام یې له منځه یووړ. د مسلمانانو او یهودو عبادت ځایونوته یې اورونه واچول. په کورونو به ننوتل او د هغو اوسېدونکي یې وژل. هر څوک چي به دمخه کور ته ننوتی او خوښ به یې سو کور به د هغه وو. که نه شته او سامانو نه به یې ځیني ایستل او کور ته به یې اور اچاوه. دا عام وژنه تر هغو روانه وه چي ژوندی انسان په مخه ورتی. ټول ښار د اور لمبو پر سر واخیست. وروسته ډېر شمېر پاته مسلمانانو ته د صلیبیانو مشر ټینکرډ نومي اجازه ورکړه چي په مسجد اقصیٰ او قبة الصخره کي پناه واخلي. خو بله ورځ صلیبیان مسجد اقصیٰ ته ننوتل او ټول نارینه، ښځي او کوچنیان یې حلال کړل. په هغو کي داسي ستر ستر عالمان او فاضلان هم وه چي ان د جګړې سره یې له لیري هم اړیکه نه درلوده. نور یې ټول فقرا، زاهدان او د متبرکو ځایو مجاوران او عابدان وه چي د ژوند څه پاته شپې یې په دغو ځایونو کي تر مرګه رسولې. تاریخونه لیکي چي دغه مسجد د مسلمانانو په وینو غرق او لژند سو.

دغه راز یهودو هم په خپل عبادتځي کي پناه اخیستې وه. صلیبیانو

د دغه عبادتځي ودانۍ ته اور ورته کړ او ټول پناه اخیستونکي یهود یې پکښې وسوځل.

بیا لویه ستونزه د مړو د لښونو وه چې په کوڅو او نورو کې یو پر بل سربېره پراته وه. له بد بوی څخه سا ایستل مشکل سوي وه. حکم وسو چې د مسلمانانو لښونه دي له ښار دباندي وغورځول سي. مسلمانو هلکانو دغه لښونه په کشولو سره د ښار د باندي وړل. په دې توګه د ښار د باندي د مسلمانانو له مړو څخه غونډۍ جوړي سوې. (صلیبی جنگین ۵۳ ــ ۵۵ مخونه، صلیبی جنگجو ۱۲او ۱۳ مخونه، تاریخ جنگهای صلیبی ۱/ ۳۶۷ - ۳۷۷مخونه او فضیلت بیت المقدس ۵۰مخ).

تر اوسه دغسي عام وژنه هیچا نه لیدلې اونه یې اورېدلې وه. دې کشتار داسي تاریخي تاو تریخوالی او کرکه رامنځته کړه چې پېړۍ پېړۍ به په یاد وي.

په الاعلام والتبیین في خروج الفرنج الملاعین علی دیار المسلمین کي لیکي: صلیبیانو په حرم کي د یولکو په شاوخوا کي مسلمانان ووژل. ابن اثیر چې د صلیبي جګړو د مهال تاریخ لیکونکی دی، په دغه عام وژنه کې د مسلمانو شهیدانو شمېر اویا زره نقلوي. زیاتو معاصرو تاریخ لیکونکو دغه شمېر تر اویا زرو زیات ښوولی دی.

د لوټ او غلاوو په هکله ابن العبري لیکي: پرنګیانو له قبة الصخره څخه د سپینو زرو څلوېښت قندیله واخیستل، چې د هر یوه وزن درې زره او شپږسوه مصري درهمه وو. په النجوم الزاهرة کې لیکي: صلیبیانو له قبة الصخره او مسجد الاقصیٰ څخه اویا قندیله واخیستل. شل قندیله د سرو زرو وه چې د هر یوه وزن زر مثقاله وو. پنځوس قندیله د سپینو زرو وه چې د هر یوه وزن درې زره او شپږ سوه شاهي درهمه وو. پردې سربېره یې نور تر حساب تېر شته هم یووړل. (علل وآثار جنگهای صلیبی ۷۵ او ۷۶مخونه).

خپله مسیحي سر چینې او اسناد د دې لوټ او جنایتونو ښه ښکارندویي کوي. د صلیبیانو یوه ستر قوماندان ګوډ فروی ( Godfrey)پاپ ته ولیکل: "که غواړئ چي وپوهېږئ چي د هغو دښمنانو سره چي په بیت المقدس

کي زموږ په لاس راغلل څه وسوه، دغونه پوه سئ چي زموږ کسان د سلیمان (عليه السلام) په ماڼۍ او معبد کي په داسي حال کي د هغو په ژوبله بوخت وه چي ويني يې د اسونو تر ځنګنونو پوري رسېدلې". ټول روایتونه پر ستره عام وژنه شهادت ورکوي: "تقریبا لس زره مسلمانان په معبد کي په عامه توګه ووژل سول او هر څوک چي هلته ګرځېدی ويني يې تر بجلکو رسېدلې..." . تر کشتار وروسته د لوټ وار وو : "زموږ کسان چي له وينو تويولو څخه ماړه سول کورونو ته ولوېدل او هر څه چي يې په لاس ورتلل لوټ يې کړل. هر څوک (موړ وو که مسکین) هر ځای چي په لاس ورتی هغه يې خپل ملکیت باله... او دا دود داسي عملي کېدی چي تابه ویل دا داسي قانون دی چي باید ټکي په ټکي پلی سي..." . (تاریخ قرون وسطی ۲۲۶مخ).

یو بل صلیبي قوماندان ریموند دغه ظالمانه پېښي داسي بیانوي: "انځورونه د لیدني وړ وه. زموږ ځینو افرادو د خپلو دښمنانو سرونه د هغو له تنو څخه جلا کول. دا لا زړه سوی وو. ځینو به په غشو هغوی غلبېل غلبېل کړل او بیا به يې له یوه لوړه مناره څخه لاندي وغورځول. ځینو به دښمنان د اور په لمبو کي سوځول. د ښار په کوڅو کي د انسانانو د سرونو، لاسونو اوپښو خرې تر سترګو کېدې. په کوڅو کي د لاري موندلو لپاره د انسانانو او اسانو د لښونو ایسته کولو ته اړتیا وه. خو دغه پېښې د حضرت سلیمان (عليه السلام) د معبد د پښو په پرتله معمولي وې. د دغه معبد په دهلېز کي دوني ويني بهېدې چي د انسانانو او اسانو تر ځنګنو پوري رسېدلې ".(صلیبی جنگجو ۱۳ مخ).

لنډه دا چي د دې کشتار په هکله چي یوه اوونۍ يې دوام درلود ډېرو مسلمانو او غیر مسلمانو تاریخ لیکونکو ډېري زړه بوږنوونکي کیسې لیکلي دي. وروسته عېسویانو په بیت المقدس کي حکومت جوړ کړ. مسجد اقصیٰ يې په کلیسا بدل کړ. پر قبة الصخره باندي يې صلیب نصب کړ او د مسجد اقصیٰ په برنډو کي يې د اسانو اصطبیلونه جوړ کړل.( فضیلت بیت المقدس ۵۰مخ). پر بیت المقدس باندي د صلیبي عېسویانو د واک

د ټينګولو سره سم د هغه پر شاوخوا ملکونو د کفر، نا امنيـو، لـوټ، جنـګ جګړو،وژنو او زور زياتيو توري لوخړې راخپرې سوې. صليبيانو د مسلمانانو نور ډېر ښارونه هم ونړول او د دغو ښارونو ډېر مسلمان اوسېدونکي يې قتل عام کړل. د فلسطين، لبنان او د سوريې د لوېـديځ بزګـران پـه نيمـه مريـانو واوښتل او ډول ډول ماليې پر حواله سوې. خو د دې سره د مسلمانانو قهر او غوسه زښته زياته سوه. بې اتفاقه واکمنان سره په اتفاق سول. هـره خـوا يې د جهاد او غزاوو رېي اوچت کړل. تر (۹۱) کالو هلو ځلو، او زښتو زياتو سربښندنو وروسته يې بيت المقدس د اسلام د ستر اتل صلاح الـدين ايـوبي رحمه الله عليه په مشري وژغوری.په داسي حال کي چي هيڅوک ونـه وژل سـو او يو کور هم لوټ نه سو، ځيني کسان هـر يـو د لـسو درهمـو پـه مقابـل آزاد سول، خو ډېرې وبخښل سول، بلکي ډېـرو عېـسوي کونـډو او يتيمـانو تـه سلطان ايوبي سوغاتونه هم ورکړل. (صليبي جنګين ۱۲۰ مـخ او نـور ګـرده تاريخونه). خو صليبيانو نوري لښکرکـښۍ پـه لار واچـولې. داسـي سـتر ي تاريخي لوټمارۍ، ظلمونه او جنايتونه يې وکړل چي ان خپل مسيحيان يـې لا له ظلم او لوټمار څخه خوندي پاته نه وه. پـه ۱۲۰۴ع.کـال يـې د خپـل عېسويت ستره پلازمېنه قسطنطنيه، چي هغه مهال په نړۍ کي تر ټولو شتمن ښار وو داسي چور کړه چـي لوټمـارانو د سـرو او سـپينو زرو، د جـواهرو د لوښو، د اتلس، ورېښمينو او نوروګرانبيو جامو او سامانو حساب ورک کړ.

دغو لوټماريو او جنګ جګړو تر ۱۲۹۱ع.کال پوري دوام وکـړ. د دغـه کال د مي په مياشت کي مسلمانانو د الملک الاشرف صلاح الدين خليل بن قلاوون په مشري د صليبيانو وروستی غونډ ځي «عکا» نومی ځای هم بېرته ونيو. کله چي د دې ځای د فتحي خبر خپور سو په ځينو نورو کلاګانو کي څه پاته عېسويان وتښتېدل. خو ځيني چي ونه تښتېدل د اسـلامي حکومـت اطاعت يې ومانه. په دې ډول ترکابو دوو سوو کـالو وروسـته د عېـسو يـانو صليبي جګړې د دوی په ناکامۍ اونهيلۍ، بې نتيجې پـای تـه ورسـېدلې او دې ناورين ته د مسلمانانو په بري سره د پای ټکی کښېښوول سو. بيا څه موده

دغه صليبي عېسويان غلي وه. خو ورپسې يې پر لوېديز فرهنګ بانـدي د اسـلام د فرهنـګ د پرلـه پـسې غلبـې او نفـوذ لـه املـه د «رنـسانس» (نوی رغښت) د نهضت په لار اچولو سره عكس العمل وښود. كوم چي لـه آره د اسلام له فرهنګي نفوذ څخه د ژغورني لپاره وو. بيايې پر اسلام بانـدي له قهره ډكي نيوكي او بريدونه پيل كـړل او پـه ډېـر خـښم او قهـر بـه يـې لوېديځيان د مسلمانانو او عربو په نسبت له ستاينو او مننو څخه منع كول.

په دې حال كي سره د دې چـې د اسـلامي نـړۍ، پـه ځـانګړې توګـه د منځني ختيځ اقتصادي وضعيت د اسلام د ځينو لارښـوونكو د ناپـاميو او نورو ظلمونو، د لوېديځيانو د تېريو او د مغولو د تاړاكونو او نا امنيو له املـه ويجاړ سوی وو، په آسيا كي له شمالي شام څخه د مسيحيت كليسا له ريـښو وكښل سوه، د دغې سيمي ټول مسيحيان په اسلام مشرف سول او د عثماني (تركي) مسلمانو ټولواكمنو لخوا د نړۍ په تاريخ كي د يوې ستري پېښي پـه توګه د مسيحيت ستره پلازمېنه قسطنطنيه په ۱۴۵۳ع،كال فـتح سـوه او پـه درسته ختيزه اروپاكي د اسلام اذانونه واورېـدل سـول. ځكـه نـو لـوېريځ وېتېيل چي د اسلام په وړاندي د تودې جګړې تر څنګ په تـل ترتلـه توګـه هغه جګړه او تېری په لار واچوي چي وسله يې علـم او فرهنـګ وي. هغـه علم او فرهنګ چي د مسلمانانو د بري ټول وسايل او امكانات يې برابر كړي وه. بيا چي ناپليون د اروپا د ختيز هند په شركتونو پسي د اسـلام دروازو تـه ودرېد او ورپسې لوېديز ښكېلاك پسي راورسېد او ورسره ورسره د مسلمانانو د ويښتيا پېر پيل سو، د لوېديځيانو د ځرګندو ښكېلاكي هلو ځلو تـر څنـګ د هغو نامرئي نفوذ ته هم هلي ځلي چټكي سـوې او دادی بيـا هـم پـه دې دوو وروستيو پېړيو كي يوې نوي او نامرئي صليبي پراخي كلتوري جګـړې اسلامي پولي د امريكا او لوېديځ د خونړي امپرياليزم تـر هـر اړخيـز يرغـل لاندي راوستي دي. كه څه هم په دې پرله پسې تېريو كي د امريكا او لوېديځ د تفوق وسله بيا هم هماغه علم او فرهنګ دی، خو له نورو چلونـو څخـه يې كار اخيستنه هم له پامه نه ده غورځولې. لكه چي دا ځل يـې پـر هماغـه

بیت المقدس باندي د اسرایلو په نامه دولت رامنځته کړ کوم چې بیا دا ډېر عمر د فلسطین بې دفاع مسلمانان او نور عرب وژني او خپل ټاټوبی یې ورپوري سور اور کړی دی. پر دې سربېره یې دادی پر عراق او افغانستان باندي په لڅ لغړ وسله وال تېري سره د اسلام پر ضد هر اړخیز ه او په ډېرو مډرنو وسلو فعاله توده جګړه هم پیل کړې او په لار اچولې ده. سیاست، ډپلوماسي، غولوني، معاملې، درواغ، د ملګرو ملتونو په نامه د سترو کفري ځواکونو له ګومارلو عناصرو څخه جوړه موسسه، او نور دېته ورته ډېر سازمانونه، د اسلام ډارن رهبران او مادیات پال پوهان، چل ول، زور ، ډالر او یورو، د ډله ییزو رسنیو د تبلیغاتو بهیر، د جاسوسۍ تنستې او خپل ګومارلي او ګوډاګیان ټول یې په خورا زور او زوږ په لار او کار اچولي دي.

خو د دې سره سره لکه چې حالات څرګندوي وضع بیا هم د نوو صلیبیانو په ګټه نه ده. د امریکا او د هغې د انډیوالانو د تېري په دې توپان کي رشتیانیو مسلمانانو خپله سیخه لار ټینګه نیولې ده او د حق او باطل جګړه په ډېر شدت سره روانه ده. اوس داسي ښکاري چې په افغانستان کي د پاڅون کوونکو پرله پسې او کفر راپرځوونکو بریدونو امریکایي او اروپایي کفار تر پزې راوستي دي، د امریکا اقتصاد مخ پر خرابېو روان سوی دی او د افغانستان د جګړې پر سر د امریکا او نورو کفارو تر منځ سخت اختلافونه او جدي تضارونه رامنځته سوي دي. تر دې اغېز لاندي د اسلامي او کفري ارشوګانو ملیوني پرګنې متوجه سوي او لاس په کار سوي او د لوی څښتن په فضل او ملاتړ به دغه نوي صلیبیان هم د دوی د مخکنیو نیکه ګانو غوندي د شرمووونکو ماتو سره مخامخ سي. و ماذ'لك على الله بعزيز.

## د حرمینو شریفینو او حاجیانو پر ضد د کفارو توطئې او مظالم

د تاریخ په اوږدو کي ځیني پرنګیان مکې مکرمې، مدیني منورې او د حجاز نورو سیمو ته یا غلچکي یا د مسلمان په لباس کي یا په نورو ډولونو ننوتلي دي. چې ځیني وژل سوي، ځیني مسلمان سوي او ځینو خپلو وطنو ته

په رسېدو سره خپلو واکمنو ته د هغو د سياسي، جغرافيوي او ښکېلاکي موخو د پلي کولو لپاره رپوټونه او ليکني وړاندي کړي دي. پر دې سر بېره صليبي جګړه مارو د مکې مکرمې او مدينې منورې د نيولو هڅي هم کړي دي.

په ۵۷۶ سپوږميز. کال چي صليبي عيسويانو عکا لاندي کړې وه، پر مدينه منوره باندي يې د ناپاک بريد کولو او د نبوي مسجد او د رسول الله ﷺ د مقدس قبر د ورانولو او د رسول ﷺ د مبارک جسد د وړلو پلان جوړ کړی وو. ځيني وايي چي د کرک د کلا رئيس پرنس ارناټ (په ځينو ماخذونو کي رينالډ او په ځينو کي ريناند Renand ياد سوی دی) لوړه کړې وه چي هغه به (العياذ بالله) د رسول الله ﷺ له مدفن څخه د هغه مبارک جسد راکاږي او سوځي به يې. په دې موخه هغه د ۵۷۷ سپوږميز. کال د حسن حسين د مياشتي په لومړۍ نېټه د يک شنبې په ورځ خپل پياوړی پوځ له عکا څخه د مدينې پر لور وخوځاوه. هغه د څو بېړيو ټوټې سره ببلي کړې او پر اوښانو يې بار کړې. کله چي د ايله عقبې ته ورسېدی د عقبې په خليج کي يې هغه ټوټې بېرته سره واچولې او بيا يې د هغو څخه په استفاده ينبع ته نژدې د حوراء پر ساحل بريد وکړ. بيا يې پرقافلو بريدونه وکړل او د يوې ورځي په واټن مدينې ته نژدې سول.

دغه مهال د اسلام ستر اتل غازي صلاح الدين ايوبي رحمه الله ډېر سخت ناروغه وو او پوځونه يې هره خوا د صليبيانو سره په جنګ اخته وه. خو بيا هم د ايوبي کورنۍ يو قوماندان عزالدين فرخ شاه چي ښه چمتو والي يې هم نه درلود او په بل روايت حسام الدين لؤلؤ د پرنس ارناټ مخنيوي ته ورغی او داسي يوه زوروره حمله يې پر وکړه چي د پرنس پوځ په زرګونو مړي پرېښوول او نور وتښتېدل. چي له دې وروسته پرنس د ختيځ پر ارشو هيڅ ټينګ نه سو. (مختصر تاريخ خلافت اسلاميه، ۱۹۷مخ او دولت عثماني از اقتدار تا انحلال، ۱۹۶مخ او Sir John Glub;The Lost Centuries, p.93).

ابن جبير رحمه الله په خپله سفرنامه کي د دغي پېښي يادونه کوي او وايي:
"کله چي اسکندريې ته ورسېدو ومو ليدل چي ډېر خلک د رومي اسيرانو

لیدو ته ور درومي. اسیران یې چپه پر اوښانو سپاره کړي وه او ډول او سرنا یې پسې وهل. هغه د پوښتنو او د ورکړل سوو معلوماتو پر اساس دغه کیسه کوي او وايي چي دغو مسیحي پوځیانو د حاجیانو بېړۍ لوټ کړي وې، بل ځای یې د حاجیانو شپاړس بېړۍ سوځلي وې، بیا چي عیذاب نومي ځای ته رسېدلي وه د حاجیانو یوه بله بېړۍ یې نیولې وه. د عیذاب پر لاریې د حاجیانو بل کاروان لوټ کړی وو او ټول کاروانیان یې وژلي وه. د یمن د سوداګرو دوې نوري بېړۍ یې چي د مکې او مدینې د یو کلني آذوغي څخه ډکې وې هم سوځلي وې او د یوې ورځې په واټن مدینې منورې ته نژدې سوي وه چي له مصر او اسکندریې څخه د مسلمانانو بېړۍ پسي ورورسېدې او له بله پلوه د نامتو حاجب لؤلؤ نومي په قوماندانۍ هم مغربي سمندري پوځ پسي ورورسېد. چي د جګړې په پایله کي ځیني مسیحیان ووژل سول او ځیني اسیر ونیول سول". (وګورئ سفرنامهٔ ابن جبیر ۹۲ مخ).

د فضائل المدینة المنوره په (۲/ ۲۵) مخ کي لیکي چي له دې امله اتل ایوبي رحمه الله پتیلې وه او نذر یې ایښی وو چي د کرک دغه واکمن ارناټ نومی به نیسي او په خپل لاس به یې وژني. نو هغه وو چي په ۵۸۳ س.کال یې هغه د حطین په مشهوره او صلیب ماتوونکې جګړه کي اسیر کړ او په خپل لاس یې وواژه. رحمت دي وي پر دغسي هوډمنو مسلمانو رهبرانو او مرګ دي وي د کفارو پر ګوډاګیانو او د مسلمانانو پر خوارونکو باندي.

بیا چي په ۱۳۱۲ع.کال کلیسا د وین غونډه (Vienne Council) جوړه کړه پاپ پنځم کلیمینټ په هغې کي عېسوي واکمنو ته هدایت صادر کړ چي په خپلو سیمو کي اذان منع کړي او د خپلو تر لاس لاندي سیمو مسلمانانو ته د حرمینو شریفینو د حج او زیارت اجازه ورنه کړي. (Norman Daniel;The Arabs and Mediaeval Europe,p.258)

بیا د شپاړسمي عېسوي پېړۍ په لومړیو کي پر تګالیانو د خپلو صلیبي موخو او طرحو په دوام چي په ډېر قساوت او خشونت سره یې تعقیبولې، غوښتل چي سره سمندرګي ته په رسېدو سره حجاز ته ورتېر سي، د جدې ساحل ونیسي، پر مکه مکرمه برید وکړي او مسجدالحرام او کعبه شریفه له

منځه یوسي. بیا مدینې منورې ته ولاړ سي د حضرت محمد ﷺ مبارک قبر لڅ کړي، بیا بیت المقدس ته ولاړ سي، هغه ځای هم ونیسي او په دې توګه دغه درې ستر او متبرک جوماتونه په خپل اختیار کي راولي. په دې موخه د پرتګال جنګي بېړۍ سره سمندرګي ته ورسېدلې او دوه واره یې د جدې د ساحل د نیولو لپاره جګړې ته ورودانګل: لومړی یې په ۹۲۳سپوږمیز (۱۵۱۷ع.) کال او بیا یې په ۹۲۶س. (۱۵۲۰ع.) کال بریدونه وکړل خو دواړه واره یې د عثماني دولت له ځواکونو څخه ماته وخوړل.

دغه راز ادمیرال (امیرالبحر) البوکرک چي د پرتګال لپاره یې ستري مستعمرې تسخیر کړې، په هند سمندر، سور سمندرګي، عربي سمندرګي او د فارس په خلیج کي د پرتګال د بېړیو د حاکمیت د ټینګولو لپاره امر ور کړ چي ټول هغه حاجیان چي د آسیا د سهیل ختیځو هیوادونو، د هند د نیمي وچي او د افریقا له ختیځ څخه په بېړیو کي د حج د فریضې د اداکولو لپاره روان وه ونیسي یایې په اوبو کي غرق کړي یا یې په اور وسوځوي او یا یې په لویو لوښو کي تېل داغه کړي.

روسی تاریخ پوه ګریګوري بونداریفسکي لیکي: "ما د پرتګال د پاچا دوهم ایمانوئیل په نامه د البوکرک لیک موندلی دی چي په هغه کي نوموړي وړاندیز کړی دی چي سپاره ځواکونه دي د ینبع ساحل ته ورسول سي څو د هغو بېړیو چي د هغه مهال نوي نظامي لاسته راوړني بلل کېدې د توپچیانو په ملاتړ په یوه بریښنا ډوله برید د مدینې منورې ښار فتح او د حضرت رسول اکرم ﷺ مبارک جسد د هغه له قبره راوکاږي او د نیزبون ښار ته یې ولېږدوي، څو وروسته اسلامي واکمنو ته وویل سي چي دغه جسد به د حضرت عیسی علیه السلام د تابوت، بیت المقدس او د منځني ختیځ د ځینو نورو مځکو په بدل کي وروسپارل سي. خو پرتګالیان د دې نخشې په پلي کولو بریالي نه سول". (قیافهٔ واقعی دشمنان مردم مسلمان ۱۲مخ).

احمد السباعي د مکې په تاریخ کي لیکي: د چرکسي واکمنو (کوم چي تر ایوبیانو وروسته واک ته ورسېدل) په پېر کي د پرنګیانو بریدونه پر عربي سواحلو

زیات سول. په دې بریدونو کې هغو وکولای سول جدې ته ورسیږي. چرکسي سلطان غوري اړ سو چې جدې ته پوځ ولېږي او له هغه ځایه دفاع وکړي. د دغه پوځ د قوماندان په امر په ۹۱۸ سپوږمیز کال د جدې دېوال ووهل سو او د دې سره سم سمندري ځواک د کمران ټاپو ته ولېږل سو چې له هغه ځایه د عربي ارشو څخه د دفاع عملیات تر سره کړي.

بیا د ۹۴۸س.کال په لومړیو کې پرتګالیانو جدې ته نږدې په ابوالدوائر نومي ځای کې واړول. د دوی په پوځي ځواکونو پنځه اتیا بېړۍ ډکې وې. له دې امله د مکې والي ابونمي د جهاد ږغ وکړ، د مسلمانانو ستر پوځ جوړ سو جدې ته ورسېدل او د وسلې په زور یې د پرتګالیانو دغه تېری دفع کړ.

## په اُندلس کې د لوېدیزیانو زړه بوږنوونکي ظلمونه

لکه چې ټول پوهیږو څوارلس سوه کاله دمخه نړۍ ظلم، وحشت بربریت، بې دینی، بداخلاقیو، جهالت او داسي نورو ډېرو ناوړو عادتونو او مفاسدو پر سر اخستې وه. د دغو ناوړو چارو د له منځه وړلو، سمون راوستلو او د نړیوالو پر سمه لار برابرولو لپاره یوه ستر بدلون او اوښتون ته اړتیالیدل کېدل. لوی څښتن ﷻ د دغو ناسمو د سمون لپاره خپل ستر استازی حضرت محمدﷺ د قرآن او اسلام سره راواستاوه. دا ځل له حجاز (مکې مکرمې او مدینې منورې) څخه د کفر د تیارو او د اسلام د رڼا مبارزه او جګړه پیل سوه. حق څنګه چې حق دی او ژر د بصیرت پر خاوندانو اغېز کوي پر باطل باندي څنګه چې باطل او د کرکي وړ دی ډېر ژر او په پراخه پیمانه بریالی سو او رڼا یې د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسېده او بالاخره تر اسپانیې ورتېره سوه.

لکه څنګه چې پوهیږو اسلام د انساني ژوند په ټولو برخو کې ژور او بنسټیز بدلون راوستی، نړۍ یې په خپلو معنوي ارزښتونو او عملي کارونو او د هغو په اغېزو له پوپنا کېدو وژغورل او د سترو سمونونو او پرمختیا پر لوریې روانه کړه. بشریت ته یې د دې او هغې نړۍ د نېکمرغۍ لار پرانیستل او وښوول. قرآن او اسلام څنګه چې د ټولي نړۍ لپاره دی په خپلوپیغامونو او مستقیمو او غیر

مستقيمواغېزو ټوله نړۍ روښانه کړه او په ټوله نړۍ کې يې بشريت ويښ او راپاڅاوه. په دې ترځ کې چا چې حق ته غاړه کښېښووله او د عقل لاريې واخيسته وژغورل سو او د مسلمان په وياړلي نامه ياد سو او د هغو چې طاغوتيان، ظالمان او مفسدان وه، تر مادي ګټو نه سوا ی تېرېدلای او د مظلومو انسانانو ګرالبي يې نه خوشي کولې، ابدي بدمرغي ور په برخه سوه، د کفارو او مشرکينو په نومونو ياد سول او د اسلام او مسلمان سره يې ضديت راواخيست.

د کفر او اسلام د دې مبارزې تاريخ ته چې لږ څه ځير سو اسلام نړۍ او نړيوالو ته سمون، عدالت، برابري، وروري، سوله، هوسايي، ساده ژوند خوښونه او نېکمرغي، پوهه او پرمختګ ورپه برخه کوي، خو کفر ماديـاتو او په نړۍ کې چې هر ځای شته وي ؛ لکه تيلو، معدنونو، تجارتي ګټو او امتيازاتو او داسي نوروته رسېدل او پر هغو انحصار او خېټه اچول او يو له بله رقابت، د جګړو د اورونو بلول او د ضعيفو ولسونو لاخوارول، لاندي کول او مزدور او مريي کول په اصطلاح خپله شريفانه دنده بولي. خپل ډول ډول او بې پايانه مفاسد او عياشۍ او منحط مادي نظام غوره، مترقي او حق ښيي. لکه چي په دې لار کي يې د اسلام او مسلمان سره په جګړه کي ډېر کرغېړن او تور تاريخ شاته پرې ايښی او اوس له يوه پلوه د نوي، اوسمهالي تخنيک او وسلې په زور له فرعونيته کار اخلي او بل پلو يې ډول ډول شيطنتونه او د مسلمانانو د غولولو او د هغو د مريي کولو لپاره ډول ډول ټګۍ برګۍ په لار اچولي او د نړۍ په ګوټ ګوټ کي ستر او زړه بوږنوونکي ورانۍ او فسادونه کوي، مظلوم اوبې وزلي مسلمانان په ډله ييزه توګه وژني ( چي د امريکايانو او نوروکفارو په هراړخيز ملاتړ د اسرائيلو لخوا د فلسطين د بې دفاع ولس شپه او ورځ پرله پسې وژل او کړول يې يومثال دی ) او بيا د دې سره سره په بې حيايي سره ځانونه د بشر او ښځو د حقوقو مدافعان او د مدنيت او آزادۍ اتلان بولي. ( او د دې تبليغاتو تر تاثير لاندي د مسلمانانو د ناپوهانو عقلونه لا ښبوته ولاړ سي او چي څه مادي ګټه وي د حق او باطل د بېلولو سترګي يې هم ړندې سي ) تاسي لږ څه ځير سئ په دې وروستيو

مهالونو، په تېره په تېرو دېرشو کلونو کې د ختيځ او لوېديځ د ځناورو کفارو لخوا زموږ پر مسلمان هيواد او ولس څه ناتارونه، وراني، وژني، خواري او سترپاوي رواني او تېرېږي او زموږ د لا خوارېدو لپاره څه ډالرونه لګيږي او څه توطئې او د سيسې او جاسوسۍ او په سترو لګښتونو تبليغات روان دي؟ له بده مرغه زموږ ډېر ناپوهه او بې بصيرته ساکښان دا ټول جنايتونه او دا غولوونکي ډرنامي د سر په سترګوويني او بيا هم لګيادي د دغو جنايتکارو کفارو په ملاتړ او د خپلو بې وزلو او درپه درو مسلمانو خلکوپرضد په هلو ځلو ستړي دي. او ځيني يې بې ځايه دلايل او اوتي بوتي هم وړاندي کوي. دلته موږ له دغو کسانو څخه پوښتنه کوو چې دغه سرابن کفار ولې په افغانستان او عراق کې خپل خلک د مرګ خولې ته تړي؟ ولې دا دونه رسوايي پر ځانو مني؟ ولې د دوی خپل خلک او نړيوال د دوی د دغو جنايتونو پرضد اعتراضونه او مظاهرې کوي؟ او ولي دوی دا دونه بې خرته لګښتونه کوي؟ که دوی دا کومکونه د بشريت په خاطر کوي، په هند کې يوه افغانه مهاجره پېغله وه چې د کور د کرايې او وچې ډوډۍ پيسې يې نه درلودې. د دغو کفارو د نړيوال سازمان (ملګروملتونو) د مهاجرو ادارې د غي پېغلي ته د مياشتي اته سوه دېرش هندۍ کلداري ورکولې، بيايې هغه پر بندي کړې. هغې چې څو مياشتي هرڅه زار ی ورته وکړې، د دوي بشردوستي يې راونه پارولای سوه. هغې ورته ويلي وه چې پر ما د څو مياشتو د کور کرايه پاته ده او څو مياشتي مي په پور ګزاره کړې ده او س دغه پيسې راڅخه غواړي. په جواب کي د ملګرو ملتونو يوې کارمندي ورته ويلي وه چي ولاړه سه بد لمني وکړه، د ځان د ډوډۍ د پيداکېدو لپاره خو داځه بد کار نه دی !! هغه وو چي پای هغې بې وزلي افغاني پېغلي د مهاجرو په دفتر کي ځان په اور لولپه کړ او په خپله مړينه يې د دې کنجوسو کفارو پر تندي تور داغ پرېښود. دغه دی د دې کفارو د بشر دوستۍ اصلي ماهيت!

ښه رابه سو خپلو خبرو ته. د کفر او اسلام د مبارزو په لړکي د اسلام سپېڅلي دين د هغه د حقانيت له برکته تر اسپانيې، صقليې (سيسيل) او

نورو لوېديزو سيمو ورسېدی.

د اسلام د اموي خليفه عبدالملك بن مروان په وختو کي د افريقې ټوله وچه د اسلام په نور مشرفه سوه. د وليد بن عبدالملك په وختو کي موسٰی بن نصير نومی د افريقې د والي په توګه په قيروان کي اوسېدی. د افريقې د لويي وچي مخامخ د اروپا په جنوب لوېديزه برخه کي يوه ټاپووزمه ده چي اسپانيه (Spain) يا اندلس ورته وايي او د سمندر د لسو يا دوولسو ميلو په اندازه ارشو يې (چي ډېر لږ واټن دی) له افريقې څخه بېلوي. د اوومي عېسوي پېړۍ په وروستيو کي د دې هيواد خلکو خورا تريخ ژوند درلود. د هيواد نيم وګړي مريان وه او ژوند يې د ښارويو تر ژوند ډېر بتر وو. د دوی په کار به د دوی بادارانو عياشۍ کولې. مريي د خپل بادار له اجازې پرته واده نه سوای کولای او په ډېره وړه ګناه به د وژلو فيصله پر کېده. د ملك له منځنۍ تپۍ (طبقې) څخه درنې ماليې اخيستل کېدې. مځکي او جايدادونه د واکمنو او پادريانو وه. د واکمنو او پادريانو محلونه او خانقاوي په ښکلو نجونو پري خانې ګرځېدلي وې. اخلاقي وراني خپل اوج ته رسېدلې وه. د مذهبي لږکيو سره ډول ډول ظلمونه کېدل. لنډه داچي ناخوالي دونه ډېري سوي وې چي مظلوم او مقهور رعايا د «تنګ آمد بجنګ آمد» حالت ته رسېدلي وه. چي کله کله به د ولس د بې وزلي تپۍ د سړو ساوو لوګي ان د فتنې او ورانيو لمبې سوې.

د مراکش په شمالي ساحل کي د سبته نومي ملك يو سردار يوليان (کاؤنټ جولين) نومېدی. ده خپله يوه ډېره ښکلې او د نازك اندام درلودونکې لور چي فلوريډا نومېده د دغه هيواد د ټولواك رزريق (راډرك) په دربار کي د هغه هيواد د هغه مهال د دود سره سم د درباري او مذهبي زده کړي لپاره ورلېږلې وه. خو د دې هيواد دغه وروستي ټولواك تردې کچي بدکاره او عياش سوی وو چي د دغي نجلۍ سره يې په زوره بد لمني وکړه. د دې خبري څخه لور پلار ته خبر ورکړ. څنګه چي يوليان يو معتبره واکمن سردار وو بد يې يووړه او د غچ اخيستلو په لټه کي سو. خپله لور

يې په يوچل ( د هغې د مور د سختي ناروغۍ له امله كورته د ځو ورځو تلو پـه پلمه ) خپل كورته راوسته. وايي چي رزريق د خداى په امانۍ پر مهال هغو تـه ډېر شته ور كړه او هيله يې ځني وكړه چي زه د ښكار لپاره ځو ښـو بـازانو تـه ضرورت لرم، ماته يې له هغه ځايه راواستوه. يوليان ورته وويل :« زه بـه داسـي بازان در ولېږم چي په خپل ژوند دي نه وي ليدلي ». هغه وو چي بيا د افريقې والي موسٰى بن نصير تـه ورغـى او هغـه يـې د انـدلس نيولـو تـه وهڅـاوه او د كومكونو ژمنه يې ورسره وكړه. هغه پخوا لا په دې فكر كي وو او له خدايه يې دغه ګړى غوښت. هغه وو چي د اسلام د خليفه وليد بن عبدالملك تر اجـازې اخيستلو وروسته يې داسلام اتل جنرال طارق بن زياد په ۹۱ سپوږميز كال چي د ۷۱۰ عېسوي كال د جولاى سره سمون خوري په يوه روايت د دوولـسو زرو او په بل روايت د شلو زرو لښكرو سره د اندلس د نيولـو چـاري تـه وګومـارى. ( د اندلس د سمندر د ختيزي غاړي هغه غرګوټى چي ترټولو دمخـه د اسـلام د سپېڅلو او اتلو مجاهدينو د پښو مچولو وياړ ور په برخه سو د [ جبل الطارق ] په نامه ونومول سو. دغه غرګوټى اوس هم په لـږ بـدلون [ جبرالټـر Gibraltar ] بولي ). طارق چي كله د اندلس څنډې ته ورسېدى تر ټولو دمخه يې ټولي هغه بېړۍ چي خپل پوځونه يې پكښي ور رسولي وه وسوځلې او په دې توګـه يـې اسلامي پوځ ته له بري يا شهادت پرته بله لار پرې نه ښوول.

د جګړې په پايله كي رزريق د سمندر اوبو يووړ او د هغه زيات شمېرپوځيان يا د مسلمانانو تر تېغ تېر سول او ياپه سـمندر كـي ډوب سـول، اوپـاى انـدلس د اسلام لښكرو فتح كړ. دا د۹۲ س. ( ۷۱۱ع. ) كال پېښه وه. تاريخونـه وايـي چي په طارق پسي موسٰى هم ورغى اوپه ډېرو جګړوكي تر برخي اخيـستني او د ټول اندلس تر مطيع كولو وروسته يې د ټولي اروپا د نيولو او د اسلام په نـور د هغــې د روښــانولو او د ملعونــو، بــدطينتو كفــارو لــه كليــساوو څخــه د باطل د آواز پر ځاى د توحيد دكلمې د اذان د پورته كولو لپـاره يـې داسـي نقشه جوړه كړه چي : داروپا ډېره ښايسته مځكه به د حقه خلافت د وارثـانو تـر پـښو لانـدي كـړي. د سـترپاپ د ناسـتون لـه كليـساوو څخـه بـه د حـق او

﴿ الله اکبر﴾ آوازونه اوچت کړي. لـه هغـه ځایـه بـه ختـیځ تـه مخـه کـړي او د بېزنتین د سلطنت په پلازمېنه قسطنطنیه کي به د شام د پوځونو سره یوځـای سي او د دغسي سترو فتوحاتو مبارکي به یوبل ته د باسپورس پر غاړو ورکړي.

موسی په خپله باطل راپرځوونکې توره د دې نقشې رنګول پیـل کـړه او د فرانسې څو سرحدي ښارونه یې ونیول. خو له بده مرغه د خلافت د دربار د دې کار د نه کولو حکم دا نقشه شنډه کړه.

په دې ډول مسلمانان ترنژدې اتو پېړیو پـر انـدلس پـه سـترتوب او بـرم واکمن پاته سول. هغوپردې سربېره چي د هغه ځای خلـک یـې داسـلامي عدل په پلي کولو له ټولو ناخوالو وژغورل او هوسا او آرام ژوند یـې ورپـه برخه کړ، دغه هیواد یې د هنرونو، پوهنو، فرهنـګ او تمـدن، سـوداګرۍ، جنګي فنونواو وسلې جوړولو، ډول ډول ایجاداتو او ډېرو نورو پرمختیاوو او د نوم او شهرت لوړي پوړۍ ته ورساوه.

دا خبري د ټولو تاریخونو په اتفاق؛ په تواتر جوتي سوي دي. خـو مـوږ د یوه فرانسوي تاریخ لیکونکي موسیو سیدیو خبري دلته یوازي د بېلګې پـه توګه رانقلوو، هغه وایي : « موسی بن نصیر په هره چاره کي ډېر عدل کاوه چي له امله یې د اندلس داسي سمسورتیا او د خلکو یې داسي هوسـایي پـه برخه سوه چي د هغه ځای د مخکنیو واکمنو [ګاتانو ] په پېر کي یې هیڅ نه وه په برخه سوې ». بل ځای لیکي: « دانـدلس عـرب پـه علومـو، فنونـو، صنعت، حرفت او اخلاقو کي تر پرنګیانو ډېر ښه او لایق وه. هغـوی داسـي کریم اوسخیان وګړي وه چي د ځوانمردۍ په لار کي ترخپلوځانولاتېرېدل. داسي نه وه چي هغوی وحشیان وه او د خپلو ځانوپه ارزښت نه پوهېـدل، بلکي هغو د خپلو ځانو قدر هم ډېر ښه پېژندی ».

خووروسته کور جنګیو او د اندلس او عربو د خلفاوو او امراوو لنډ پاریو دغه ستره اسلامي واکمني کمزورې کړه، سرحدي عېسوي حکومتونـو تـه د مداخلو او تېریو موقع په لاس ورغله او تـر ډېـرو جګـړو او وینـو تویولـو وروسته یې هغه راوپرځول.

کله چي لا د « غرناطې » (گریناډا) په نامه سیمه د مسلمانانو په لاس کـي وه د « قـسطیلې، قـشتالې یـا کاسـتیل » (Castile) د سـیمي واکمنـي « ایزابل» (Isabelle) نومي د « آراگـون » (ارغـون؛ Aragon) د سـیمي د واکمن فرډیننډ (Ferdinand)سـره پـه ۱۴۶۹ع.کـال واده وکـړ او پـه ۱۴۷۹ع.کال پـر قـسطیله، نـاوار او آراگـون بانـدي واکمـن سـول. هغـو د غرناطې واکمن ابوالحسن ته سفیران ولېږل او د زور په منطـق یـې ورتـه وویل چي: "ستا پلار موږ ته خراج راکاوه، ته هم موږ تـه د خـراج راکـول ومنه او د هغه پاته خراج سره یې چي اداینه یې پر تا واجب ده ژر را ولېږه".
سلطان ابوالحسن سفیرانو ته وویل چي دواړو واکمنـو تـه وواياسـت چـي اوس د غرناطې په خزانو کي د سرو او سپینو زرو سـکې تمـامي سـوي دی، خو د هغو پر ځای د عېسویانو د سینو د ځیرلو لپاره یوازي تـوري پاتـه دي.
په دې ځواب پسي سمدلاسه ابوالحسن چي یو ډېر زړه ور او شجاع واکمن وو جنگ پر پیل کړ. خو له بده مرغه د دغه زړه ور ابوالحسن دوو زامنو ابـو عبدالله او یوسف د پلار په وړاندي د بغاوت رپی پورته کړ او د غرنـاطې یـوه برخه یې ځني ونیـول. پـه دې تـرڅ کـي ابـو عبـدالله د پـلار آزار وواهـه د عېسایانو په لاس ورغی او د فرډیننډ سره بندي سو. پلار چي یـې داوضـع ولیدل تردې سلطنت تېـر سـو، او ورور یـې د چـارو واگـي پـه لاس کـي واخیستې. فرډیننډ ابو عبدالله پر ور خوشي کړ او غرناطه یې ځني ونیـول.
خو څه مهال وروسته فرډیننډ غرناطه داسي محاصره کړه چي ابو عبـدالله اړسو چي د فرډیننډ سره د سولي خبري پیـل کـړي. فرډیننـډ د غرنـاطې د ترلاسه کولو په بدل کي ومنل چي : د مسلمانانو په آزادي کي به څه توپیر نه راځي. د هغو پر شتو او دارایي به تېـری نـه کیـږي. وسـلې بـه نـه ځنـي اخیستل کیږي. د هغو دین، جوماتونه، او رسوم به له بلوسی ځخه خوندي وي. د هغو د سپه سالارانو عزت او دندي به نه ځني اخیستل کیږي. قاضیان به چي د اسلامي شریعت سره سمي پرېکړي کوي پر خپل حال پاته کیږي او تر پخوانیو محصولونو زیات محصولونه به له مـسلمانانو څخـه نـه اخیـستل

کیږي. پر دغو شرطونو باندي سوله وسوه. ابو عبدالله تـه یـې د هغـه مهـال دیوه کروړ څلوېښتو لکو پنځه سوو روپـو د ورکولـو پـر وعـده سـربېره پـه اندلس کي د پاته کېدو یا په دوو میاشتو کي افریقې ته د تلو اختیار هم ورکړ او د بحري سفر د امکاناتو او اخراجاتو د برابرولو ژمنه یې هم ورسره وکړه.

بالاخره غرناطه تر نهو میاشتو سختي کلابندۍ وروسته عېسویانو فـتح کـړه او فرډینـنډ او ایزابـل تـه د کاتولیـک پاچهـانو لقـب ورکـړل سـو. ابـو عبـدالله د ۱۴۹۲ ع. کال د جنورۍ پر دوهمه د سهار تر لمانځه وروسته خپل کور کهـول او پنځوس تنه ملګري او خدمه د غرناطې د الحمراء له نامتو او ښکلي ماڼۍ څخه وایستل، د افریقې په نیت یې رهي کړل او خپلو دښمنانو ته یې وویـل: ”ورځـئ هغه کلاوي ونیسئ چي لوی څښتن زموږ د بدو اعمـالو ( عیاشـیو او یـو لـه بلـه دښمنیو ) له امله زموږ څخه واخیستې او تاسي ته یې درکړې“.

د یو څو شېبو خوښیو د پېړیو سزا ورکړه
یو له بله د ښمنیو تل تر تله درپـه درکـړه

کله چي ابو عبدالله تر باب الجدور نومي ځای ووتی فرډینـنډ او ایزابـل د خپل حشم او خدم سره ولاړ وه. ابو عبدالله وغوښتل چي د هغو د تعظـیم لپاره له آسه ورته راکښته سي، خو فرډیننډ پرې نه ښووی یـوازي یـې روغبـړ ورسره وکړ او کلې یې ورڅخه واخیستې، خپلي مېرمني ته یې ورکړې، هغې خپل زوی ته ورکړې او هغه خپل سپه سالار ته وسپارلې. د ابـو عبـدالله زوی یې چي هغو یرغمل نیولی وو ور خوشي کړ او د انـدلس لـه خـاوري ووتـل. هلال غروب وکړ او صلیب پورته سو. د دې سره سم یې ښار په ډېوو رڼا کـړ او په ټوله مسیحي نړۍ کي د خوښیو جشنونه جوړ سول. ( داوه د بې همتۍ او نفاق پایله ). د دې سره سم د اندلس هغه اسلامي دولت چي په ۷۱۰ ع. کـال هلته ټینګ سوی وو په ۱۴۹۳ ع. کال له عربو څخه د تل لپاره واخیستل سو.

المقري په خپل تاریخ کي لیکي: کله چي ماپه « فاس » کـي خپـل تـاریخ لیکی په ۱۰۳۷س. ( ۱۶۲۷ع.) کال له ابوعبدالله څخه پاته کسانو په خیراتونو ګزاره کول او ابو عبدالله په ۹۴۱س. (۱۵۳۴ع.) کال په فاس کي مړسوی وو.

دلته بايد ياده کړو چي د فرډيننډ کوم شرطونه چي د غرناطې دورسپارلو په بدل کي يې د مسلمانانو پـه وړانـدي منلـي وه، لکـه چـي موسيوسـيديو اونورتاريخ ليکونکي وايي د سياسي چل ول او ټګمارۍ له مخي وه او په دې غرض وه چي پر غرناطه قبضه ولګوي. هغه پوهېـدی چـي د مـسلمانانوشمېر زيات دی او شتمن هم دي. آزادي او خپلواکي يـې هـم ډېـره خوښـيږي او ځانونه پر ورکوي، نو يو وخت لانه يو وخت بېرته پر ور پورتـه کيـږي. لـه دې امله هغه په ټينګه پتيلې وه چـي مـسلمانان د عبـادت لـه اسـلامي طريقـې او اسلامي او عربي اخلاقو څخه پـردي کـړي. کـه د هغـه وس رسـېدلای دغـه بدلون يې سمدستي عملي کاوه. خو هغه بېرېدی چي پکښي ناکامه به سي. لـه دې امله هغه ترټولو لومړی ډېر داسي جاسوسان وټاکل او وګومـارل چـي پـه ښکاره ډېر وګړيال عېسويان ايسېدل. دوی د مسلمانانو په وړاندي د ښې رويـې په تر سره کولو سره هغوی ته دا يقيني کړه چي عېسويان د دوی سـره بـد نـه کوي او په دې ډول يې تېر ايستل. کله چي د عېسويانو پښې ښه ټينګي سـوې پر اندلسي يهودو يې ډول ډول وحشيانه ظلمونـه پيـل کـړل او لـه دې املـه مسلمانان هم په اندېښنه کي سوه. دغه مهـال دغـو شـيطان صـفتو جاسوسـانو اندېښمنو مسلمانانو ته سلا ورکړه چي تاسو ته ښايي چي عېسوي سـئ، کـه نـه ښايي پر تاسي هم هغه عذاب چي پر يهوديانو راغلـی دی، نـازل سـي. د دې سره سم نصراني حکومت عام اعلان وکړ چي : « دينـي آزادي نـسته او اوس څوک د اسلام ارکان او فرايض په ښکاره نه سي ترسره کولای، او که څـوک د اسلام دين پرېږدي او نصراني سي شته او زربه ورکړه سي».

بيا فرډيننډ پـه ١۴٩٩ع. کـال کـي پاچـايي فرمـان صـادر کـی چـي : « په اسپانياکي هغه څوک چي عېسوی نه وي نه سي اوسېدلای، ټول هغـه مسلمانان دي چي نه عېسوي کيږي له دې هيواده ووزي ». د دې فرمان تـر صادرېدو وروسته د کمزوري طبيعت څښتنو مسلمانانو کليـساووته تلـه راتلـه پيل کړه او د مسلمانانو ماشومانو ته يـې « بپتـسما» (Baptism) د عېـسوي مذهب يو دود دی. کله چي ماشوم وزېږي پر سر يې مقدسي اوبه ور پاشي.

په دې ډول هغه عېسوی باله سي ). خو کوم مسلمانان چي پر خپل دین ټینګ وه او خپل ګران او سپېڅلی اسلام یې نه پرېښووی، پر هغو یې ډول ډول ظلمونه وکړل. د هغو کښتونه یې ور وسوځل، شته او جایدادونه یې ور ضبط کړل او هغوی یې له ملکه بهر وشړل.

په ۱۵۲۴ع. کال د والنسه نومي سیمي نصراني واکمنو هم مسلمانانو ته حکم وکړ چي نصراني سي. هغو د والنسه پاچاپنځم شرلکان کرلوس ته له دې امله شکایت وکړ خو د ګټهي پرځای یې تاوان وکړ او په دې هکله سختي لازیاته سوه. پاچا دا خبره د دیني پلټنو محکمې ته راجع کړه. دغي محکمې پرېکړه وکړه چي مسلمانان دي عېسوي سي خو چي نه عېسوي کېدل د محکمې په پرېکړه په زرګونو مسلمانان په اور وسوځل سول. موظفوګړوبه په ښي لاس کي توره او په کیڼ لاس کي صلیب نیولی وو په مسلمانانو پسي به ګرځېدل، د اسلامي شعایرو له ترسره کېدو به یې راګرځول او عېسوي کول به یې. تردې چي د غرنیو سیمو مسلمانانو به هم د دغو متعصبو عېسویانو له لاسه سمه ورځ نه لیدل. پای د غرناطې د محکمې رئیس لارډ بشپ له پاچا څخه فرمان تر لاسه کړ چي مسلمانان نه مذهبي مراسم تر سره کولای سي، نه خپل لباس اغوستلای سي، نه عربي ویلای سي، نه غسل کولای سي. البته په لوېدیزه نڅا کي د دوی ګډون لازمي دی او مسلماني ښځي به له کوره دباندي ببله بوغرې وزي. د دې فرمان په رااېستلو سره مسلمانان اړ سول چي وسلې ته لاس وا چوي، خو عېسویانو مات کړل او اړسول چي غرونو ته پناه یوسي. په غرونو کي سره راغونډسول او د عېسویانوسره یې تر ډېرو کلونو سختي جګړې په لار واچولې.
خو عېسویانو په هغو کي ریښې وځغلولې چي په دې ډول ډېر د ښمن د چلونو په لومو کښېوتل، سره وپاشل سول، ځیني نصراني سول او نور افریقې ته وتښتېدل. بیا په ۱۶۰۹ع. کال بل پاچایي فرمان راووتی چي د والنسه او مرسیه د ولایتونو مسلمانان دي ګردسره له ملکه ووزي. له دې امله ځیني مسلمانان افریقې ته کډه سول او ځیني فرانسې ته ولاړل، خو هغوی هم څنګه چي هلته هم د نصرانیت منلو ته اړ سول افریقې ته مهاجر سول.

پوځ د سنا او کونسلر ( د رومـي واکمـن لقـب ) لـه واکـه ووتـل، پوځیـانو اغتشاش وکړ او سزار اړ سو چي د روم پر قانون پښه کښېږدي او د خپل پوځ د جنرالانو سره په جګړه کي را ښکېل سي او پر هیواد کورنۍ جګړه مـسلطه کړي. پای د هغه د هیواد د ټولو لویانو او کوچنیانو د هغه له کړنو څخه بـد راغله، بالاخره د روم ځینو لویانو د هغه د وژلو دُسه جوړه کړه او د یوه ملي جشن په مراسمو کي چي سزار ورننووت او ټول د هغه په درناوي ولاړسول یوه لوی چاړواکي له سزار څخه وغوښتل چي د هغه د ورور تـر تبعیـد تېـر سي، خو سزار په قهر کېږي. دغه مهال ویني چي څو تنه توري پـر را باسـي. سزار چي هري خواته ګوري بېله تورو یې بل څه نه تر سترګو کېږي. پـه دې ډول ځان د تورو وارونو ته سپاري او وژل کېږي. بیا څنګـه چـي رومیـانو په نړۍ کي خپلو ځانو تـه ډېـر دښـمنان پیـدا کـړي وه نـو بـالاخره د روم امپراتوري د هغې د خپلو دښمنانو په لاس ړنګه او دړي وړي سوه.

دا چي امریکې اوسمهال خپل ځـان د نـړۍ ژانـدارم او تانـه دار جـوړ کړی دی او هر ځای چي وغواړي د جګړو د اورونو په بلولـو سـره د وینـو ولې بهوي. په تېره یې پر اسـلامي امـت ډېـره بـده ورځ راوسـتې ده. ټـول مسلمانان یې په ویر اخته کړي، څوک ساندي وایي، څوک په زنـدانونو کي ډول ډول کړاوونه ګـالي، څـوک ټپـي ټپـي پراتـه دي، څـوک د شـهادت جامونه پر سر پورته کوي، د ځینو مسلمانو خوندو پر عزت تېـري کیـږي. لـه ویټنام څخه نیولې تر افغانستان او عراق پـوري ټـول د امریکـایي ترهګـرۍ ښکار سـوي دي او نـورو تـه هـم ګواښـونه کـوي. د امریکـا دغـه خـونړي امپریالیزم تر اوسه پر څه د پاسه شپېتو هیوادونو باندي تېري کړي دي او پـه دغه د شیطان او شر او فساد په هیواد کي تـر پنځـو سـوو زیـات وسـله وال تنظیمونه په اسلامي نړۍ کي فتنې او وراني خپروي. نو آیا تاسـي څـه فکـر کوئ چي د دغه هیواد درنده خویه واکمنـان بـه د ژول سـزار او هټلـر پـه برخلیك اخته نه سي؟ او دغه هیواد به پای د روم، فارس، برتـانیې او نـازي المان غوندي د هغه د دښمنانو په لاس دړي وړي نـه سـي او دغـه متحـده

ايالات به په متفرقه او بېلو بېلو ايالاتو وانه وړي ؟ په داسي حال کي چي د "مدينه سے وائٹ هاوس تك" کتاب د (۱۴۹) مخ د څرګندونو له مخي:
" تر اوسه د امريکا په دننه کي تر دوه نيم سوه زيات بېلتون غوښتونکي او ترهګر سازمانونه فعاليونه کوي. خو د امريکې رسنۍ يې پر فعاليتونو تر زياته حده خوله پټوي. اوس په امريکا کي فکري او توکميز ليريوالی دونه زيات سوی دی چي د هغې راتلونکې يې زښته زياته تياره کړې ده. له ډېره مهاله د امريکا پر دولتي، تجارتي، ښوونيزو، او نورو ادارو باندي منظم بريدونه کيږي، چي په ځينو کي يې موټر بمونه هم استعمال سوي دي او له امله يې په زرګونو وګړي وژل سوي او په مليونونو ډالر تاوانونه وراوښتي دي".

ای لويه څښتنه ! ستا د نبي امت د کفارو د جګړو، ډول ډول فتنو او فسادونو په دې تورتم کي په وير ځنګيږي او ويني، غوښي او هډوکي يې د بمباريو په دوړو او باروتو کي پاش پاش کيږي! لويه څښتنه ته پر ور حمېږه ! ته د دې خپل اسلام ژغورني ته يو صلاح الدين ايوبي يا احمد شاه ابدالی را وپاخوه ! څوله دې بد معاشي او ترهګري، مادي او طاغوتي امريکا څخه د دې مظلومانو غچ واخلي او ستا پر مځکه هر لوري ته د ﴿ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَزَهَقَ ٱلۡبَٰطِلُۚ إِنَّ ٱلۡبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقٗا ﴿٨١﴾ ﴾ خوږه زمزمه په سترتوب او پرتم سره خپره سي. الٰهي دا خو تاته ډېره آسانه ده.

## د امريکا اصلي مقصد څه دی؟

نن مهال امريکا د بېروکراسۍ، پټو څارګرو څانګو (خفيه جاسوسي ايجنسيو) او خپل پوځ په ولکه کي را ښکېل سوې ده. له دې څخه نه يوازي د امريکا بشپړه ټولنه، بلکي ټوله نړۍ د سختو خطرونو سره مخامخ سوې ده. نن چي په هغو هيوادونو کي چي د امريکا تر لاس لاندي دي او په خپله امريکا کي پر انساني حقوقو کومه بده ورځ راغلې ده تردې دمخه هيڅ نه وه ليدل سوې. امريکا د دې پر ځای چي خپل خلك د بهرنۍ نړۍ له حقايقو څخه خبر کړي، هغو ته فريب ورکوي او د حقيقتونو اصلي

انځور نه ورته څرګندوي.

د عراق د ابو غُرَیب د زندان معامله وي، که په بېلابېلو جېلونو کې د افغانانو د تعذیب او کړولو خبره، د امریکا حکومت خپل هر اقدام سم او روا (Justified)، د خپل امنیت لپاره ډېر مهم (Protective)، بلکې منصفانه او پر ځای بولي. د ستمبر د یوولسمي پېښي امریکا او ټوله نړۍ د سختو کړاوونو سره مخامخ کړه. خو د امریکا د عدل او انصاف دا حال دی چې تر اوسه یې په دې هکله له هیڅ ګرم شخص څخه څه پوښتنه نه ده کړې او د دې پېښي ګرمه بهرنۍ نړۍ ښيي.

د ۲۰۰۴ع.کال په جولای کي په امریکا کې یو په بل پسې دوه مهم رپوټونه خپاره سول. لومړی رپوټ د سنا د مجلس د څارګري (جاسوسۍ) اداري وو. په دغه رپوټ کې راغلي وه چې د امریکا د جاسوسانو ادارو د عراق د کیمیاوي وسلو په هکله داسې ناسم اطلاعات را غونډ کړي وه، چې د هغو له مخې بش ته پر عراق باندي د برید کولو جواز ورکړل سوی وو. د دغه رپوټ سره سم سي آی اې هم په دې اړه چې صدام د القاعدې سره اړیکي لري غلط رپوټ ورکړی وو.

دوهم رپوټ د ستمبر د یوولسمي د چینل د لسو غړو وو چې پر (۵۷۵) مخونو مشتمل وو. په دغه رپوټ کې هم د بغداد او القاعدې اړیکې رد سوي وې. په رپوټ کي پر دې خبره ټینګار سوی وو چې د منځني ختیځ په ګډون باید د ټولو اسلامي هیوادونو سره اړیکي پر پیاوړو بنسټونو او ''له تېلو ماورا'' (Beyond oil) ټینګي سي. خو پر بش باندي د جګړې لېونتوب دونه غلبه کړې ده چې د عراق او افغانستان د پوپنا کولو، خاوري ایرې ګرځولو، په ړندو بمباریو د ولسي بېګناه خلکو د ډله ییزو وژنو او امریکایي دولتي ترهګرۍ د پرمخ بېولو لپاره هره میاشت په ملیاردونو ډالر لګوي. دغه شخص او د هغه دولتي باندې تر اوسه لا هم په عراق او افغانستان کې پر پوځي حل ټینګار کوي او نه دا چې له عراق او افغانستان څخه یې د امریکایي پوځونو د وتلو اراده نه ده کړې، بلکې که نور هیوادونه له دغو

ځایونو څخه د خپلو پو ځونو د ایستلو اراده څرګنده کړی یا نا امنو ځـایونو ته خپل پوځونه نه ورلېږي هغوی لا تهدیدوي.

هیڅوک نه پوهېږي چي دغه وحشت او ځناورتوب بـه تـر کومـه روان وي. پر عراق باندي د دیارلس کلنـو اقتـصادي بنـدیزونو او دوو خونړیـو او پوپنا کوونکو جګړو په پایله کي د بش کورنۍ تر صدام بېخي ډېـر بـې ګنـاه وګړي ووژل. په افغانستان کـي د طالبـانو لخـوا د ټینـګ سـوي امنیـت او د کوکنارو د کښت په ټپه بندولو په پایله کـي خلکـو د جګـړې لـه سـتړیا او مصایبو څخه د هوسایی سا اخیستې وه، خو بش او ګوډاګیانو یـې د خلکـو دغه آرامي په ټول هیواد کي په نا امني، بې کاري، د نرخو نـو پـه لوړېـدو، د برېښنا د نشتوالي له امله په تورو تیارو او د اقتصادي ودي پـه ټپـه درېـدو، اداري او ټولنیزو ډول ډول فسادونو، غـلاوو، داړه مـاریو او شـوکماریو او د لوټمارو او شر او فساد د توکو په واکمن کولو او هره خوا د جنګ جګړو په اورونو بلولو بدله کړه.

عربي هیوادونه د تېلو ډېري بښې شتمنۍ لري، خو له بده مرغـه د دوی پر سرونو د امریکا د بندیزونو او تعزیراتـو (Sanctions) تـوره ځوړنـده ده. دوی بېرېږي چي نه چي د عراق په برخلیک اخته نه سـو. د امریکـا پـه انـد "بېره د وسلې په توګه" (Fear as a Weapon) یو ډېر ښـه اصـل جـوت سوی دی. په عراق کي هره میاشت اتلـس زره ماشـومان د امنیـت د شـورا لخوا د لګول سوو امریکایي بندیزونو له امله خپل ژوند لـه لاسـه ورکـوي. دغه راز په عراق کي د لوږي، د چیښلو د اوبـو د نظـام د ورانـۍ، د درملـو د کمښت او هره خوا د جنګ جګړو، بمباریو، ورانیو، چـاودنو او نـورو لـه امله په ملیونونو وګړي ووژل سول او یا معلول او معیوب سـول او دا لـړۍ په بېروونکې توګه نوره هم مخ پر پراخېدو روانه ده.

امریکا اوس پر اسلامي هیوادونو بانـدي د ولکـې ټینګولـو لپـاره درېیمـه نړیواله نا اعلان سوې جګړه په لار اچولې ده او اوس دا دی د ایران د اټـومي ربړي په اړه په ډانګ پېیلې د درېیمـي نړیـوالي جګـړې خبـري کـوي. دغـه

هیواد په دې نا اعلان سوې جګړه کې په سوونو ملیارډه ډالر مصرفوي. دغه راز دغه هیواد پر خپل اټومي ځواک سربېره د لایزر په واسطه د لاربښوونکو بمونو او د ستورو د جګړې ټکنالوژۍ ته پر مختتک ورکوي. په اټومي وسلو سمبال یو سمندري ببو غوندي اوبتل (Trident) په یوه وخت کې د نړۍ (۴۰۸) ځایونه په نخښه کولای سي. اوس امریکا دغسي (۲۲) اوبتلونه لري.

تیوډور روز ولټ چي ټیډي روز ولټ یې هم بولي، له ۱۹۰۱ څخه تر ۱۹۰۹ع. کال پوري د امریکا ولسمشر وو. د ځواکمني امریکې تصور لومړی ده وړاندي کړ. د دې موخي او مقصد لپاره د امریکا په سمندري ځواکونو کي زیاتوب د ده په حکم رامنځته سو. ټیډي روز ولټ ویلي وه: " خبري نرمي کوه، خو غټه ډنډه ور سره ښکاره کوه " (Speak softly & carry a big stick) امریکا تر اوسه پر دغه پالیسي عمل کوي.

په نړۍ کي چي اوس د امریکا کوم د زړه له کومي دوست سته، هغه اسرایل دي. بلکي داسي ښکاري چي د دواړو بقا او ژوندي پاته کېده په یو بل اړه لري. امریکا او اسرایل د یو بل پر جنایتونو پټه خوله پاته کیږي. ان چي په اسرایلو کي د امریکا اټومي ري اکټور هیڅ نه ښکاري. اسرایل هره ورځ بې دفاع فلسطینیان وژني. خو امریکا یې هیڅ نه غندي. د ۲۰۰۵ع. کال د جون پر ۲۲ مه د سپیني ماڼۍ یوه ویاند د اسرایلو د مرګ ژوبلي د ملاتړ په ترڅ کي خبریالانو ته څرګنده کړه چي: "د دوی، یعني د فلسطینیانو وژل او ټوک ټوک کول ضروري دي" (They need to be dismantled) نو اوس تاسي فکر وکړئ چي د امریکا له دغسي اند او فکر څخه هیله او توقع عبث نه ده ؟

د امریکا حکومت خپل ځان د خیر، ښېګڼي هیواد (Welfare state) ګڼي خو عملا شتمني د عوامو پر ځای د دغه هیواد د شتمنو په لاس کي ده. دغه ټپۍ (طبقه) د خپلو ګټو د خوندي کولو لپاره بیروکراسي او پوځ پالي چي له امله یې د امریکا ټولنیز، اخلاقي او اقتصادي بنسټونه ویجاړ سوي دي. امریکا چي د خپل پوځ او ډالرو په مټ کوم خطرناک میلان پر

مخ بيايي هغه سيکولريزم دی. دا د امريکا يـو ازني" تحميلېـدونکی عـلاج "(American imposed Treatment) دی. چي لومړنی هدف يې اسلامي نړۍ ده. مقصد دادی چي د دې امت له دماغ څخـه د لـوی څـښتن د اعلٰـی حاکميــت تــصور پرېمينځــي. دوی دې تــه د فرهنگــي ودي او پرمختيــا نوم ورکوي. کوم چي له امله يې د اسلامي ټولني روحاني ارزښتونه لـه منځـه ځي. د ماده پالني او سيکولريزم جوړه سوې لار په اصل کي داسي يوه گمراهي ده چي هر گام پر اخيستل اسلامي ټولنه له خپل اصلي منزله ليري بيايي.

## د بش ښکېلاکي ډکټورين

د امريکا اوسني ولسمشر جورج واکر بش چي کله د ولسمشرۍ په دنده پيل وکړ، اعلان يې کړه چي د هغه اصلي کار دادی چي د هغـه د پـلار مـشر بـش نيمگړې اجندا بشپړه کړي. په دې موخه هغه په خپله کابينه او د ملي امنيت په شورا ( National Security counsel) کي د خپل پـلار د وختـو اعتمـادي وزيران او حکومتي او تجارتي همکاران راغونډ کړل. لکه چي هغـه د امريکـا د هغه مهال د دفاع وزير ډک چيني د خپل مرستيال په توگه وگوماری.

څنگه چي ډک چيني پر حکومتي دنده سربېره د تېلو په سوداگري کي هم د پخـواني ولسمـشر بـش شـريک او سـلاکار وو، ځکـه نـو اوسـني ولسمـشر د امريکا د ملي امنيت د شورا په لومړنۍ غونډه کي هغه ته دنده وسپارل چي د "بش ډکټورين" لپاره لارښوونکي اصول وضع کړي. لکه چي څرگنـده ده د امريکا د اقتصاد د څرخ د پر حرکت راوسـتلو او پـه دې تـرځ کـي د خپلـو تجريو د ډکولو لپاره د امريکا زياتره جمهوري غوښـتونکي سياسـتوال عـادت سوي دي چي ټولي ملي پاليسۍ د " تېلو "پر محور باندي جوړي کړي. ځکه نو کوم رپوټ چي د امريکا د ولسمشر مرستيال ډک چيني د ۲۰۰۱ع. کال پـه جولای کي د امريکا د ملي امنيت شـورا تـه وړانـدي کـړ، پـه هغـه کـي پـه راتلونکې کي د امريکا په ټولو اجنداوو کي د " تېلو " ملي اجندا ( د پاليـسۍ عناصرو) ته پر لومړيتوب باندي ټينگار سوی وو.

د دغه رپوټ سره سم به تر ۲۰۲۰ع. کال پوري په امريکا کي د تېلو په توليـد

کي پنځوس سلنه زياتوب راسي. چي په دې توګه به د تېلو د اوسنيو زېرمو په توليداتو کي تر خطرناکي پولي کمښت راسي او هغه سيمي به چي د تېلو د زېرمو له امله د امريکا سترګي په روښانه دي خپل ارزښت له لاسه ورکړي.

په دغه رپوټ کي د سعودي عربستان يادونه هم سوې ده. سعودي عربستان اوسمهال د نړۍ په ټولو هيوادونو کي د تېلو د زياتو زېرمو درلودونکی هيواد دی. خو د تېلو د زيات استخراج او امريکا ته د ډېرو تېلو صادرولو له امله امکان لري چي تر ۲۰۲۶ع.کال پوري په دغو زېرمو کي تر زياتي کچي کمښت راسي. په دې صورت کي به امريکا ته سعودي عربستان خپل ارزښت له لاسه ورکړي او بل عوض به يې هم نه وي. د ډک چيني په رپوټ کي چي په حقيقت کي د بش د دکتورين د لومړۍ خښتي حيثيت لري، پر نړۍ باندي د دبدبې د ټينګولو او په داسي طريقه چي د دوی د خوښي سره سمه وي د نړۍ د ولسونو د بېرولو او ښکارولو لپاره لاندي عناصر اړين ګڼل سوي دي:

(۱) اقتصاد (۲) سياست (۳) پوځي ځواک.

خو په دې ټولو کي اقتصاد ته پر نورو عناصرو باندي زيات لوړوالی او ارزښت ورکول سوی دی. دا ځکه چي د نورو عناصرو شتون د اقتصاد په شتون اړه لري. که په امريکا کي اقتصاد پياوړتيا مومي نو په نړيوالو چارو کي به د هغې اغېز پياوړی وي، خو که يې اقتصاد وده نه کوي، نو د پوځي ځواکونو د اغېزمنتيا لپاره به لګښتونه له کومه کړي؟ که لږ ځير سو نو د بش د دکتورين کورني او بهرني عناصر يو د بل سره تړلي دي او هغه دا چي امريکا ته د يوه هيواد په توګه دپاته کېدو لپاره په کورنۍ سطح پر دغو درو عنصرو باندي نور ټول شيان ولاړ دي. بالکل په همدې ډول امريکا پر نړۍ باندي د ولکې ټينګولو لپاره پر دغو درو عناصرو مشتمله يوه اوږدمهالې ستراتيژي هم طې کړې ده. د دغې ستراتيژۍ سره سم امريکا د خپل ښکېلاکي حرص او د نړيوالي واکمنۍ د هيلو د ترسره کولو لپاره نور هيوادونه لومړی په خپلو اقتصادي ښکېلاکي منګولو کي د نړيوال بانک او آی ايم

ایـف(International Monetary Fund ( IMF ؛ نړیـوال وجهـي صندخ ) له لاري راولي. بیا په دوهم گام کي د خپلو بریالیو سـفارتي اړیکـو په برکت د دغو هیوادونو د منطق خولي بندوي او پای د پوځي ځواك پـه مټ هغوی د تل لپاره مغلوبوي.

تر دوهمي نړیوالي جګړې وروسته په دې هکلـه زمـوږ مـخ تـه ډېـري بېلګې پرتې دي، چي افغانستان او عراق یې تازه بېلګـې ګڼـل کیـږي. ډک چیني د بش په دکتورین کي ټوله نړۍ د تېلو او د امریکا د بالقوه او بالفعل ګټو د ترلاسه کولو او ساتلو او د هغو د اهمیت لـه پلـوه پـر لانـدي برخـو وېشلې ده :

( ۱) **عربي خلیج** (ARABIAN GULF) :

د بش په دکتورین کي دغه سیمه ډېر اهمیت لري. د دې یو لامـل دادی چي د نړۍ تر ټولو زیات تېل په دغه سیمه کي موندل کیږي. د تېلو د زېرمـو له پلوه سعودي عربستان په لومړۍ او عراق پـه دوهمـه لیکـه کـي دریـږي. پر دې سربېره څنګه چي د اسلام روحاني منځي (مرکز) هم په دغه سیمه کي واقع دی، نو دغه سیمه له سیاسي پلوه هم ډېـر ارزښـت لـري. بـل دا چـي عربي خلیج له نظامي اړخه هم ډېر مهم دی. امریکا له دغه ځایـه سـهیلي او منځنۍ آسیا هم تر خپلي ولکې او څارني لاندي راوستلای سي.

( ۲) **کېسپین ( قزوین یا خزر سمندرګی** CASPEAN SEA ) :

په منځنۍ آسیا کي دغه سمندرګی د تېلو او ګازو له زښـتو زیـاتو زېرمـو څخه ډک دی. خو د دغه ځای په یوه لیري پرته اُرشو بالقـان کـي د امریکـا حریف روس هم په سیمه کي د خپلو ګټو د ترلاسه کولو لپاره کوښښ کـوي او په دې هکله یې د پام وړ بریاوي تر لاسـه کـړي دي. البتـه لـه بلـي خـوا د خزر د سمندرګي په بل لوري کي ایران هم د ډېرو وسایلو دعوه کوي. لکه چي څرګنده ده دغه هیواد له نظریاتي پلـوه هـم د امریکـا سـره د مخالفـت دعوې کوي. پر دې سربېره روس او ایران په سیمه کي د ځینـو نـورو ګټـو

د تر لاسه کولو له پلوه هم د امريکا سره په ترېګني اخته دي. د دغو واقعيتونو په پام کي نيولو سره امريکا د دغو هيوادونو د اغېزو د مخنيوي لپاره هم لګيا ده په سيمه کي خپلي اغېزي زياتوي. د کېسپين سمندرګی له دې اړخه هم د امريکا د پاليسۍ جوړوونکو په اند ستر ارزښت لري.

## (۳) لاتينه امريکا (LATIN AMERIVA)

پخوا د لاتيني امريکا ډېرو هيوادونو دپخواني زبرځواک شوروي اتحاد سره د دوستۍ مزي ټينګول او شوروي اتحاد هم دغه هيوادونه د خپل ښکېلاکي حرص او سراښۍ هدف ګرځولي وه. خو امريکا هغه مهال دغو هيوادونو ته سترګي نه سواى ښکاره کولای. اوس چي دغه هيوادونه د روس له ولکې وتلي او په آزاده توګه د خپل برخليک د ټاکلو په چارو لګيا دي، نو امريکا د خپل فطري ښکېلاکي خوی له مخي له تېلو او ګازو څخه د دغي ډکي لاتيني سيمي تر ولکې لاندي راوستلو لپاره لاري چاري سنجوي. په دې لړ کي د اوپک د سازمان د غړي هيواد وينزويلا مثال زموږ مخي ته پروت دی. په دغه سيمه کي له اوس څخه امريکا د خپلي ښکېلاکي اجندا د پلي کولو کار پيل کړی دی.

د ۲۰۰۷ ع.کال په مارچ کي بش د لاتيني امريکې سره د اړيکو د ښه کولو په موخه د سهيلي امريکې پنځو هيوادونو ته سفرونه وکړل. که څه هم په دغو هيوادونو کي په دولتي کچه د بش او د هغه د ملګري پلاوي تر يوې اندازې هر کلی وسو، خو د دغو هيوادو نو خلکو د هغه د سفر په هکله شديد مخالفت څرګند کړ. ولسمشر بش لومړی برازيل ته ورسېد. خو د دغه هيواد په ساوپاولو کي لږ تر لږه دېرشو زرو تنو مظاهره کوونکو د هغه په دې شعارونو هرکلی وکړ:"بشه له عراقه ووزه !" او " مړ دي وي لومړی لمبر ترهګر جوج بش". په ساوپاولو کي له الوتکي څخه د بش تر راکښته کېدو څو ساعته دمخه د کيڼ اړخو عناصرو سره اړيکي لرونکو وګړو د امريکا قونسلګري په ډېرو وويشتل. په دواړو ځايونو کي پر قهرجنو مظاهره کوونکو باندي د پوليسو لخوا اوښکي بهوونکی ګاز او ربړي ګولۍ استعمال سوې.

په کولمبیا کې د بش پر ضد د مظاهرو په دوهمه ورځ مخ پټو مظاهره کوونکو پر پولیسو د ډبرو او پټاکیو واري وکړل. په دغه څلور ساعته اخ وډب کې دولتي چارواکو پرمظاهره کوونکو تېزي اوبه وشیندلې. دغه راز په کولمبیا کې خلکو د هوایي ډګر پر بېلو بېلو ځایونو داسي شعارونه ځړولي وه: "کولمبیا د عراقیانو قاتل ته ښه راغلی نه وایي" "شیطان صفت ټولواکمن جورج بشه ووزه! ".

کله چې بش ګواتیمالا ته ورسېدی، هغه وغوښتل چې یوه پخواني سپېڅلي زیارت ته ورسي. خو د مایا د قبیلې خلکو د غه سپېڅلي ځای ته د بش د ورتلو په خلاف خپل جذبات څرګند کړل. د دغې قبیلې یوه مشر روډولفو یوکوپ وویل: ولسمشر بش دي زموږ دغه مقدس ځای خپل تیکزاس نه بولي. کله چې هغه د دغه ځای تر لیدلو وروسته ولاړ سي، موږ به په دغه ځای کې د هغه د بیا پاکولو لپاره خوشبویي دود کړو او د اوبو په پرېوللو او د ګلانو په شیندلو سره به یې تقدس بیا پر ځای کړو. په مکسیکو کې هم خلکو د بش په مخالفو ولولو څرګندولو سره هرکلی وکړ.

**(۴) د افریقا لویه وچه :**

د افریقا د بېدیا په سهیل کې پرتو هیوادونو یوه اوږده تراډه جوړه کړې ده، چې زیات هیوادونه یې د مسلمانانو دي. الجزایر، لیبیا او سوډان هغه اسلامي هیوادونه دي چې د تېلو له زښتي زیاتي شتمنۍ څخه برخمن دي او د پوځي او اقتصادي ځواک په برکت هم د افریقا پر سیاست باندي اغېز ښندي. لیبیا او الجزایر د اوپک غړیتوب هم لري او سوډان د چین په مرسته اوس د تېلو د تولید په چاره کې ستر بریالیتوبونه ترلاسه کړي دي. خو د دې سره سره الجزایر او سوډان د امریکا د لاسوهنو له امله اوس په کورنۍ جګړه کې راښکېل دي.

په دې سیمه کې کینیا، زمبابوی، جیبوتي او سومالیه هم ارزښت لري. څنګه چې سومالیه او جیبوتي د ډېر مهم سره سمندرګي پر دواړو غاړو پراته دي د جنګي پلوه یې هم اهمیت زیات ګڼل کیږي. د امریکا د چارواکو په

وینا دغه سیمه دوی ته حیاتي ارزښت لري او د دوی د پالیسۍ د فهرست په سر کې یې ځای نیولی دی. خو په ۱۹۹۴ع. کال په سومالیه کې د خلکو لخوا د امریکایي پوځیانو تر شرموونکي مرګ ژوبلې وروسته په څلېرویشتو ساعتو کې اته څلوېښت زره امریکایي پوځیان له دغه هیواده وتښتېدل. تر دغو پېښو وروسته امریکا دغه سیمه د خپلې پالیسۍ د فهرست په څلورمه درجه کې راوستل.

لکه چې موږ وړاندې عرض کړل په اقتصاد، سیاست او عسکري ځواک کې داسې عناصر سته چې یو له بله تړاو سره لري. له دې امله امریکا له یوه پلوه د نړۍ پر اقتصادي زېرمو باندې په ولکې ټینګولو او د سیاسي چارو په خپل لاس کې نیولو لپاره اقتصادي او سیاسي چلونه په ډېر بري سره په کار اچوي او له بله پلوه د پوځي ځواک پیاوړي کول او د هغه په مټ د کمزورو ولسونو اېلول او تابع کول هم د امریکا په ملي اجندا (د بش په دکتورین) کې بنسټیز ارزښت لري. لکه چې په دې لړ کې ولسمشر بش د میزایلو د ملي دفاع د ډېر خطرناک او متنازع پروګرام د پیلولو اعلان کړی دی. په دې توګه بش له یوې خوا د کمزورو ولسونو د عام وژنې په هکله لاسلیک ورکوي او له بله پلوه یې په نړۍ کې د وسلې یوه خطرناکه لوبه هم پیل کړې ده.

لکه چې د ولسمشر بش تر دې اعلان وروسته سمدستي روسي ولسمشر ولادیمیر پوتین هم د میزایلو د دفاع د پیلولو اعلان وکړ او د خپلو کنګل کړی سوو اټومي وسلو د بیا جوړولو پروګرام یې پیل کړ.

د بش په دکتورین کې تر ټولو خطرناک ټکی "تر اقدام دمخه د اقدام" پالیسي ده. چې له مخې یې امریکا د هر شکمن ځواک پر ضد ښبله مخکنۍ خبرتیا او دلیله، هر مهال چې وغواړي برید کولای سي.

یهودي پانګوالو او د لویې غوښتونکي او جګړه غوښتونکي ذهن څښتنو وزیرانو او سلاکارانو ته او د نړیوالو پېچلو او کړکېچنو حالاتو او پېښو څخه بې خبر بش ته یا د دغه خطرناک دکتورین د خطر او ورانۍ کچه نه ده معلومه او یا دوی په پوهه سره نړۍ د اور سمندر ته ور ټېل وهي. چې په

پایله کي به یې یوازي او یوازي د بش او د هغه د اطرافیانو شیطاني هوس تسکین سي، خو انسانیت ته به یې ناخوالي تر حد تېري وي.

آخر دا څنګه کېدای سي چي په طبیعي توګه پر هیوادونو، ولسونو او مذهبونو وېشلې نړۍ په یوه غالب کي ځای سي. زغم، سهنه او قناعت داسي توکي دي چي په خپلولو سره یې د انسانیت د بقا او پایښت انتظام رامنځته کېدای سي. د ولسمشر بش دي په یاد وي چي تر ده دمخه د روم سلطنت، د فارس قیصر، د برتانیې تاج او هټلر هم د نړیوالو د اېلولو په موخه نړۍ د ورانۍ سره مخامخ کړې وه. خو دوی پای سخته ماته وخوړه. البته د شوروي اتحاد شوړېده او راپرزېده خو مو په سترګو ولیدل. د بش به د افغانستان او عراق په نظامي لنډ مهالی اشغال وس رسېدلی وي، خو پای به یې برخلیک هرومرو د شوروي غوندي وي.ان شاء الله، وماذلك على الله بعزيز.

## هم به ظلم وي او هم به امنیت وي ؟

ولي وسله وال برید کوونکي پر امریکایي اهدافو باندي بریدونه کوي؟ څله تر خپلو شېرینو ځانونو تېرېږي ؟ او څله په ټوله نړۍ کي د امریکا په وړاندي مخالفتونه ورځ تر بلي زیاتېږي؟

د دې خبرو په جواب تاسي ډېر ښه پوهېږئ. کله چي ظلم او تېری تر حد تېر سي نو د مظلوم لخوا هرو مرو په هره بڼه چي وي غبرګون ښوول کیږي. تاسي ځیر سئ د مځکي په ټوله کره کي امریکا یوازنی هیواد دی چي پر هر لوی او واړه هیواد باندي خپله ولکه او ټیکه ټینګول غواړي. د نړۍ په ګوټ ګوټ کي د جګړو د اورونو بلول، ګډوډي راوستل، آرام حالت نا آرامه کول او د هیوادونو قوانین تر پښو لاندي کول د امریکا ډېره غوره بوختیا ګرځېدلې ده. پر هر هیواد باندي خپله خوښه تپل او د هغې له خوښي څخه د سرغړوونکو هیوادونو پر ضد نړیوال بندیزونه لګول او هغوی له اقتصادي پلوه له پښو اچول، بیا د ترهګرۍ تورونه پر تړل او وریسې پوځي یرغلونه پر کول د امریکا د پټو ادارو دنده ګرځېدلې ده.

تاسي فکر وکړئ په ۱۹۶۱ ع کال امریکا ببله کوم لامله یوازي د خپل

زور ښوولو او ازمايلو او د كمونيزم د مخنيوي په پلمه د ويټنام جګړې تـه ور ودانګل او تر ۱۹۷۵ ع. كال پوري يې د پنځو لكو پوځيانو په ذريعه بې خرته بمبارۍ پر وكړې او اويا لكه ټنه بمونه يې پر واورول. چـې لـه دغـو بـاروتو څخه هر تن ته په اوسطه توګه پنځه سوه پونډه رسيږي. د دغو ړندو بمبـاريو په پايله كې د ويټنام پر مځكه شل مليونه كندي رامنځته سوې. د دې بمباريو له امله چې په لكونو انسانان پكـښې ووژل سـول ويټنـام پـه كلونـو كلونـو د سترو ستونزو سره لاس او ګريوان وو.

په ۱۹۴۵ ع. كال امريكا پر هيروشيما او ناګاساكي اټوم بم وكاراوه او دغه دواړه ښاره يې په بشپړه توګه د مځكـې لـه سـره واخيـستل. د دغـو اټـومي بريدونو له امله (۶۲) زره كوره د خاورو سره سم سول. دوه لكـه انـسانان پـه لوګي او خاورو كـې ورك سـول او څـوارلس زره وګـړي د راډيـو اكټيـو وړانګو له امله په ډول ډول ناروغيو او تكاليفو اخته سول.

له ۱۹۴۵ كال څخه تر ۱۹۴۶ ع. كال پوري امريكا پر چين بمبـاري وكـړه. په دې بمباريو كې (۲۵۰) بم توغوونكو الوتكو برخه درلوده او دوه لكه پونـډه باروت يې واورول، هره خوا يـې عـام وژنـه رامنځتـه كـړه. تـر دې وروسـته امريكې د ۱۹۵۰ ـ ۱۹۵۳ ع. كلونو په بهير كې پر كوريا بريد وكـړ. (د كوريـا پـه جګړه كې سل زره تنه ووژل سول).په ۱۹۵۴ ع. كال يې پـر ګواتيمـالا يرغـل وكړ. په ۱۹۵۸ ع. كال يې اندونيزيا ته پوځونه ننه ايستل. په ۱۹۶۰ ع. كال يـې پر كيوبا بمباري وكړه. په ۱۹۶۰ ع. كال يې بيا پر ګواتيمـالا بمبـاري وكـړه. پـه ۱۹۶۴ ع. كال يې پر كانګو بمباري وكـړه. پـه ۱۹۶۵ ع. كـال يـې پيـرو او پـه ۱۹۷۳ ع. كـال يـې لاووس ونيـول. پـه ۱۹۷۵ ع. كـال يـې پـر ويټنـام او پـه ۱۹۷۷ ع. كال يې پر ګريناډا ړندې بمبارۍ وكړې. پـه ۱۹۸۴ ع. كـال يـې پـر لبنان. په ۱۹۸۶ ع. كال يې پر ليبيـا او لـه ۱۹۸۰ تـر ۱۹۹۰ ع. پـوري يـې پـر السلواډور او نيكاراګوا بريدونه وكړه.په ۱۹۸۹ ع. كـال يـې پـر پانامـه پـوځي يرغلونه وكړه. په ۱۹۹۱ ع. كال يې عراق په بې رحمو بمباريو دړې وړې كړ. په ۱۹۹۸ ع. كـال يـې پـر سـوډان او افغانـستان توغنـدوي وتوغـولې. پـه

۱۹۹۹ع.کال يې پر يوګوسلاويه او د ۲۰۰۱ع.کال د اکتوبر پر اوومه يې پر افغانستان او بيا يې د ۲۰۰۳ع.کال د مارچ پر شلمه پر عراق يرغلونه وکړه.

دا پر ځينو هيوادونو باندي د امريکا د يرغلونو لنډ فهرست وو. آره خبره خو داده چي امريکا په ۱۷۸۹ع.کال د فرانسې پر ضد د نا اعلان سوي جګړې له پيلولو او په پورتو پلاتا کي د هغې د ميرين ( بحري پوځيانو ) له پلې کولو او يرغل څخه نيولې په ۲۰۰۱ع.کال پر افغانستان او په ۲۰۰۳ع.کال پر عراق باندي تر يرغلونو پوري (۲۴۲) واره د نړۍ پر بېلو بېلو کمزورو هيوادونو باندي پوځي يرغلونه او جاسوسي او تخريبي عمليات تر سره کړي دي او د هغو خپلواکۍ يې له منځه وړي دي. چي د دې تېريو له امله په سلګونو زره خلک ووژل سول او بېخي ډېر وګړي ټپيان، بې کوره او معلول او معيوب سوي دي.

دا چي امريکا په نورو ځايونو کي څه شيطنتونه کړي او کوي يې او د جګړو څونه اورونه يې بل کړي، خپله يې پر دې جګړو څونه سرساموونکي لګښتونه کړي او څونه وسلې يې پلورلي او اوس يې هم پلوري او نن مهال څونه سرساموونکي دفاعي او پوځي لګښتونه کوي او د وسلو جوړولو څونه ستري فابريکې او زراد خانې يې په وسلو جوړولو بوختي دي او څونه ډول ډول پر مختللي وسلې، جنګي الوتکي، بېړۍ، توپونه، توغندوی، ډول ډول اټومي تاسيسات او نور جوړوي په دې هکله اوږدو څرګندونو ته اړتيا ده.

اوس نو چي د يوه هيواد د ظلمونو او تېريو کيسه دونه اوږده وي او له دغسي شريرو عناصرو څخه د نړۍ د بېلو بېلو برخو مظلوم اوسېدونکي تر پزي راغلي وي نو چي د داسي هيواد پر ضد بمي چاودني ونه کړي آيا د ګلو ګېډۍ ور ته وړاندي کړي ؟

حقيقت دادی چي د مځکي د کرې هر لوی او کوچنی هيواد د امريکا د شومو پاليسيو څخه په تنګ سوی دی. د دغو هيوادونو خلک اوس عدل او انصاف غواړي، خو چي انصاف نه وي خود به دغه د چاودنو او تر سر

تېرېدنو لار اخلي. دغه لامل دی چي امريکا په دننه کي له ډېري مودې څخه د بېلتون غوښتونکو سازمانونو د بمي چاودنو او وسله والو بريدونو او په دباندي کي د شلو کالو را په دې خوا په بېلو بېلو هيوادونو کي د ترهگرۍ سره مخامخ سوې ده.

په کراچي او اسلام آباد کي د امريکا پر قونسلگريو باندي تر بمي چاودنو دمخه د امريکا پر ضد داسي نوري ډېري پېښي تاريخ ثبت کړي دي.

د ۱۹۷۹ع.کال د نومبر پر څلورمه په ايران کي د امريکا په سفارت کي (۵۲) تنه امريکايان د ايراني محصلينو لخوا يرغمل ونيول سول. امريکا د خپلو اتباعو د ژغورني لپاره په پوځي عملياتو گوتي پوري کړې. خو په پايله کي يې د خپلو وژلو سوو پوځيانو لښونه او را نسکوره سوې چورلکه پرېښوول او و تښتېدل. د ۱۹۸۰ع.کال د اپريل پر اتلسمه په بېروت کي د امريکا د سمندري پوځيانو په بارك کي چاودنه وسوه چي په پايله کي يې (۲۴۱) تنه پوځيان ووژل سول. د ۱۹۸۸ع.کال د دسمبر پر يوويشتمه په پانامه کي د امريکا د هوايي کرښي يوه الوتکه راوغورځول سول چي (۲۷۰) تنه پکښي ووژل سول. د۱۹۹۱ع.کال د فرورۍ پر شپږويشتمه د امريکا د نړيوالي سوداگرۍ د مرکز په پارکينگ کي چاودنه وسوه چي شپږ امريکايان پکښي ووژل سول. د ۱۹۹۵ع.کال د اپريل پر نولسمه د امريکا د اوکلاهاما د ايالت په حکومتي ودانۍ کي بمي چاودنه وسوه چي له امله يې (۱۶۸) تنه د مرگ په خوب بيده سول. د ۱۹۹۸ع.کال د اگست پر اوومه د نايروبي په بندر او ټانزانيا کي د بمي چاودنو له امله (۲۴۴) امريکايانو خپل ژوند له لاسه ورکړ. د ۲۰۰۲ع.کال د اکتوبر پر دوولسمه د يمن د عون په بندر کي امريکايي بېړۍ د بمي چاودنو تر بريد لاندي راغله چي له امله يې يوولس تنه امريکايي پوځيان ووژل سول. خو د امريکا په تاريخ کي تر ټولو بده او خونړۍ پېښه د ۲۰۰۱ع.کال د سپټمبر پر يوولسمه وسوه چي د نيويارك د نړيوالي سوداگرۍ د مرکز آسمان څکي ودانۍ يې د مځکي مچولو ته اړي کړې او د خاورو سره برابري سوې. چي په زرگونو وگړي

پکښي ووژل سول او د امريکايي طاغوتيانو ماغزه يې داسي ور خراب کـړل چي تر اوسه لا نه دي سم سوي.

دغه ارقام د دې پوښتني جـواب دی چـي پـه نـړۍ کـي امريکـا څلـه د ترهګرۍ سره په ستونزو اخته ده ؟ د هغې سمندري بېړۍ ولي په بمونـو الوزول کيږي ؟ د هغې سياسي نمايندهګۍ ولي په بمي چاودنو ورانيږي ؟ او د نړۍ په ګوټ ګوټ کي د امريکا د بيرغ په سوځولو سره ولي د هغې په وړاندي کرکه ښوول کيږي. رشتيا ده چي وايي: څه چـي کـرې هغـه بـه رېبې. اوس نو که په ټوله نړۍ کي د خلکو په زړونو کي د امريکـا پـر ضـد د کرکي څپې را خوټېدلي او څپڅپاندي سوي دي څه د تعجب وړ خبـره نه ښکاري. امريکا چي په خپلو لاسونو څه کرلي دي هغه به رېبي. د امريکا ناسمو پاليسيو د نړۍ ټول خلك د هغې پر ضد را پارولي دي. امريکا چـي پر کومو هيوادونو خپل غيض او غضب پلی کـړی او ورسـره يـې هغـوی لوټلي او ترټلي او کړولي هم دي او خپلواکي، انساني حقوق، حيثيـت او نور هر څه يې ځيني اخيستي او په زياترو ځايونو کي يې خپل بې حيثيتـه او بې کفايته ګوډاګيان، د شر او فساد توکي او داړه ماران پر واکمن کـړي دي، نو خود به د خپلو حقوقـو د ترلاسـه کولـو لپـاره دغـسي تکلونـو او اقدامونو ته اړ کيږي.

دلته بايد وپوهيږو او د دغو تاو تريخوالـو رشـتياني لاملونـه او محرکـات درک کړو او بيا د هغو د پايته رسېدو لپاره سم او وړګامونه پورته سي. ځکه د ظلم او امنيت د يو بل سره يوځايوالی اوبقـا شـونې نـه ده. کـه د امريکـا دغسي پاليسۍ رواني وي نو دغسي چاودني به هـم هرومـرو اولازمـي وي. ځکه د تاريخ درس همدغسي دی. ظلـم او نـا انـصافي چـي زياتـه سـي نـو هرومرو غبرګون رامنځته کوي. څوک په ظلم او تعدیٰ ځانته درناوی نه سي ګټلای. له دغو چاودنو څخه د ژغورني لپاره امريکا ته فقط يوه لار پاتـه ده او هغه داده چي امريکا چي د کومو ولسونو او هيوادونو حقوق غصب کـړي او تر پښو لاندي کړي دي، د هغو سـره بايـد د عـدالت او انـصاف لار خپلـه

کړي. که نه تر څو چي د انسانانو سره بې عدالتي کيږي تر هغو به غبرګونونه هم روان وي.

هم به ظلم وي هم امن  دا هيڅکله کېداى نه سي.

## امريکا ټوله نړۍ د ستر خطر سره مخامخ کړې ده

زموږ نړۍ ورځ په ورځ مخ پر تودېدو روانه ده. د هر کال په دوبي د تودوښي کچه د تېر کال په پرتله زياتيږي. دا ولي داسي کيږي؟ د دې لاملونه څه دي؟ د تودوښي زياتوالي نړيوال څله انديښمن کړي دي؟ که خبره يوازي همدومره وي، دا خو دونه د انديښنې وړ خبره نه ده. خو په حقيقت کي خبره بله ده.

وايي چي له اوس څخه په لس ګونو زره کاله دمخه زموږ د نړۍ ډېره برخه په واورو پوښلې وه. دغه مهال ته د "واورو پېر" (Ice age) هم وايي. دغه مهال د امريکا او اروپا ټولي سيمي په بشپړه توګه تر وارو لاندي وې. کابو يوولس زره کاله وړاندي د امريکا او اروپا واوري ويلي سوې او په پايله کي يې د سمندر سطح څو پټه لوړه سوه. د ځمکي سهيلي او شمالي قطبونه سر وکال په واورو پوښلي وي. په سهيلي قطب کي د واوري د قطر زيات والی د شمالي قطب په پرتله بېخي زيات دی. د ټولي نړي (۹۰) سلنه واوره په سهيلي قطب کي ده. خو په دغو دواړو قطبونو کي کنګل سوې واوره د ځمکي د کرې د تودوښي د کچي د لوړ والي له امله اوس تر ښتو زياتو کلونو وروسته په ډېر چټکوالي سره ويلي کيږي. د امريکا د هاورډ پوهنتون (Howard University) د استاد ډاکټر جېمز ميکارتهي په وينا:

" اوس د شمالي قطب کنګل سوې واوره تر پنځو کروړو کالو وروسته د لومړي ځل لپاره د ويلي کېدو په حال کي ليدل کيږي".

د ټولي نړۍ ساينس پوهان، په تېره د امريکا او اروپا ساينس پوهان په دې هکله اريان پاته دي. دوی وايي چي که د شمالي او سهيلي قطبونو واوره ويلي سي نو د نړۍ د سمندرونو سطح به (۱۸۰) پټه لوړه سي او له دې امله

به لويه تباهي را منځته سي. په سمندرونو او سيندونو کي به اوبه دونه ډېري سي چي پر وچو به و بهيږي. دوی وړاند وينه کړې وه چي د ۲۰۰۰ع.کال تر پايه به د سمندرونو سطح د کاله يوه نيمه سانتي لوړه سي او د دې خبري شواهد هم ترلاسه سوي دي چي په راتلونکو کلونو کي به د سمندرونو د سطحي لوړوالی نور هم زيات سي.

د دې خبرو يو ثبوت دادی چي په تېرو شلو کلونو کي د شمالي قطب (۴۰) سلنه واوره په بشپړه توګه ويلي سوې ده. د اريانتيا وړ خبره داده چي د سهيلي قطب په پرتله د شمالي قطب واوره په ډېره چټکی سره ويليږي. د سهيلي قطب د واوري ضخامت ببخي ډېر زيات دی او د هغو د ويلي کېدو امکانات ډېر کم دي. خو له ساينسي مشاهداتو څخه جوته سوې ده او په دې اړه د امريکا د څېړني ادارې National Aeronautics and Spas Administration (NASA) هم رپوټ خپور کړی دی چي د يوويشتمي پېړۍ تر پايته رسېدو پوري به د شمالي قطب ټوله واوره په بشپړه توګه ويلي سي او کوم هيوادونه چي به له دې امله زښت زيات زيانمن سي په هغو کي به کاناډا، امريکا، برطانيه، فرانسه، المان، ډنمارک، هالينډ، ايټاليا او د لوېديزي اروپا نور هيوادونه شامل وي. د (NASA) د رپوټ سره سم په تېرو دوولسو کلونو کي د شمالي قطب نهه سلنه واوره په بشپړه توګه ويلي سوې ده. د ۱۹۷۸ او ۲۰۰۰ع.کلونو په منځ کي د شمالي قطب د دوولسو لکو کېلومترو اُرشو واوره ويلي سوې ده. دغه اُرشو د ټولي برتانيې په پرتله پنځه واره زياته ده. په دې رپوټ کي دا هم راغلي دي چي ځيني لاملونه (چي يادونه به يې څه وروسته وسي) داسي دي چي د مځکي د کرې د تودوښي په درجه کي به نور زياتوب هم راولي او په دې سبب به د واورو ويلېده هم زيات سي.

د ځينو نورو ساينس پوهانو په اند ښايي چي د ۲۱۰۰ع.کال تر پايته رسېدو ډېر دمخه د شمالي قطب ټولي واوري ويلي سي. ځکه په راتلونکو کلونو کي به د نړۍ د تودوښي منځنۍ درجه لږ تر لږه لس ډګرۍ فارن

هايتې زياته سي او له دې امله به د نړۍ د سمندرونو د سطحي لوړ والى لـږ تر لږه درې پټه زيات سي.

د نړۍ د تودوښې د درجې د زياتوب له امله به له سمندرونو څخه د اوبو زيات بخارونه پورته سي او اورېځي به هـم تـر معمـولي كچـې زيـاتي سـې. په پايله كې به په نړۍ كې ورانوونكې او زهرجن اورښتونه او توپانونـه دونـه زيات سي چې له امله به يې په سمندرونو كې د هغـو تـر كچـې اوګنجـايش زياتي اوبه په بهېدوسې، طغياني بڼـې به اختيار كړي او پر وچو به ور خپـرې سي. له دې امله به په نړۍ كې كښت او كروندې كمې سي، بيابانونه به زيات سي او د فقر او ناروغيو د زياتوب له امله به حكومتونه پـه سـلګونو مليـارډه ډالره د روغتيا او درملنې پر چارو ولګوي.

په زيانمنو سيمو كې به كاختي، زلزلې او د اورښتونو سـمندري توپانونـه چې Cyclones Hurricanes ( د بادونو او اورښتونو او د قهـر اوغوسـې توپانونه )ورته ويل كيږي، زيات سي. پـه راتلـونكې كـې د دې خبـري ډېـر امكان سته چې په لوېديزه نړۍ كې به هغه غټ غټ ښارونه د ډېـري سـتري ورانۍ ښكار سي كوم چې د سمندرونو پر غاړو ودان دي او د لوېديزي نړې د اقتصاد اوګټـې وټـې د ملا د شمزۍ د هډوكو حيثيت لري.

د دغو خطرونو د مخنيوي په موخه د ۲۰۰۲ع.كال د اګست په مياشـت كې د ټولې نړۍ ساينس پوهان راغونـډ سـول. هغـو د تودوښـې د درجـې د لوړوالي او د هغې په پايله كې د رامنځتـه كېـدونكو اغېـزو او زيـانونو پـه هكله هر اړخيزه څېړنه وكړه . په دغه كنفرانس كي چې د كاناډا د ټورنټو په ښار كې جوړ سوى وو، د لندن ساينس پوه ډاكټر ر چرډ بيټ د نړۍ ساينس پوهانو ته وويل چـې دوى دي د مځكـې پـه كـره كـې موسـمي بدلونونـه معمولي نه ګڼي. ځكه په راتلونكې كې به د دغو بـدلونونو لـه املـه اروپـا او امريكا د سترو سترو موسمي توپانونو سره مخامخ سـي كـوم چـې مـوږ پـه درسته توګه نه يو ورته چمتو.

په دې كنفرانس كې وويل سول چې په حقيقت كې موسـمي بدلونونـه

پیل سوي دي. لکه چي لیدل کیږي په تېرو څو کلونو کي امریکا او اروپا د ډېرو بدو توپانونو او اورښتونو ښکار کیږي. دغه راز د چک په جمهوریت کي راغلي توپان ډېره ستره تباهي رامنځته کړه، چي له امله یې نږدې دوه لکه وګړي بې کوره سول. تېرکال په هالینډ کي دونه ورانوونکی سېل راغی چي د دغه هیواد په زر کلن تاریخ کي تر ټولو لوی سېلاب وبلل سو.

د اروپا او امریکا په ځینو سیمو کي صرف په څلورو ورځو کي دونه اورښت وسو چي په عامو حالاتو کي په ټول کال کي نه وو سوی. بیا لکه چي د ټولي نړۍ خلک خبر سول د ۲۰۰۴ع. کال د ډسمبر پر ۲۶مه په سهیل ختیزه آسیا کي داسي زلزله او سمندري توپان رامنځته سو چي تر اوسه یې په نړۍ کي ساری نه وو لیدل سوی. د دغه توپان په پیل کي څو کوچنۍ څپې راغلې او ورپسې یوه داسي څپه راغله چي جګوالی یې په ځینو ځایونو کي تر لسومترو او په ځینو کي تر دېرشو مترو رسېدی او د ودانیو څلورم پوړونه یې وځپل چي د رانړېدو سره سم یې د ځان سره یووړل.

وایي چي دغه توپان د اندونیزیا د اچي ښار ډېر وځپی، او هر څه یې ور وران کړل، خو د دغه ځای مسجدونه یې هیڅ نه کړه وران، یوازي په ځینو جوماتونو کي څه درزونه پیدا سوه او د یوه مسجد له ستونونو څخه صرف څلور ستونونه وران سول. دغه راز هغه کسان هم له توپانه وژغورل سول چي په دغو جوماتونو کي یې پناه اخیستې وه.

دغې زلزلې یوولسو آسیایي هیوادونو ته سخت ځاني او مالي زیانونه واړول. څه دپاسه دوه سوه زره تنه انسانان یې ووژل او په ملیونونو وګړي یې بې کوره کړل. د دې زلزلې شدت د ریښتر په کچه ۸،۹ درجې وو. (پخوایې ځیني دغسي سمندري زلزلې سونامي بللي دي. دغه زلزله هم په نړۍ کي د سونامي [ Tsunami] په نامه یادیږي. دا یوه جاپانۍ کلمه ده چي له tsu [ د سمندر د غاړو] او nami [ یاغي څپو] څخه ترکیب سوې ده. یعني: د سمندر یوه ستره یاغي څپه چي په سمندر کي تر مځکه لاندي خوځښت یا اور شیندني څخه رامنځته سي).

دغه راز د ۲۰۰۵ ع.کال د اګست پر ۲۹مه په امریکا کي د کاترینا په نامه استوایي توپان د امریکا د میسي سیپي، آلاباما او لوییزیانا په ایالتونو کي ستر ځاني او مالي تاوانونه واړول. په نیو اور لینز (New Orleans) ښار کي د استوګني کورونه تر اوبو لاندي سول او ټول ښار یې له استوګني وایست. د (Super Dome) په نامه د نامتو لوبغالي چت یې چي د ښار ډېرو اوسېدونکو پنا پکښي اخیستې وه له خپله ځایه وکیښ، د برېښنا جریان یې قطع کړ، ستري مغازې یې وراني کړې، وني یې له بېخه وکښلې او د مکزیک په خلیج کي چي د ورځې ۶۵۰ زره بېرله تېل تولیدېدل، دغه تولید یې ودراوه او د دغه ځای د تېلو د اوو چاڼ ځایونو کار په ټپه ودرېد. چي په دې توګه یې د کارپوهانو د اټکل له مخي تر سلو ملیاردو زیاته خساره واړول بیا جورج بش اجازه ورکړه چي د تېلو د بیي د زیاتو لوړېدو دمخنیوي لپاره دي د امریکا د ستراتیژیکو زېرمو څخه ګټه واخیستل سي او له ځینو اروپایي هیوادونو څخه هم تېل ورواستول سول.

کاترینا د ۲۰۰۴ ع.کال له اګست څخه د امریکا د فلوریډا په ایالت کي شپږم توپان وو.

په دې توګه دادی اوس موږ وینو چي په دغه هیواد او د نړۍ په نورو ګوټونو کي یو په بل پسې ډېر ډول ډول توپانونه رامنځته کیږي او ډول ډول ځاني او مالي ستر ستر تاوانونه اړوي.

ساینس پوهانو اټکل کړی دی چي که د ټولي نړۍ د سمندرونو د اوبو سطح صرف یو متر لوړه سي نو به هالینډ شپږ سلنه، مصر یوه سلنه او نیویارک او لندن په بشپړه توګه تر اوبو لاندي سي. له دغو موسمي بدلونونو څخه د استوا د کرښي او هغې ته د نژدې هیوادونو د زیانمن کېدو امکانات نسبتاً لږ دي. د کاناډاپه یاد سوي کنفرانس کي وویل سول چي د دغو موسمي بدلونونو له امله به د وګړو ستر شمېر د خوندي ځایونو په لټه له یوه ځایه بل ځای ته کډې کولو ته اړ سي.

د پورته ویلو سوو خطرونو په هکله د زیاتو معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره

امريكا د ۲۰۰۲ ع. كال د دسمبر پر شلمه د (ICE Sat) په نامه يوه مصنوعي سپوږمكۍ فضا ته وتوغول. دغه سپوږمكۍ په شمالي قطب كي په هره شېبه كي د پېښېدونكو بدلونونو په هكله تصويرونه او اطلاعات امريكا ته ليږي. اوس د پر مختللو هيوادونو ساينس پوهان په دې هكله مخنيوونكي لاري چاري لټوي. خو دا چي دا چاري به بريالۍ سي كه څنګه دا به په راتلونكو كلونو كي څرګنده سي.

دا چي د دغسي سترو خطراتو په رامنځته كېدو كي امريكا څه ونډه لري او ولې ګرمه بلل كيږي ؟ په دې هكله د نړيوالو چارو د امريكايي كارپوه جان ټرمين (JOHN RIRMAN) د **100 WAYS AMERICA IS SCREWING UP THE WORLD** په نامه د كتاب هغه برخه چي د اخبار جهان (اردو) مجلې د ۲۰۰۶ كال د نومبر د ۲۷ مي د دسمبر تر دريمي ګڼه كي ژباړل سوې ده، ښه معلومات وركوي. موږ به دغه برخه له دغي مجلې څخه راوژباړو :

آيا امريكا په رشتيا نړۍ ته د سلو لارو يا تر دې په زياتو طريقو د تاوان رسولو لپاره رشتياني كوښښونه كوي ؟ دا خبره په څرګنده عجبه او د خندا وړ برېښي چي په نړۍ كي د امريكا څېره په دغسي ناسمه توګه وښوول سي. خو په دې كي يو سنجول سوى ټكي هم پټ دى. امريكا د يوه ډېر ځواكمن قوم په څېر نړۍ له بې شمېرو لارو تر خپلي كنټرولي ( فشار ) لاندي راولي. د دغه هيواد فرهنګ او مصنوعات د ټولي نړۍ پر فرهنګونو او رانيوونكو باندي اغېز ښندي. د دې هيواد ډېري پياوړي اقتصادي اجندا د نړۍ ډېري داسي ادارې چي نړيوال تجارت كنټرولوي په زور تر خپلي ولكې لاندي راوستي دي.

د دې ټولو كړنو سره سره امريكا خپل ځان په انساني تاريخ كي د آزادۍ او خير ښېګڼي تر ټولو روښانه وړانګه بولي. د آزادۍ، برابرۍ، سياسي بشري حقونو او رشتيانيو خوښيو لټولو غوندي ستر ستر امريكايي اصول له دوو پېړيو څخه د ټولي نړۍ د هيلو بنسټ جوړوي او د نړۍ ډېر وګړي دغو

سترو اصولو ته په ډېر درنښت ګوري. خو دا خبري اوس په موږ کي د يـوې کيسې غوندي تکراريږي. اما په کومو خبرو چي امريکايان نه پـوهيږي هغـه دادي چي امريکا چي په نړۍ کي څه کـړي دي، هغـه د څـه ډول ورانيـو لامل کيږي. په دې هکله رشتيا خبره داده چي د امريکـا دغـه چـاري ټـولي نړۍ ته د ورانوونکو پايلو لامل کيږي.

د دې کتاب موخه د تضادونو ښکـارندول نـه، بلکـي د هغـو اواری دی. امريکايانو ته تر هرو څو ورځو وروسته د حقيقت د يوه خـوراک اړتيـا ده او تر دې وروسته د دوی د خپل ځان سـره د مينـي کولـو د عـادت د معتـدل کولو لپاره د دې فکر کولو اړتيا هم رامنځته کيـږي چـي امريکـا د مځکـي د کرې د نوري برخي سره څه کوي.

اوس ښـوونځي تـه هـر تلـونکی کـوچنی پـوهيږي چـي مـوږ پـه يـوه ”ګلوبلايز “ ( Globalize د يوه کلي په شان په يوه سره نژدې سوې ) نړۍ کي اوسو. چي د ټکنالوژۍ، انساني کـډوالۍ او سـوداګرۍ لـه املـه ډېـره کوچنۍ سوې او زښته زياته سره نژدې سوې ده. خو دې حقيقت ته ډېر لـږ پام اوړي چي د ”ګلوبلايزېشن“ (Globalization)دغه چاره پخپله سـترو ځواکونو، په تېره امريکا زېږولې، چي د يهودو له مغزو راوتلـې او دا يـې پـه داسي ښه توګه تخليق کړې ده چي ډېرو لږو امريکايانو ته يې ګټـه رسـېدلې ده. دګلوبلايزېشن تر عنوان لاندي له دې هلو ځلو څخه اصـلي ګټـه چاتـه رسيږي؟ څوک پکښي وړونکی؟ او څوک پکښي بايلونکی دی؟ امريکـا يـو شتمن او ډېر خوځند هيواد دی. ځکه نو د دغه هيواد د هر اقدام او هري کړني اغېزي د مځکي پر هر کنج ښکاريږي.

د ځواکمنو ولسونو ځيني کړني د نړۍ پر وګـړو پـه سـيخه توګـه اغېـز ښندي. لکه د جګړې پيلول. دغه راز ځيني وختونه پر وخت د يوه اغېـزمن ګام نه اخيستل، په نړۍ کي د سترو نا خوالو لامل ګرځي. د بېلګې په توګه په يوه سيمه کي د پېښېدونکي عام وژني مخه نه نيول. ځيني وختونه مسايل له پامه غورځول. يا د اوښمرغۍ ( شترمرغ ) غوندي غاړه پـه رېګـو چيخـل او

ستري تباهۍ خپرولو ته مخه ورکول. لکه د ایډز د وبا د خپرېدو په لومړنیو لسو کلونو کي دې ربړي ته پام نه اړول.

داسي ډېر لږ پېښېږي چي له دې ډوله ټولي کړنـي پـه یـوه مهـال کـي د یوه ولس په مجموعي رویه واوړي. خو د موسمونو د بدلون مساله داسـي ده چي په هغې کـي امریکـا یـوازني مجـرم بلـل کیـږي. امریکاپـه دې اړه د سمون راوستلو په کار کي خنډونه اچوي. د خبري اهمیت ته پام نه کوي او پر خپل جرم له اعتراف کولو څخه تښتي.

په نړیواله کچه چي نن مهال د انـسانانو د ښـېګڼي چـاره ډېـره اغېزمنـه کوي هغه په فضا او سمندرونو کـي د شـین کـوړک(ګلخانـه یـي ګـازونو؛ Green House Gases ) خوشي کېدل دي. دابه انساني ژوندانه تـه ډېـر خطرناک جوت سي. له دې امله به پـه نړیوالـه کچـه ډېـر لګـښتونه وسـي. دا د هروګړي ژوند اغېزمن کوي. اوس هم دغه بخوله تر یـوه بریـده پـوري کنټرولېدلای سي. خو له بده مرغه د سمون هیڅ کوښښ نه کیږي.

لومړی پـه دې هکلـه څـو حقـایقو تـه پـام وکـړئ: پـه مځکـه کـي د موسمونو د تر سره کېـدونکو بـدلونونو او پـه هـوا کـي د خپرېـدونکي تودوښي سبب د هغه کاربن ډای اُکـسایډ اخـراج دی چـي لـه فـابریکو، موټرانو او د انسانانو لخوا له نورو ډول ډول تخلیق سوو ټکنالوژیو څخـه رامنځته کیږي. په دې توګه د مځکي د تودوښي درجه ورو ورو لوړه ځي، په سهیلي او شمالي قطبونو کي یخۍ سوي واوري ویلیږي او د سمندرونو سطح راپورته کیږي. پایله دا کیږي چي موسمونه پرله پسې بدلیږي. یوازي تودوښه نه زیاتیږي، بلکي موسم هم خطرناکه کیږي. وچکالۍ زیاتیږي. پـه ځنګلونو کي د اور لګېدوپیښي اضافه کیږي. پـه هـوا کـي د کـاربن ډای اکسایډ د سطحي زیاتوب کښتونه او څاروي هم زیانمن کوي او ډول ډول ناروغۍ هم ځني پیدا کیږي. په هوا کي موجـود کـاربن ډای اکـسایډ پـه سمندرونو کـي جـذبیږي. پخپلـه د سـمندر د تودوښـي درجـه بـدلیږي. د سـمندرونو د څپـو مـد او جـزر زیـاتیږي او پـه سـمندرونو کـي ژونـد

د خطرونو سره مخامخ کیږي.

له یوه پلوه موږ له ډول ډول ونو او څارویو څخه بې برخې کیږو، له بلې خوا د دې اغېز پر کرنه هم لوېږي. د تودوښې د پر له پسې لوړېدونکې درجې له امله د ناروغیو را منځته کوونکې نوي وایرسونه پیدا کیږي، چې په راتلونکو لسیزو کې به موږ ته نوي ربړې وزېږوي.

دغه ټولې خبرې داسې دي چې د ساینس د هرې څانګې اړوند وګړي د هغو په هکله په یوه خوله او متفق ښکاري. د موسمونو د بدلونونو د څېړونکو څخه نیولې د سمندرونو په چارو تر بوختو اوشنوګرافرانو پورې او د چاپېریالونو د چارو د څېړونکو څخه نیولې تر عامو ساینس پوهانو پورې، ټول د دې حقایقو تصدیق کوي. ان چې هغه ساینس پوهان چې د دې خبرو سره اتفاق نه لري، هغوی هم د تباهۍ پر راتلو خبرې کوي او له دې حقیقت څخه چې تباهي راتلونکې ده، نه دي منکر .

په اوسني صنعتي پېر کې دا هر څه له دې امله رامنځته کیږي چې موږ کارخانې، موټران او د برېښنا تولیدوونکي مرکزونه (او ډېر نور) د ډېرو په سکرو او پټرولو چلوو. نړۍ کابو دوې پېړۍ دمخه دې صنعتي پېر ته ننوتلې ده. له دې امله ویل کېدای سي چې ټول نړیوال د دې تباهۍ مجرمین دي. خو حقیقت دادی چې د هوا د ککړتیا په دې نړۍ شموله لړۍ کې امریکا ډېر اوچت ځای لري.

اوس امریکا په نړۍ کې د ککړتیا تر ټولو لوی خپروونکی هیواد دی او په دې هکله د دوهم، درېیم یا څلورم لمبر درلودونکی هیواد د امریکا کچې ته ان نژدې کېدلای هم نه سي. امریکا د نړۍ تر هر هیواد زیات شین کوړک ګازونه تولیدوي. د امریکا نفوس په نړۍ کې یوازې څلور سلنه دي. خو دغه امریکا د نړۍ پنځه ویشت سلنه کاربن ډای اکسایډ خارجوي او شمېرني ښیي چې امریکا به په راتلونکو کلونو کې هم په دغه باب دغه ځای ولري.

ملګرو ملتونو او د نړۍ ډېرو هیوادونو د مځکې پر کره باندې د راتلونکې تباهۍ د مخنیوي لپاره کوښښونه کړي دي. د دې بخولې د مخنیوي

د كوښښونو په لړ كې د نړۍ ډېرو هيوادونو د ” كيوټو د پروټوكول“ په نامه تړون لاسليك كړى دى. په دغه تړون كې د نړۍ ټولو ولسونو ته ويل سوي دي چې دوى دې تر ۲۰۱۲ع.كال پوري د ككړتيا د خپرېدو بهير را ټيټ كړي او هغې كچې ته دې راولي چې په ۱۹۹۰ع.كال كې وو. دغه تړون په ۱۹۹۷ع.كال لاسليك سو او تر ۲۰۰۵ع.كال پوري پر هغه باندې (۱۵۷) هيوادونو لاسليكونه كړي وه. چې د روس، اروپايي ټولني، كاناډا او جاپان په ګډون ټول مهم هيوادونه پكښې شامل وه. خو يوازې يوه هيواد پر هغه لاسليك ونه كړ . دغه هيواد امريكا وه !

د امريكا د وګړو زيات شمېر پر دغه تړون باندې د لاسليكولو پلويان دي. خو پخپله د امريكا ولسمشر جورج بش پر دغه تړون باندې له لاسليكولو څخه ډډه كوي. تر ده دمخه ولسمشر كلنټن هم په دې اړه څه علاقه نه ښوول. دا يوه ډېره اريانوونكې خبر ده. داسي ښكاري چې د امريكا ډېر ځواكمن اقتصادي قوتونه د هغې د دغه نه لاسليكولو لامل ګرځېدلي دي. د امريكا د نړيوالي سوداګرۍ د مركز تر پېښې وروسته د امريكا د حكومت ټول پام د ترهګرۍ خطرې ته اوښتى دى. په داسي حال كې چې دغه چاره د چاپېريال د بدلونونو په پرتله ډېره معمولي ښكاري.

امريكا په دې معامله كې د خپلو متحدو څو مليتي ځواكونو (ملټي نېشنل كمپنيو) پر اوږو توپک اېښى دى او د هر څه په هكله يې د شكونو او شبهو دګوليو اورول پيل كړي دي. د بېلګې په توګه وايي چې د چاپېريال دپوپنا كېدو خبره دونه بېروونكې نه ده لكه څنګه چې بيانيږي. بل داسي جعلي سازمانونه او ادارې رامنځته كيږي څو ښلي څېړني وكړي او داسي خبرونه خپاره كړي چې له امله يې د نوو علمي څېړنو پايلي مشكوكي وښيي. په دې توګه امريكا كوښښ كوي چې د عوامو په ذهنونو كې شكونه خلق كړي او د دې خبرو اهميت كم وښيي. لكه چې د ۲۰۰۴ع.كال په لومړيو مياشتو كې د امريكا د ساينس پوهانو ټولني رپوټ خپور كړ چې د بش حكومت د ساينسي څېړنو مخه ډب كوي. په دغه رپوټ كې ويل

سوي دي چي د بش حکومت د چاپېريال د بدلونونو په هکله د تر سره سوو ساينسي څېړنو پايلو ته د خپلي خوښي سره سم بدلون ورکوي او يا هغـه پـه گډه وډه توگه وړاندي کوي.

خپله جورج بش په ۲۰۰۱ ع.کال په خپـل يـوه ليـک کـي ليکلـي وه : ”زه له دې امله د کيوټو د تړون مخالفت کـوم چـي زمـوږ اقتـصاد تـه ډېـر دروند تاوان رسوي“. د اتو سترو صنعتي هيوادونو تر سـر مـشريزي غونـډې د مخه په ۲۰۰۵ ع.کال بش وويل چي :” د کيوټو د تړون په لاسليکولو سره زموږ اقتصاد بربادېږي“. ولسمشر جوج بش د هوا د ککړتيـا پـه پېـښېدونکي زياتوب کي د اتلس سلني د راکمولو وړانديز کړی دی. په داسي حـال کـي چي تر ۲۰۱۲ ع.کاله به د امريکا خپره سوې ککړتيا د نن په پرتله (۳۳) سـلنه نوره زياته سي. د دې تر څنگ امريکا يو بل عجب او نادوده دريځ هم غـوره کړی دی او هغه دادی چي وايي امريکا به تر هغو پر دغه تړون لاسليک ونه کړي تر څو چين او هند هغه لاسليک نه کړي. په دې توگه امريکا غـواړي د هوا د ککړتيا پړه پر دغو د ډېرو وگړو درلودونکـو دوو هيوادونـو واچـوي. امريکا په دې هکله هر وخت همدغسي عجيب او غريب او د خندا وړ دريځ غوره کوي. لکه چي د امريکا د پخواني ولسمشر رونالډ ريگن دا جمله ډېـره مشهوره سوې وه چي : ” تر لاريو اوموټرونو وني زياته ککړتيا خپروي “.

امريکا بايـد پـه دې وپـوهېږي چـي د چاپېريـال د ککړتيـا مخنيـوی او رالږول اوس په لږ بيه کېدای سي. د نړۍ د تودوښـي د درجـې د تـر سـره کېدونکي زياتوب او د موسمونو د راتلونکو بدلونونو په هکله نړيوالو ته شـل کاله دمخه هر څه څرگند سوي وه. امريکا بايد هماغه وخـت عملـي گامونـه اوچت کړي وای. امريکا ته ښايېدل چي په نړۍ کي د تر ټولو ستر اقتصادي ځواک په توگه، د انسانانو د خير ښېگڼي د ادعاکوونکي په توگه او په ساينس او ټکنالوژي کي د نړۍ د لارښوونکي په توگـه پـه دې چـاره کـي تـر ټولـو وړاندي وای. آيا د سړي جگړې تر پايته رسېدو وروسته امريکا تر دې بل ښـه او غوره هدف درلودلای سوای؟ خو له بده مرغه امريکـا پـه دې هکلـه لـه

خپله مسوولیته په شا سوه. اوس دادی مـوږ وینـو چـي امریکـا د موسـمونو د ډېري بدي خرابتیا لامل ګرځي او د راتلونکي ورانۍ د مخنیوي په اړه لـه بې پروایی څخه په کار اخیستلو سره د ځمکي کـرې تـه داسـي زیـان اړوي چي په هیڅ ګون به یې تلافي ونه سي.

درنو لوستونکو ! دا خو وې د ساینس پوهانو او سیاست پوهـانو خبـري. خو موږ ته د مسلمانانو په توګه ښایي چي پر دې خبره ایمان ولرو چي د دې ټولو طبیعي آفاتو تر شا په حقیقت کي د لوی څښتن ﷻ کاملـه قـدرت او بالغه حکمت کار کوي. دا ظـاهر لیـدونکی انـسان دی چـي دغـسي پېـښي د لوی څښتن د قدرت او مشیت سره د ټولو پر ځـای پـر ظـاهري او مـادي لاملونو منحصروي. دوی موږ په دې هم بېروي چي د امریکا یا نورو اتـومي بټۍ او تاسیسات د ځمکي د کرې د له منځه تلو لامل کیږي. خو پـه دې اړه موږ ته د لوی څښتن ﷻ او د هغه د رسول ﷺ لارښووني په بـشپړه توګـه کافي دي. په دې اړه د قرآن کریم دې آیت ته پام وکړئ:

﴿ ۞ إِنَّ ٱللَّهَ يُمۡسِكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ أَن تَزُولَاۚ وَلَئِن زَالَتَآ إِنۡ أَمۡسَكَهُمَا مِنۡ أَحَدٖ مِّنۢ بَعۡدِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورٗا ﴿٤١﴾ ﴾ [ فاطر:۴۱ ]

**ژباړه :حقیقت دادی چي لوی څښتن آسمانونه او ځمکـه لـه منځـه تلـو څخه ساتلي دي او که هغه له خپله ځایه وښوري له لوی څښتن پر ته به یـې هیڅـوک راونـه ګرځـولای سـي. لـوی څـښتن زغـم لرونکـي او بخښونکی دی.**

دغه راز حضرت زید بن خالد الجهني ﵁ وایـي: مـوږ تـه رسـول الله ﷺ په حدیبیه کي د سهار لمونځ په جمع راکړ. پـه داسـي حـال کـي چـي د شپې اورښت سوی وو او پر آسمان باندي اوریځـي ښـکارېدې. تـر سـلام ګرځولو وروسته هغه مبارک د خلکو خواته مخ واړاوه او ویـې ویـل: « آیـا تاسي پوهېږئ چي ستاسي رب څه ویلي دي؟ »صحابه وو جواب ورکړ چي لوی څښتن او د هغه رسول پـوهیږي. نـو هغـه وفرمایـل: « لـوی څـښتن

ﷻ فرمايي : زما د ځينو بنده‌گانو سهار د ايمان په حال کي وي او د ځينو سهار د کفر په حالت کي وي. څوک چي وايي پر موږ باندي اورښت د لوی ښتن په فضل او رحمت سوی دی، نو هغه پر لوی ښتن ايمان لري او له ستورو منکر دی. خو څوک چي وايي د پلاني پلاني ستوري د گرځېدو او حرکت له امله باران سوی دی، نو دغه پر ما ايمان نه لري، بلکي پر ستورو ايمان لري» . (بخاري کتاب الاذان، باب يستقبل الامام الناس إذا سلم، ۸۴۶حديث). په دې مبارک حديث کي رسول ﷺ موږ ته ښوولې ده چي په نړۍ کي چي کومي پېښي کېږي د هغو په هکله موږ څه موقف غوره کړو. موږ خو هره پېښه د لوی ښتن د قدرت او مشيت څخه گڼو او د دې عقيدې سره سم خپل اعمال څېړو او سمبالوو. موږ ته ښايي چي د آسماني او ځمکنيو آفاتو او بلياتو څخه عبرت واخلو او د گنهونو څخه د گوښه کېدو او توبې په فکر کي سو. هو ! لکه څنگه چي پوهيږو دا دنيا محل الاسباب ده، کارونه ټوله د لوی ښتن دي، خو هغو ته پر دې دنيا يو ظاهري سبب هرومرو پيدا کوي. پر دې بنسټ ويلای سو چي ښايي لوی ښتن غوښتي وي چي د طاغوتي امريکا او اروپا د پوپنا کېدو ظاهري لاملونه د دوی خپلي سرابښۍ، ناپامۍ او اختلافونه وي. والله اعلم.

دا چي امريکايان او نور اروپايان او ظالمان او د دوی گوډاگيان لگيادي ډول ډول ناوړه عملونه تر سره کوي، په نړۍ په تېره په اسلامي هيوادونو کي کفر او فسق او فساد خپروي او مسلمانان او د نړۍ بې وزلي خلک په ډول ډول چلونو او مکرونو زوروي، تر خپلي شومي ولکې لاندي يې راولي او مادي او معنوي شتمنۍ يې لوټوي، خو په دې نه پوهيږي چي د دوی د دې ټولو بدو کارونو او اعمالو انجام به ډېر بد وي، چي کېدای سي د نورو تېرو سوو ولسونو غوندي د دغو ناوړو اعمالو له امله هلاک او پوپنا سي.

که موږ د تېرو پوپنا سوو ولسو نو په هکله د قرآن کريم او د تاريخ د کتابونو کيسو او څرگندونو ته ځير سو د هر ظالم او د رسولانو، پوهانو، ناصحانو او مصلحينو د خبرو د نه منونکي او دروغجن بلونکي قوم پای

پوپنا کېدل او هلاکت دی
دغه کفار خو پر دوی باندي د راتلـونکي تبـاهۍ د مخنیـوي لپـاره ډول ډول هلي ځلي کوي، خو که دوی له خپلو ناوړو اعمالو لاس وانه خلي پـه دې هلو ځلو او اختلافاتو به د لوی څښتن له راتلونکي عذابه په هیڅ ګـون ونه ژغورل سي.
څنګه چي اوس لا وخت سته، نـو زمـوږ مـشوره دغـو مغـرورو کفـارو، د هغو ګوډاګیانو او د هغو لخوا غولېدلو کسانو ته داده چي کفر ، فـسق او فجـور پرېـږدي. لـه ظلمونـو، تېریـو او ډول ډول نـارواوو او د اسـلام او مسلمانانو سره له دښمنۍ څخه لاس واخلي که نه دوی بـه هرومـرو د لـوی څښتن په عذاب اخته کېږي.
دوی باید پوه سي چي هیڅوک دغه الٰهي قانون نه سي بـدلولای او نـه د لوی څښتن د عذاب مخه نیولای سي. وما علینا الا البلاغ المبین.

## یادونه :

د پورتني مطلب تر لیکلو وروسته د ۲۰۰۷ ع.کال د ډسـمبر پـر لـسمه د اندونیزیا په بالي کي د ملګرو ملتونو د اقلیم کنفرانس جوړ سو چـي څـو ورځې یې دوام وکړ. په دغه کنفرانس کي چي یوسل واتیا هیوادونو ګـډون پکښي کړی وو، دملګرو ملتونوعمومي منشي بانکي مون د اقلیمي بـدلونونو په اړه په خپلو لومړنیو خبرو کې د امریکا له حکومت څخه وغوښتل چـي په نړۍ کي د شین کوړک ګازونو د تولیـد د اوسـنۍ سـتونزي سـره مقابلـه وکړي. نوموړي په عین حال کې خبرداری ورکـړ چـې پـه راتلـونکي کـې اقلیمي بدلونونه بشریت د جنګونو او سیاسي مناقشو په کچه ګواښي. همـدا اوس نړۍ د چاپیریال د ضرري ګواښونو سره مخ ده چې هغو ته بې پامي به د ځمکې د کرې برخلیک په خطر کې واچوي.
دغه راز د امریکا ږغ آشنا راډیو په ویب سایټ کـي د دغـه کـال د ډسـمبر پـر ۱۵مـه د خپـرو سـوو خبرونـو لـه مخـي: " د اقلـیم پـه کنفـرانس کـي د هـوا د تودوښي په اړه د یوه پلان پر خبرو اترو موافقه وسوه، چي پـه ۲۰۰۹ کـال بـه

عملي سي". د غه ويب سايټ زياتوي: " دا پلان په داسي وخت کي تصويب سو چي امريکا د خپل مخکني تصميم څخه چي دغه پرېکړه ليک يې نه مانه صرف نظر کړی دی. دا پرېکړه ليک بنايي چي د ۲۰۱۲ کال تر پايه عملي سي".

موږ به وګورو چي امريکا په دې اړه په عمل کي څه کوي؟ او آيا د کيټو د تړون او د دغه پرېکړه ليک پرېکړې عملي کوي که څنګه ؟ او آيا په دې اړه به د ۲۰۱۲ کال تړون لاسليک کړي او که به يې د ردولو لپاره هغه مهال څه نوري پلمې ولټوي؟

## امريکا نوره دغسي مغروره نه سي پاته کېدلای

موږ په ۱۳۷۰ لمريز کال د شوروي د امپراتورۍ د پاشل کېدو په هکله يو مضمون ليکلی وو، چي له پېښور څخه د خپرېدونکي " افغان ملت " جريدې د همدغه کال د سنبلې د (۳۱) مي نېټې په (۲۲ ـ ۲۳) مه ګڼه کي خپور سو. دلته غوره برېښي چي له دغې ليکني څخه څو کرښې را واخلو:

لکه چي پېښليکونه ښيي په نړۍ کي ډېري امپراتورۍ جوړې سوي او عروج يې کړی، خو بيا بېرته مخ پر نزول رواني سوي او پای سره پاشل سوي دي. چي د زياتو دغسي امپراتوريو نزول د هغو له واکمنو څخه د يوې تېروتني په سر وهلو سره پيل سوی دی.

د شوروي د امپراتورۍ د ۱۹۷۳ع.کال د ختيزي اروپا د کمونيستو ګوندونو په غونډه کي اتيايمه لسيزه له سوسياليزم څخه کمونيزم ته د ورتېرېدو پړاو وټاکل سو او ويې ټېيل چي تر ۱۹۸۵ع.کال پوري به کمونيزم نړۍ په خپله ولکه کي راولي، چي هغه مهال به نو بيا شوروي وکولای سي چي خپله اراده په هر ځای کي پلې کړي.

خو د دې امپراتورۍ واکمنو په همدې ترڅ کي يوه ډېره سخته او نه جبيره کېدونکې اشتباه وکړه. چي هغه زموږ پر ګران هيواد افغانستان باندي د شوروي د سره پوځ يرغل وو. دوی داسي ګڼل چي په دې يرغل سره به تودو اوبو ته ورسيږي او دا هيواد به د عمان د سمندرګي پر لوري د ټوپ

د تختې په توګه استعمال کړي او هم به شوروي ته دا امکان په لاس ورسي چي د لوېديځ اقتصادي ښارګ ( د فارس خليج ) هم کنټرول کړلای سي. خو دوی د افغانانو جګړه مار خوی او د پردو سره حساسيت ښه نه وو څېړلی. نو پايله دا سوه چي د افغانستان د اتلو خلکو جهاد او ټينګار د شوروي کورنۍ بې ځواکي رامنځته اوپسي ډېره کړه؛ د سختو ټولنيزو ستونزو سره يې مخامخ کړ؛ د هغه هيواد د لږ و ډېر پنځه پنځوسو مليونو مسلمانانو او نورو اسيرو ولسونو په زړونو کي يې د آزادۍ د ترلاسه کولو غورځنګ را ژوندی کړ؛ د ختيزي اروپا خلکو ته يې فرصت ور په برخه کړ څو خپله خپلواکي بېرته له کمونيزم څخه واخلي او لوېديځ او امريکا ته يې موقع په لاس ورکړه څو په نړيواله سيالي کي شوروي له پښو وغورځوي. چي بالاخره موږ وليدل چي د شوروی زبرځواکه امپراتوري دړې وړې سوه.

ور پسې موږ د امريکا په هکله ليکلي وه : هسي خو اوس امريکا د دې زمانې " روم " برېښي او بش ( د اوسني بش پلار ) د نړۍ امپراتور. خو شلمه پېړۍ د نړۍ د امپراتوريو د نړېدو، د هيوادونو د ټوټه ټوټه کېدو او د خپلواکو هيوادونو د رامنځته کېدو پېړۍ ده. په دې پېړۍ کي د عثماني، انګرېز، فرانس، جاپان، پرتګال، ايټاليا، ډنمارک، بلجيم، اتريش او نورو امپراتورۍ راوپرزېدلې او ورپسې د شوروي امپراتوري هم وشوړېدل. په دې پسې د امريکا امپراتوري هم تر پايه دغسي مغروره نه سي پاته کېدلای. دا به هم ژر، خو د کمونيستانو د رقابت له امله نه، بلکي د نورو هيوادونو سره د سيالۍ له امله راوپرځي. نن نړۍ د هيوادونو د لارښوونکو د ډېرښت پر لور روانه ده، نه د هغو يوه ته د رالږېدو پر لور . او ليري نه ده چي په ټوله نړۍ کي ولسواک او پر خپلو پښو ولاړ نظامونه د خلکو په ارادو رامنځته سي. د دې امپراتورۍ په وړاندي به پای اروپا او جاپان ودرېږي. خو دا چي اوس اروپا او جاپان امريکا ته لاس پرنامه ولاړ دي دا د يو لنډ مهال لپاره دي. څو کاله وروسته به اروپا او جاپان د امريکا داسي مطيع نه وي. او دا چي بش د خليج په جګړه کي څه وکړه، هغه يوه ستره تېروتنه وه.

که ژر وي که وروسته دا به لاښه څرګنده سي او په ډېر نژدې راتلونکي کـې به امريکايان له اروپا او جاپان سره ټکر سي. خو د دوی تر منځ پېـښېدونکې جګړه به اټومي نه، بلکي اقتصادي او ټکنالوژيکي وي.

دا وې زموږ د شپاړسو کالو دمخه خبري او وړاند ويني. اوس دادی موږ ګورو چي د امريکا د امپراتورۍ په وړاندي اروپا، په سرکي فرانـسه،المان او روسيه او په دې وروستيو کي برتانيه او نور او همدا اوس جاپان په مخالفت کي ولاړ دي. چي ښايي د دوی تر منځ مخالفتونه نور هم زيات سـي او پـای امريکا د خوارۍ، بې ځواکۍ او بدي ورځي کندي ته ورټېـل وهـي او پـه اقتصادي او ټکنالوژيکي سيالي کي خپل ځانونه تر وړاندي کړي.

البته موږ داسي نه ګڼل چي امريکا به د دغو غيورو او جګړه مارو افغانانو پر جګړه ځپلي هيواد باندي دغسي لـځ لغړ او بـې رحمانـه تېـری کـوي. خو چي داسي يې وکړه، نو اوس تاسي فکر وکړئ چي امريکا پر افغانـستان او عراق باندي د دغسي ناتار له امله د ټولي نړۍ د مسلمانانو د سـختو کرکـو او دښمنيو سره هم مخامخ وي او ايران او نورو اسلامي هيوادونـو تـه هـم غاښونه چيچي او د نړۍ د ډېرو کفري هيوادونو د مخـالفتونو، رقـابتونو او سـياليو سـره هـم مخـامخ وي، نـو دا هيـواد بـه روغ وژغـورل سـي؟ او د شوروي غوندي به پر دا بله راوانه وړي؟

آيا پر افغانستان او عراق باندي تېری د امريکا د واکمنو سخته او نه جبيره کېـدونکې اشـتباه او تېروتنـه نـه ده ؟ او زيـاتي دغـسي تېروتنـي د دغـسي امپراتوريو د را پر زېدو د پيل لامل سوي نه دي؟ او اوس داسي نه ښـکاري چي دغه تېروتنه به د امريکا د را نړېدلو پيل وي ؟

شورويانو ګڼل چي پر افغانستان باندي په يرغـل سـره بـه تـودو اوبـو تـه ورسيږي او دا هيواد به د عمان د سمندرګي پر لوري د ټوپ د تختې په توګه استعمال کړي او هم به شوروي ته دا امکان په لاس ورسي چـي د لوېـديځ اقتصادي ښارګ ( د فارس خليج ) هم کنټرول کړای سي. لکـه چـي تاسـي د دې کتاب په مخکنيو پاڼو کي ولوستل امريکا هـم دې تـه ورتـه خوبونـه

ویني. ان تر دې خطرناک پلانونه لري. نـو څنګـه چـي شـورویان د خپلـو موخو په ترسره کولو کي پاته راغله، نـو آیـا د امریکایـانو دغـسي خطرنـاک خوبونه به رښتیا سي؟

نور به خپلي خبري پر دې را لنډي کړو چي زموږ په هیـواد او پـه نـړۍ کي روان حالات او واقعات ښیي چي امریکا او انډیوالان به یې هرو مـرو او په حتمي او قطعي توګه تر روسانو لا په بد برخلیک اختـه کیـږي او متحـده ایالات به په متفرقه او ټوټه ټوټه ایالاتو بدل سي. ان شاء الله.

## د امریکا د زوال نخښي

وایي چي تاریخ د اوسمهال سـره د تېرمهـال د نـښلولو پـه هکلـه د پُـل حیثیت لري. له دې امله د تاریخ د مطالعې پـه رڼـا کـي د اوسـمهال څېړنـه د راتلونکې سره د ښې نښلوني په هکله ډېره ښه مرسته کوي. نو که مـوږ لـه پخوا څخه تاریخ ته یوه عمومي کتنه وکړو، هرو مـرو بـه یـو پـه زړه پـوري حقیقت راتـه څرګنـد سـي. هغـه دا چـي سـترو سـترو فاتحـانو او د مهـال د زبرځواکو واکمنانو د خپل شوکت او سلطنت د عروج په شېبو کـي فقـط یو داسي ګام پورته کړی چي پر هر څه او ان پر خپل ولس یې واک له لاسه ورکړی او ماته، خواري او پوپنا کېده یې په برخه سوي دي.

له سلطان سکندر، فرعون، نمرود، د روم له قیصر، د ایران له کسرا، هټلر، موسولیني، د برتانیې له تاج او بریژنیف ټولو څخه پـه یـو ډول نـه یـو ډول داسي تېروتني سوي چي کټ مټ یې د ځان وژني معنا لرل او پـای د دوی د واک د زوال لامل سوې. په دې اړه نور راځـۍ د اسـتاد جمـال حمـدان خبري ولولو. استاد جمال حمدان پـه عربـي نـړۍ کـي لـه نـامتو سیاسـي مځکپوهانو څخه دی. اوس په بیروت او د عربو په ځینو نورو ښـارونو کـي د نامتو خپروونکـو لخـوا د "د ښـکېلاک او د خپلـواکۍ د سـتراتېژی" تـر سرلیک لاندي د هغه یو کتاب خپور سـوی دی. پـه دغـه کتـاب کـي هغـه د مځکي پر سر د ښکېلاکي ځواکونو د جغرافیوي تشکیل او د هغـو تـر شـا پټ خطرناک سیاسي عوامل، موخي او اهداف په ډېره ښـه توګـه څېړلـي

دي. د دغو ځواکونو د فهرست په سر کي د امریکا ښکېلاکي ځواک دی.

د ښاغلي حمدان په وینا د امریکې مثال د هغه چا دی چي خپل وړوکوالی یې د اتلسمي پېړۍ په وروستیو کي پیل کړی وي، د نولسمي پېړۍ په وروستیو کي له خپلو پولو د باندي لوبي پیل کړي او بیا د ځوانۍ پړاو ته ورسیږي. امریکا دغه دور ته د شلمي پېړۍ په اوومه لسیزه کي د ویتنام په جګړه کي په تاریخي رسوایي او ناکامۍ سره ورسېده، چي تر دې وروسته زړښت او عمر خوړل د امریکا برخلیک جوړوي. څنګه چي دغه هیواد د شوروي سره ډغري وهل پیل کړل، ګواکي په دې توګه یې خپل دغه دور پیل کړ.

د استاد حمدان په وینا د متحدو ایالتونو د تشکیل تر شا هم ځینو ښکېلاکي موخو کار کاوه. څنګه چي دغه مهال اسلامي نړۍ یا د نورو ښکېلاکي ځواکونو په ولکه کي وه او یا یې د هغو سره ډغري وهلې، ځکه نو هغوی د دغه مهال د دغه نوي جغرافیوي جوړښت تر شا له پټو موخو څخه نه وه خبر. خو دا یو څرګند حقیقت دی چي امریکا په پټو لاسونو داسي یوه زېږېدلې توره بلا ده چي له لومړۍ ورځي څخه یې مقصد د ټول انسانیت لوټول او چورول وو. د نوموړي کتاب په دقیقه مطالعه سره موږ د امریکا له جوړېدو څخه تر اوسه پوري مهال پر پنځو پړاوونو وېشلای سو:

۱. د امریکا د جوړېدو پیل.
۲. د پراختیا پړاو.
۳. د سړې جګړې پړاو.
۴. پر پوځي ځواک باندي د انحصار پړاو.
۵. د داسي جګړو چي هیله یې نه کېده د په لار اچولو پړاو.

## لومړی پړاو :

دا د متحدو ایالتونو د رامنځته کېدو او تشکیلېدو پړاو دی. د امریکا تاریخ په ۱۷۸۳ع. کال د خپلواکۍ د جګړې په پای ته رسېدو سره پیلیږي. له دغي جګړې څخه تر راوتلو وروسته د امریکا په جغرافیوي جوړښت کي

يوازي ديارلس ايالتونه شامل وه، چي د اوسېدونکو شمېر يې د څلوېښتو لکو په شاوخوا کې وو. خو لکه چي وړاندي مو هم يادونه وکړه، د امريکا د جوړېدو تر شا اوږد مهالي ښکېلاکي موخي پټې وې، نو له دې امله د هغې پوهو او باخبرو مشرانو په ډېره هوښياري او چالاکي سره د غو موخو ته د رسېدو لپاره د شپې او د ورځې پرله پسې کار پيل کړ. لکه چي هغو دې ته ملا وتړل چي د امريکا شاو خواته پراته ايالتونه د امريکا سره يو ځای کړي. هغو په دې لړکې دامريکې اصلي سور پوستي اوسېدونکي (RED INDIES) له خپلو پلرنيو سيمو څخه پسي واخيستل او خپل ځانونه يې لټ سمندر (Pacific Ocean) ته نور هم ور نژدې کړل. د امريکا لارښوونکو په ۱۸۰۳ع.کال رياک لويزيانا له فرانسې څخه واخيستل. په ۱۸۱۹ع.کال يې د اسپانيې پر ضد جګړه په لار واچول فلوريډا يې د خپل هيواد برخه وګرځول. په ۱۸۴۸ع.کال يې د مکسيکو سره جګړه وکړه د ټيکزاس ايالت يې په خپل هيواد پوري وتاړه. چي بالاخر د پرله پسې جګړه ييزو خوځښتونو په پايله کي امريکا د لټ سمندر په غاړو کې د يوه واړه هيواد له بنې څخه را ووتل او پر اتلس سمندر او لټ سمندر باندي چاپېر يې د يوې بېلي کوچنۍ وچي بڼه خپله کړه.

د استاد حمدان په وينا د امريکا مشرانو د يوه کنفډرېشن (Confederation؛ ملګري او متحد ايالتونه چي په دننه چارو کي خپلواک وي) د بنسټ ډېره کښېښوول او په حقيقت کې يې د يوې فيډرالي امريکا د جوړېدو لپاره ور پرانيست. لکه چي له اوس څخه نژدې يوسل اوپنځوس کاله پخوا د امريکا د اوسني مځکني او قانوني جوړښت پړاو بشپړ سو.

**دوهم پړاو :**

دا د امريکا د پولو د پراختيا پړاو دی. د خپلواکۍ د جګړې تر پای ته رسېدو وروسته سمدستي د امريکا حکومت د الاسکا او ايلوشن ټاپوګان د روسانو څخه رانيول. بيا د لټ سمندر په اُرشو کې وړاندي ولاړل په ۱۸۵۷ع.کال يې له اسپانيې څخه د هالينډ اينډ بيک ټاپو، په ۱۸۵۹ع.کال

يې ميډوني ټاپو، او د نولسمي پېړۍ په وروستيو کې يې د هاوايي او وينکسن ټاپوګان ونيول. د اسپانيې سره د جګړې په پايله کې امريکا په ۱۸۹۹ع.کال وېتنام د اسپانيې له ولکې څخه وايست او په خپله ولکه کې يې راوست، چې په ۱۹۷۶ع.کال کې د آزادۍ ورکولو تر مهاله يې تر ولکې لاندي وو.

د شلمي پېړۍ په پيل کې امريکا د کارابين سيمي ته پښې غځول پيل کړل، د پورټوريکو او پانامې سيمي يې تر ولکه لاندي راوستې، هلته يې د اتلس سمندر او لتې سمندر د يوبل سره د نښلولو لپاره واله (کانال) وکيښې چې امريکا ته يې د درغليو او پوځي پلوه د يوه پياوړي ځواک حيثيت وباخښه.

امريکا د نولسمي پېړۍ په بهير کې يو پياوړی زراعتي هيواد سو او خپل د کرني حاصلات يې د نړۍ ټولو مارکېټونو ته ورسول. چې له دې پلوه يې زيات شته ترلاسه کول او د هغو په بيه يې صناعتي توکي واردول. خو د دې سره هم امريکايي ټولني د پرمختيا هغه ټول پړاوونه ونه وهلای سول چې د يوه ځواک د ودي او غوړېدو لپاره اړين ګڼل کيږي.

امريکا په دې پېر کې يو نامهذبه او لاابالي ژوند چې دوی په خپله ژبه کاوبای (Cow Boy) ورته وايي تېراوه. خو امريکايي مشرانو زښت زيات زيار وايست، چې د دوی د سمو اقتصادي پاليسيو په پايله کې امريکا ډېر ژر په يوه ستر مدني ځواک واوښته او پای يې د دوی د دغو د وياړ وړ زيارونو په مټ د ټولي نړۍ د مشرۍ دعوه پيل کړه او ځان يې د نړۍ د وېش ټيکه دار وباله. د يونيم سلو کالو په لږ موده کې د امريکا وګړي پنځوس ځله زيات سوه او د مځکې د پراختيا له پلوه د نړۍ دريم لوی هيواد وګرځېد.

### دريم پړاو :

دا د سړې جګړې پړاو دی. امريکا د شلمي پېړۍ تر څلورمي لسيزي پوري يو ستر نړيوال ځواک جوړ سوی وو. څنګه چې امريکا په دو همه نړيواله جګړه کې پر خپلو دښمنانو برى تر لاسه کړی وو، نو د امريکا مشران د کبر، غرور او لوی والي په ناروغي اخته سول. له هټلر څخه په نجات

موندلو سره یې یوازې یو دښمن - شوروي اتحاد مخ ته ولاړ وو. که څه هم شوروي په دې جګړه کې د امریکا ملګری پاته سوی وو، خو د دوی تر منځ د نظریو اختلاف پر خپل ځای پاته وو.

امریکا د جاپان پر دوو ښارونو باندي د اټومي بم په غورځولو او د لکونو بې ګناه وګړو په وژلو سره په پوځي ډګر کي هم خپل لوړ والی جوت کړ. لکه چي د دې ځواک په برکت یې د شوروي اتحاد په خلاف د سړې جګړې محاذ پرانیست. خو شوروي اتحاد هم کوچنی ځواک نه وو. هغه د امریکا د ډېري جواب په خښته ورکاوه او د سړې جګړې په ښېلو ښېلو محاذونو کي یې امریکا له ذلته ډکو رسواییو سره مخامخ کړه او شا تګ ته یې اړ ایستل.

## څلورم پړاو :

د دې پړاو په اړه باید په څو خبرو ځان پوه کړو. د افغانستان په اړه باید ووایو چي امریکا دلته د ځینو لاملونو له مخي ورځ تر بلي د سختو ستونزو او ناکامیو سره مخامخ کیږي. که څه هم په افغانستان کي د امریکا لاس کښېنولی حکومت د خپل پایښت لپاره په کلکو هلو ځلو لګیا دی، خو د دې سره سره ان په کابل کي لا سخته ګډوډي ده، امنیت پر نشت حساب دی او د چارواکو ژوند د سختو ګواښونو سره مخامخ دی. د امریکا د پوځي ویندویانو له خولې د ۲۰۰۴ ع.کال په مارچ کي د امریکا مخالفو مجاهدینو په ټول هیواد کي پر هغو باندي (۵۷) بریدونه کړي دي. اوس مجاهدینو د کندهار، هلمند، روزګان، زابل، خوست او پکتیکا ښېلي ښېلي سیمي تر خپلي ولکې لاندي راوستلي او د کرزي حکومت یې د سختو ستونزو سره مخامخ کړی دی.

لوېدیز مبصرین د دې حقیقت په لیدلو سره اعتراف کوي چي که د افغاني مجاهدینو مزاحمت په اوسني شکل دوام وکړي، نو کېدای سي د امریکایي پوځ او د کرزي د حکومت شتون د خطرې سره مخامخ سي.

(دا خو پر خواږه هیواد افغانستان باندي د امریکا د یرغل د لومړیو مهالونو خبري دي. اوس چي د ۲۰۰۷ ع.کال د اکتوبر میاشت ده او

د ۱۴۲۸ سپوږمیز کال د روژې د میاشتي سره برابره ده لکه چې ټول پوهیږي خبره تر دې څو ځله زیاته ورانه سوې او بحراني سوې ده. په همدې میاشت کي کابل د اردو او پولیسو پر بسونو باندي دوواستشهادي بریدونو ډېر سخت ولړزاوه او د دې بریدونو له امله د اردو او پولیسو ډېرو صاحب منصبانو خپل ژوند له لاسه ورکړ. زموږ ګران هیواد اوس د خپل تاریخ ډېري سختي شپې تېروي. پر ولس باندي په تېره د هیواد په سهیلي برخو کي د امریکایانو د هوایي بمباریو، په کلو او ښارونو کي د بهرنیو پوځیانو د لوټ او تالان، د ملکي وګړو د وژلو، ژوبلولو او زنداني کولو او د کورونو د تلاښیو ډېر ناوړه او ویرجن حالت روان دی. امریکایي او نورو بهرنیو پوځیانو د مځکنیو عملیاتو جرأت له لاسه ورکړی دی. اوس دوی صرف د جنګي الوتکو له لاري په ډېرو پر مختللو او درنو بمونو او توغندویو ړندې بمبارۍ کوي. په لسګونو او سلګونو ښځي، کوچنیان ناروغان، ټپیان او زاړه ملکي وګړي په بمباریو وژني او بیا په اټکلي او مبالغه آمېزه توګه د خپلو مزدورو خبریالانو او ګوډاګیو ټلوېزیونونو او نورو خبري رسنیو له لاري د ډېرو طالبانو د وژلو دروغجن خبرونه خپروي. اوس د هیواد په سهیل کي له غټو ښارونو پرته نوري ټولي سیمي د طالبانو تر ولکه لاندي راغلي دي. طالبانو په ولسوالیو کي خپل ولسوالان او قاضیان ټاکلي دي. ان د هلمند په ولایت کي یې خپل والي هم ټاکلی دی. اوس دغه سیمي دوی اداره کوي او ټولي دولتي چاري یې پر مخ بیایي. د خلکو اکثریت د طالبانو سره همدردي ښیي. په ځینو ځایونو کي د جګړې لپاره پر کور د درو میاشتو لپاره یو سړی ورکوي. پر دې سربېره ډول ډول مالیات، محصولونه او نغدي او جنسي مرستي ورټولیږي. دا چې د طالبانو او نورو مخالفینو د جګړه ییزو فعالیتونو له امله د امریکا او نورو لوېدیزو هیوادونو د جاسوسۍ موسسو پټ او ښکاره کارونه او پلانونه د څونو خندونو سره مخامخ سوي، دولتي ادارې څونه فلج سوي او کارونه یې څونه د رکود

سره مخامخ سوي. نرخونه ځونه لوړ تللي، د خلکو بې کاري، بې وزلـي او له امريکا او د هغې د لاسپو څو څخه د خلکو کرکه کـومي کچـي تـه رسېدلې او د خلکو د ژوند د سطحې ټيټوالی کومي پولي تـه رسـېدلی، اداري فساد، بې قانونی، خپل سـری، ظلمونـه، غـلاوي او داړه مـاری، د خلکو تښتوني او نور ډول ډول اخلاقي او اجتمـاعي فـسادونه ځونـه زيات سوي دا خو نو بېل بحث دی.

البته په عراق کي خو حالات د افغانستان تر وضعي لا خراب دي او هلتـه وضع نوره لا هم مخ پر وجاړېدو روانه ده. د عراق د خلو په بـې کچـي بـده ورځ ټول نړيوال خبر دي.

امريکا په دې پنځو شپږو کالو کي هيڅ بريالی نه سوه چي په افغانستان او عراق کي تر پخوانيو حکومتونو نسبتاً ښه حکومتونه رامنځته کړي.

طالبانو په افغانستان کي (۹۵) سلنه خاوره تر خپل کنترول لاندي راوستلې وه. په ټول هيواد کي د يوه پيـاوړي او واحـد مـشرتابه درلـودونکی مرکـزي حکومت ټينګ وو. د شر او فساد، غلو او نامطلوبو عناصرو نوغی يـې ايـستلی وو. د بهرنيو لاسوهنو مخه يې په کلکه نيولې وه. هره خـوا امـن وامـان وو. سره د دې چي امريکايانو خپلي او د نورو هيوادونو مرستي په ټپـه پـر درولـي وې او هيچا ته يې اجازه نه ورکول چي د طالبانو سره کومک وکړي او سـره د دې چي هغوی يې د ډول ډول بنديزونو او خنډونو په لومو کـي را ايـسار کړي وه او له دښمنی ډک ډول ډول تبليغات يې پـسي کـول. خـو بيـا هـم دولتي نظم دونه نه ووګډوډ او د خلکو ژوند دونه نه وو خراب لکه اوس چي خراب سوی دی او نور لا هم مخ پر زياته خرابی روان دی.

## پنځم پړاو :

دا د امريکا پر خلاف د داسي جګړو او مخـالفو دريځونـو نيولـو پـړاو دی چي تمه يې نه کېده. د امريکا حکومت د يـو ډول جنـوني کيفيـت تـر اغېـزو لاندي په يوه ډنډه د ټولي نړی د اېلولو او تابع کولو پرېکړه وکړه. لکه چي پر عراق باندي په برېد سره امريکا خپلي ګټـي په پام کي نيـولي وې، خـو هلتـه

یې د روسانو ګټو ته هیڅ پـام نـه اړاوه. روسـانو تـر جګـړې څـه مـوده دمخه د صدام حـسین د حکومـت سـره د تېلـو پـر معاملـه د څلوېښتو ملیاردو ډالرو پانګي اچـوني تـړون لاسـلیک کـړی وو چـي د اوسـنۍ جګړې له امله پلی نه سو.

فرانسې او چین هم په بېلـو بېلـو برخـو کـي د عـراق د حکومـت سـره د پردې تر شـا ځینـي تړونونـه لاسـلیک کـړي وه. دغـو دوو هیوادونـو تـر وروستیو شېبو پوري د دغو تړونونو د مراعتولو وړاندیزونه کول. خو امریکـا یوه ته هم پام وانه ړاوه، پر عراق باندي په برید سره یې د دغو ټولو هیوادونو له خولو څخه دغه غوړي ګولې وایستلې. دا خو یوازي اقتـصادي اړخونـه وه. له سیاسي اړخه هـم امریکـا لـه جګـړې څخـه د ډډې کولـو پـه هکلـه وړاندیزونه په سختۍ سره رد کړل. چي په بدل کي یې فرانسې، جرمنـي او روس په ټوله نړۍ کي امریکا سخته خـواره، رسـوا او ذلیلـه کـړه، بـالاخره امریکا د ملګرو ملتونو د خوښي پرته پر عراق برید وکړ ، چي په ټولـه نـړۍ کي د نړیوالو قوانینو خلاف اقدام وبلل سو.

د فرانسې، جرمني او روس د مخـالف دریـځ لـه املـه پـه حقیقـت کـي د امریکې او دغو هیوادونو تر منځ یو ډول نوې سړه جګړه ونښته. د امریکـا د دفاع د پخواني وزیر ډونلډ رمزفیلډ او د بهرنیو چارو د پخواني وزیر کولن پاول له لوري فرانسې او روس ته د دوی د مخالف دریځ نیولو له امله د سزا ورکولو په هکله خبـري او د روس، چـین او منځنـۍ آسـیا د ځینـو نـورو هیوادونو لخوا د شـانګهای د اقتـصادي همکـاریو د تـړون پـه نامـه د نـوي اقتصادي او نظامي بلاک رامنځته کول او ګډ نظامي تمرینونه دا ټول د یوې نوي سړې جګړې نخښي دي. خو د دې ټولو سړو مورچو او محاذونو بـری د افغاني محاذ په تود ساتلو پوري اړه لـري. هـر څونـه چـي افغـاني محـاذ تودېږي هغونه بـه پـه نړیـوال سیاسـت کـي امریکـا او د هغـې لاسـپوڅي شرمېدلي او ناکامه ولیدل سي او له منځه تلـه او پـو پنـا کېـده بـه د امریکـا وروستی برخلیک وي.ان شاء الله.

# اروپايي هيوادونه غواړي چي امريکا کمزوري ووينې

د امريکا خلک، حکومت او د کانگريس غړي پر دې خبره اريان هم دي او ناخوښي هم چي امريکا د ملگرو ملتونو د دوو ادارو ”د ملگرو ملتونو د بشر د حقونو کميسيون“ او ”د مخدرو موادو د کنټرول بورډ“ په غړيتوب ولي ونه منل سوه. سره د دې چي امريکا د دغو دوو ځانگو په کار کي ډېره ونډه اخيستې ده. د دوی په اند څنگه چي د دوی هيواد د بشر د حقوقو د کميسيون له آدرسه پر هغو هيوادونو سختي نيوکي کوي چي د انساني حقوقو څخه سر غړوي، نو شريرو (Rogue) هيوادونو د سزاورکولو په دود په دغو ادارو کي ونه ټاکل. د امريکا ولسي جرگې د خښم د ځرگندولو لپاره تصويب کړه چي تر څو امريکا ته د بشر د حقوقو په کميسيون کي غړيتوب ورنه کړل سي امريکا دي ملگرو ملتونو ته پر دوی باندي پاته پيسې نه ورکوي.

د امريکا حکومت او خلک که پر دې خبره اريان وي، وي به، خو نړۍ هيڅ نه ده اريانه. د دې لامل د انساني حقونو په اړه د امريکا ناوړه ريکارډ او د ولسمشر جورج ډبليو بش ناسمي پاليسۍ دي.

تر کومه ځايه چي د امريکا په ناوړه ريکارډ اړه لري، نو ښکه چي دا د پاکستان، افغانستان يا عربي هيوادونو په کچه نه دي خراب. ځکه په دغو هيوادونو کي نه دا چي ولسواکي حکومتونه نه دي واکمن، بلکي په دې ځايونو کي د ”بشري حقونو“ جمله ښخي يوه پردۍ جمله گرځېدلې ده. خو په امريکا کي په دې اړه ريکارډ د اروپايي هيوادونو په پرتله ښځي ډېر خراب او ناسم دی.

لومړۍ خبره خو دا ده چي په امريکا کي تر اوسه لا د مرگ د سزا قانون نافذ دی. پر دې سر ښېره د وژل سوي يا وژل سوو نږدې خپلوان د وژونکي د مړيني ځای ته د ورتلو اجازه هم نه لري او نه د مړيني د سزا بهير له نږدې کتلای سي. د اروپايي ټولني په غړو هيوادونو کي د مړيني د سزا قانون لغو سوی دی. ترکيې ته چي د اروپايي ټولني د غړيتوب په لار کي کوم خنډونه را مخ ته سوي

دي، له هغو څخه یو لوی خنډ هم دا وو چي په ترکیه کي د مړیني د سزا قانون نافذ وو. چي بیا د ترکیې پارلمان د ۲۰۰۱ ع. کال د اکتوبر پر څلورمه دغه قانون لغو کړ. د اروپا دغه هیوادونه په امریکا کي د مړیني د سزا قانون ته د کرکي په سترګه ګوري او دا پر انساني حقونو باندي ستر تیری ګڼي.

یوا زي دغه خبره نه ده، بلکي لویه خبره لا داده چي د مړیني سزا نه دا چي لویو او له دماغي پلوه روغو کسانو ته ور کول کیږي، بلکي نابالغو مجرمینو ته (کوم چي د جرم د ترسره کولو په وخت کي کوچني وه) او هغو مجرمینو ته چي ذهني توازن یې سم نه وي، هم د مړیني سزا اورول کیږي. چي دا د انساني نړیوالو حقوقو څخه درنه سرغړونه ده.

بله خبره داده چي امریکا د کوچنیانو د حقوقو د تړون (Convention on the Rights of the Child) له منلو او لاسلیکولو څخه ډډه کوي. دغه تړون پر امریکا سربېره یوه بل هیواد چي صومالیه ده هم نه دی لاسلیک کړی.

امریکا د دغه تړون له منلو څخه ځله ډډه کوي ؟

د دې لامل دادی چي په دغه تړون کي راغلي دي چي تر اتلسو کالو د لږ عمر هلکان پوځ ته نه سي نیول کېدلای. په دې هکله د امریکا د دفاع وزارت دریځ دادی چي پوځ ته د اتلس کلنو هلکانو پر ځای د اوولس کلنو هلکانو شاملول ډېر آسانه دي. ځکه نو د اتلس کلنۍ قید سم نه دی.

بل که څه هم امریکا د ښځو د حقوقو نړیوال تړون (Convention on the Rights of the Women) لاسلیک کړی دی، خو تر اوسه یې هغه نه دی منلی. دا لا څه چي امریکا د ملګروملتونو د هغو هلو ځلو پرله پسې مخالفت کوي چي د ښځو میراث د هغو د ورثه وو حق جوتوي.

اروپایي هیوادونه د امریکا د پولیسو لخوا پر تورنو کسانو باندي د سختو ظلمونو او د امریکا په زندانونو کي د ناړو چلندونو له امله هم امریکا ته د کرکي په سترګه ګوري. د انساني حقوقو د څارني نړیوال سازمان امنیستي انټر نېشنل له دوو کالو څخه د امریکا لخوا پر انساني حقوقو باندي د تېریو پر ضد نیوکي کوي چي تر اوسه یې هم دا لړۍ د سختو نیوکو په کولو سره

روانه ساتلې ده. که څه هم د امریکا د پولیسو او زندانونو د چارواکو ریکارډ د پاکستان، هند، افغانستان یا د آسیا او افریقا د ډېرو هیواونو په شان نه دی خراب خو بیا هم د اروپا د معیارونو سره نه دی برابر.

د امریکا لخوا پر انساني حقونو باندي دغه تېري له ډېره مهاله تر سره کېدل، خو کوم څه چي په دې هکله حالات د لا زیاتي ورانۍ پر لور روان کړل هغه د ولسمشر بش بېلې بېلې پالیسۍ دي، چي نه داچي د چین او روس غوندي هیوادونه ځني ناخوښه دي، بلکي اروپایي هیوادونه یې هم په خښم او وارخطا کړي دي.

په دې وو کي د این ایم ډي(National Missile Defense) یعني د رونالډ ریګن د دورې د ډېر کړکېچن اس دي آی (Strategic Defense Initiative) یا د ستورو د جګړې (Star Wars) د پروګرام پیلول دي (کوم چي لومړی د ۱۹۸۳ع. کال د مارچ پر (۲۳)مه د امریکا د ټلوېزیوني چینلونو له لاري اعلان سو). بل د ټي ایم ډي (Theatre Missile Defense) د پرو ګرام اعلانول دي کوم چي له امله یې چین ډېر زیات اندېښمن دی. ځکه چي په دې پروګرام کي د تایوان د شاملولو خبري هم سوي دي. چي دا په ۱۹۷۲ع. کال د شوروي اتحاد او امریکا تر منځ د Anti-Ballistic Missile(ABM) تړون څخه د سر غړولو غوندي اقدامات دي.

بل هم د بش د ادارې لخوا د هوا د ککړتیا په خلاف د کیوټو د تړون د ردولو او نه لاسلیکولو خبري دي. (په فضا او سمندرونو کي د شین کوړک (ګلخانه یي ګازونو؛ Green House Gases ) خوشي کېدل انساني ژوندانه ته ډېر خطرناک ګڼل سوي دي. جوته سوې ده چي دا د هر وګړي ژوند متاثر کوي. اوس په نړۍ کي د شین کوړک ګازونو تر ټولو زیات رامنځته کوونکی او اخراجوونکی او د ککړتیا تر ټولو زیات خپروونکی هیواد امریکا ګڼل سوې ده. د دې بخولي د مخنیوي لپاره د کوششونو په لړ کي د نړۍ ډېرو هیوادونو د " کیوټو د پروټوکول" په نامه تړون لاسلیک کړی دی. خو یوازي امریکا پر دغه تړون لاسلیک نه کوي.

د دغو ټولو خبرو له امله وو چې په جنيوا کې د امريکې په خلاف داسې فضا رامنځته سوه چې په پايله کې يې امريکا د بشري حقونو د ادارې په غړيتوب ونه منل سوه. دغه راز دغه لاملونه وه چې دغه هيواد "د نشه يي توکو د کنټرول د بورډ" غړيتوب هم تر لاسه نه کړای سو.

له دغو دوو ادارو څخه د امريکا د ايستلو په چاره کې د درېيمې نړۍ پر هيوادونو سربېره اروپايي هيوادونو هم ستره ونډه درلوده.

په فرانسه کې د امريکا يو پخواني سفير فيلکس روهيټن په دې اړه د تبصرې په ترڅ کې وايي: "د اروپايي هيوادونو دغې روېې ته چې وکتل سي، داسې ښکارېږي چې هلته اوس داسې فکر پيدا سوی دی چې يوه کمزورې امريکا د اروپا د ګټو لپاره ډېره ګټوره ده".

د امريکا د دغه پخواني سفير دغه خبره سل په سل کې درسته ده. په پای کې بايي دا خبره هم په زړه پورې وي چې کله په جنيوا کې امريکا د انساني حقونو د ادارې د غړيتوب په تر لاسه کولو کې ناکامه سوه، دغه مهال د امريکا استازې شېرين طاهرخيلي وه. دغه ښځه که څه هم پاکستان توکمې ده، خو د فلسطينيانو په خلاف يې د اسرايلو د ظلمونو داسې ننګه کول لکه کوم امريکايي يهودي چې يې کوي.

## د ډالر او يورو جګړه

د امريکا او اروپا اقتصادي جګړه کېدای سي په اقتصادي اصطلاح د ډالر او يورو جګړه وبلل سي. څوک چې د لوټونو ( نوټونو، Notes)په دې جنګ کې بريالی سي هغه به پر نړۍ واک چلوي.

څنګه چې د نړۍ ولسونو د سوداګرۍ لپاره نړيوالې کرنسۍ ته اړتيا درلوده، نو اوپک په ۱۹۷۱ع.کال يو ژمنليک لاسليک کړ، چې د هغه له مخې ټوله نړيواله سوداګري په ډالرو سول. ځکه نو ډالر ډېر ژر تر ټولو اړين نړيوال سوداګريز لوټ سو. له دې موافق حالت څخه امريکا ښه ګټه واخيسته او اقتصاد يې ښه وغوړېدی. ځکه چې دې وضعې د دوی د ګټې پله ډېره درنه کړه. اوس نو هر هيواد اړ سو چې د تېلو د رانيولو لپاره ډالر

ولري. له دې امله امريکا په درو لسيزو کې د نړۍ تر ټولو ستر اقتصادي او پوځي ځواک وګرځېد.

دغه مهال په اقتصادي ډګر کې "اروپايي ټولنه" د امريکا اقتصادي مقابلې ته اړه سوه او په نړيوالو بازارونو کې يې د ډالر په مقابل کې خپله نوې کرنسي"يورو" راوايستل. خو پر دې نوې کرنسي باندې ټول اروپايي هيوادونه متفق نه سول. په ځانګړې توګه يې انګرېزانو ډېر مخالفت وکړ. خو د دې سره سره د يورو د پرمختيا دروازه هغه مهال پرانيستل سوه چې په دوه زرم کال عراق اعلان وکړ چې هغه د خپلو تېلو سوداګري په يورو تر سره کوي. د دې پرېکړې له امله د يورو ارزښت لوړ سو او د ډالر بيه شل سلنه را ټيټه سوه.

کله چې د امريکا مخالفو هيوادونو دغه حال وليد دايې د امريکا له اړتيا څخه د ژغورني ډېره غوره لار وګڼل. ايران او وينزويلا په دې فکر کې سول چې دوی هم د ډالر پر ځای يورو خپله تجارتي کرنسي وټاکي. ورپسې روس هم دغه لار ونيول. ټايوان د خپلو پيسو له زېرمو څخه شل مليارده ډالر په يورو بدل کړل. ځينو نورو هيواودونو هم دغه لار واخيسته. څنګه چې يورو شهرت وموند د امريکا کينه يې را وپارول او تجارتي کمپنيو ته يې خرخښه ولوېده. هغو دا چاره په څنګله کې داسي اور وګاڼه چې د امريکا ويجاړ اقتصاد به په څو کلونو کي په ايرو واړوي.

درسته ده چې نن مهال امريکايي ډالر نړيواله کرنسي ده، خو د ا کرنسي داسي سوې ده لکه پړسېدلې بوغۍ. هر څونه چې د دغې کرنسۍ غوښتنه زياتيږي، هغونه د امريکا د لوټ چاپولو د مشينونو آوازونه پورته کيږي. دم ګړی دا کرنسي صرف له دې امله پياوړې ده چې نړيواله کرنسي ده، که نه حقيقت دادی چې د امريکا د حکومتونو د ناسمو پاليسيو له امله پر دې هيواد باندي پورونه دونه زيات سوي دي چې اوس امريکا د نړۍ تر ټولو ستر پوروړی هيواد دی. په امريکا کي چې هر کوچنی زيږي دوولس زره ډالر پوروړی وي. چې دا حالت د ارجنټاين تر حالت هم ډېر نازک دی.

کوم چې له دې امله ډېر وختونه د سترو مظاهرو او شخړو شاهد وي.
له دې امله دی چې د امريکا پر دغه ناوړه اقتصادي حالت باندي د دغه هيواد د ۲۰۰۸ ع. کال د ولسمشرۍ د ټاکنو په مبارزو کې تاوده بحثونه کيږي او د امريکا او نړۍ د خلکو اندېښني يې را پارولي دي.

که څه هم د تېلو توليدوونکو هيوادونو، يعني د اوپک غړو يوروته دونه پام نه دی اړولی، خو امريکا ته خرخښه ورلوېدلې ده چې که د تېلو د سوداګرۍ لړ برخه هم په يورو سي، نو سمدستي به درې بمونه د امريکا اقتصاد دړي وړي کړي. دغه درې بمونه دادي:

۱. اروپايي هيوادونه به د "يورو زون" جوړولو ته وهڅيږي. په دې توګه به يورو نوره هم پياوړې سي او ژر يا وروسته به د تېلو توليدوونکو هيوادونو په شمول ټول هيوادونه د ډالرو پر ځای يورو نړيواله کرنسي وټاکي.

۲. ډالر به د نورو هيوادونو څخه بېرته امريکاته ورسي، چې په دې توګه به د ناچلو نوټونو غوندي سي. له دې امله به په ملک کې د پيسو پاړسوب دونه سي چې د دې هيواد د اقتصاد د بېړۍ ډوبېده به حتمي وګرځي او د امريکا برخليک به کټ مټ د شوروي غوندي سي.

۳. په نړيوالو بازارونو کي به ګډوډي رامنځته سي او له امله به يې امريکايي ډالر له آسمانه مځکې ته را پرېوزي.

ځکه نو د دې بېروونکو توپانونو په ليدو سره د امريکايي واکمنو او پانګوالو ورنونه په رېږدېدو سي. کله چې صدام حسين د عراق د تېلو پېر او پلور په يورو کړ. امريکايانو ته د دې خطرناک دښمن د له منځه وړلو پلمه پيدا سوه او د هغه د سزاورکولو لپاره يې وپتېيل چې پر عراق يرغل وکړي.

په امريکا کي د تېلو څهان ډېر لږ دي او هغه يې هم د نازک وخت لپاره بند کړي دي. خو لکه چې څرګنده ده د امريکا اقتصاد پر تېلو ولاړ دی، ځکه نو هغو پرېکړه وکړه چې په هره بيه کيږي پر عراق تېری وکړي، څو له يوې خوا د عراق د تېلو نه وچېدونکي چينې په لاس ورسي او له بلې خوا د يورو بريالی وړاندي تګ سست کړي. پر عراق باندي تر پوځي يرغل

وروسته داسې کړنلار عملي کیږي چې امریکایانو ته لاندې ګټې لري:

۱. له امریکا څخه به په نړۍ کې تر ټولو ستر اقتصادي او پوځي ځواک جوړ سي.

۲. د عراقي تېلو پېر او پلور به په ډالرو سي. په دې ډول به بیا هم ډالر ترټولو ځواکمن نړیوال لوټ پاته سي.

۳. امریکا ته به د دوی د اړتیا وړ، بلکې د صادرولو لپاره ډېر تېل په آسانې سره په لاس ورسي.

۴. امریکا به په عراق کې پراخې پوځي اډې لري، چې نه یوازې به ګاونډي هیوادونه، بلکې اروپا به لا تر ګواښ لاندې راولي او له تېلو څخه پر ډک منځنې ختیځ به واک چلوي.

۵. د اروپایي ټولنې او یورو پر مختیا به هم متاثره سي.

۶. اسرایل به نور هم پیاوړي سي او د فلسطینیانو په وړاندې به یې ځواک غښتلی سي.

۷. که امریکا د کوم بل هیواد سره جګړه کوي ستري ورانوونکي وسلې به یې وازمویل سي. د وسلو سوداګري به یې هم پر مخ ولاړه سي. د امریکا د وسلو زراد خانې به نوري هم پر چلېدو راسي او نوري نوي وسلې به جوړې کړي.

امریکا دغه مهال په نړۍ کې د خپل ځان د خپل سري ځواک جوړېدو لپاره په سپین سترګې سره د بې ګناه ولسونو وینې بهوي. که په دې لار کې د زرګونو مظلومو انسانانو وینې توی سي دوی په خوشاله کیږي. خو پر نړۍ باندې د واک ټینګولو خوب لیدونکو ته دې معلومه وي چې وروستی بری هرو مرو د حق د پلویانو دی.

# لوی څښتن پتېیلې ده چې امریکا هم په افغانانو له پار کاله واچوي

هرځه لوی څښتن ﷻ کوي. بې شکه چې لوی څښتن پر هر څه قادر دی او چې خوښه یې سي د هر چا هر رنګه ستونزه چې وي هغه قادر ذات

يې ور اواروي. خو لکه څنګه چې دا دنيا محل الاسباب ده خداى تعالى هر څه ته يو سبب پيدا کوي. داسي ښکاري چې لوى څښتن اراده کړې وي چې د امريکا د ظلم وزور امپراتوري هم د افغانانو پر لاس ړنګه کړي. لکه چې پوهيږو لوى څښتن د انګريزانو د هغې امپراتورۍ د راپرزولو لپاره چې لمر يې په تر ښکېلاک لاندي هيوادونو (مستعمرو) کي نه ډوبېدى هم د افغانانو همت او مړانه سبب کړه. بيا موږ وليدل چې لوى څښتن د شوروى د سره ښکېلاک زبر ځواکه امپراتوري هم په افغانانو دړي وړي کړه. اوس داسي ښکاري چې الله جل عظمته د نړى او د افغانستان د کفره وو او فجره وو قبرستان او د امريکا د توري امپراتورۍ د تاريخ کندي ته د اچولو ځاى هم افغانستان ټاکلى وي.

په نړۍ کي ډېر هيوادونه ليدل سوي دي چې پرمختيا او خوشالي ور په برخه سي، و يې نه سي سهلاى. ځکه نو د يوه بې واکه ملک سره زور وهل پيل کړي. پلمې ډېري او ډول ډول وي. ځيني پر نورو هيوادونو باندي د حق ناحقه ادعا وکړي. څوک د سولي او سوسياليزم او طبقاتي مبارزې تر شعار لاندي پر بل هيواد تېرى وکړي. څوک د دموکراسۍ د پلي کولو، آزادۍ، سولي ساتلو، د تروريزم د خطر او نړيوال امنيت د ټينګولو پلمې وتراشي او د بل خپلواک هيواد پر حريم تربري، لاسوهني او ډول ډول مصايب وتپي. لکه چې پوهيږو او د تاريخونو پاڼي کيسې راته کوي له لويه سره خداى تعالى د دغسي ځواکونو د پوپنا کولو او د هغو د غرور او نخوت د ماتولو اراده کړې وي او دا چاري ور ته يو سبب وګرځوي.

اوس څنګه چې د امريکا د متحدو ايالتونو خلکو په خپل هيواد کي سوله، آرامي، سمسورتيا او خوښي او ښه ژوند نور نه سي سهلاى او تر حد تېر لويي او تکبر ځني کيږي او واکمن يې پر ټوله نړۍ باندي د خپل واک چلولو او کفري پرتم پلي کولو په فکر کي سوي دي، نو داسي ښکاري چې د دوى په هکله هم لوى څښتن اراده کړې وي چې د نورو دغسي متجاوزينو غوندي يې د افغانانو سره په جګړه اخته کولو سره مات او ټوکر ټوکر کړي.